# د پښتنو د شجرې تاریخي رېښې

## (د بني اسرائیلیت په اړوند)

لیکوال:

زمری محقق

>

# د پښتنو د شجرې تاریخي ریښې

[د بني اسرائیلیت په اړوند]

**لیکوال:**

**زمری محقق**

خپروونکی: **علامه رشاد خپرندویه ټولنه** - کندهار

کمپوز او ډیزاین: **روهیال کمپیوټر اداره** - کندهار

د پښتۍ ډیزاین: **حسیب الرحمن ساحل**

د چاپ کال: ۲۰۲۰ع (۱۳۹۸ش)

چاپ شمېر: ۵۰۰ ټوکه

د مخونو شمېر: ۱۳٦

د خپرونو لړ: ۱۱٤

---

تلیفون: ۰۷۰۰۳۲٦۰۱۱

ایمیل: mrohyalα_Πβ@gmail.com

---

**ټول چاپي حقو ...وونکي اړه لري!**

## اهداء:

دا کتاب هغو دوو وطنپالو شخصیتونو ته ډالۍ کوم

چي زما په تربیه، روزنه او تنویر کي ئې زیاته ونډه لرلې ده:



مرحوم محمد علم بڅرکی



مرحوم محمدظاهر افق

# د خپروونکي یادښت

زموږ په تاریخونو کي د پښتنو د اصل و نسب په باب یوه خیالي کیسه مشهوره ده، چي د دې قام بنیاد بني اسرائیلو ته رسوي. د دې کیسې لومړي څرکونه د نورزي نعمت الله هروي له مخزن افغاني څخه راښکاره سوي دي.

د وخت په تېرېدو سره د نعمت الله هروي افسانې موافق او مخالف مؤرخین پیدا کړي دي. موافقینو ئې د نعمت الله هروي افسانه تازه کړې او د دې افسانې د منلو له پاره ئې دلایل تراشلي دي خو مخالفینو ئې د خپلو تحقیقاتو پر اساس د دې افسانې کوټلی رد وړاندي کړی دئ او پښتانه ئې آریاییان بللي دي.

د ښاغلي زمري محقق حاضره څېړنه د دغه ډول نظریاتو د څېړلو له پاره ځانګړې سوې ده، د افسانې په رد او د آریاییتوب په تائید کي ئې خپل تحلیل هم ملګری کړی دئ. د ښاغلي محقق دغه هڅه به د پښتنو د اصل و نسل پېژندني په باب یوه اضافه وبولو او د دې موضوع د نوري روښانتیا له پاره به له څېړونکو او محققینو سره تر خپله وسه همکاري وکړي.

علامه رشاد خپرندویه ټولنه ښاغلي محقق ته د دې اثر د چاپېدو مبارکي وایي او د نوو تحقیقاتو په لاره کي دې کوښښ ته د قدر په سترګه ګوري.

**مننه او درناوی**

# فهرست


1. د ښاغلي ډاکتر لطیف یاد تقریظ/ ۷
2. د ښاغلي عبدالعلي رسولزاده تقریظ/ ۱۲
3. د پیل خبري/ ۱٤


## لومړی څپرکی


4. د پښتنو د نسب په اړوند د بني اسرائیلیت نظریه/ ۱۸
5. آیا پښتانه بني اسرائیل دي؟/ ۲٤
6. د قیص عبدالرشید کیسه/ ۲٦
7. د پښتنو شجره (د بني اسرائیلیت په اړوند) د بهرنیو څېړونکو څرګندوني/٤٤


## دوهم څپرکی


8. د پښتنو نسب د ژبنیو څېړنو په رڼا کي/ ٥٨


## دریم څپرکی


9. د پښتني قبایلو مهاجرتونه او لېږدوني/ ۸۰


## څلورم څپرکی


10. پښتانه او اسلام/ ۹۸

11. په افغانستان کي اسلام څه وخت او څنګه خپور سو؟/ ۹۸

12. د اسلام مبارک دین په زور او که په خوښه خپور سوی دئ؟/ ۱۰۲


## پنځم څپرکی


13. د ډنمارکیانو اجداد لرغوني افغانان دي/ ۱۰۷

14. د پای خبري/ ۱۱۵

15. د لیکوال (زمري محقق) لنډه پېژندنه/ ۱۱۹

16. د وخت له سیاستوالو سره لیدني کتني/ ۱۲۲

**17.** ماخذونه/ ۱۳٤

# (د پښتنو د شجرې تاريخي ريښه او د بني اسرائيليت اند)

# پر کتاب زما يو څو خبرې

د پښتنو د شجرې تاريخي ريښه او د بني اسرائيليت اند د هغه کتاب نوم دی چې په دې وروستيو وختونو کې زموږ د هيواد تکړه څېړونکي او د پراخې علمي مطالعې خاوند ښاغلي زمري محقق د خپلو علمي څېړنو پر بنسټ ليکلی دی او په دغه برخه کې يې ډېر علمي اثار مطالعه کړي او لوستلي دي. د کتاب ليکوال د هغو ليکوالانواو پوهانو نظريات راوړي دي چې د پښتنو د اصل او نسب په اړوند د دوو بېلابېلو نظريو خاوندان دي. يو د هغو پوهانو، تاريخ ليکونکو او ختيځ پېژندونکو نظريات دي چې پښتانه بني اسرائيل بولي او د يهودانو له لسو ورکو شوو قبيلو نه يې شمېري او يا يې هم د نړۍ په نورو قامونو او قبيلو ورتړي او ورګډوی يې. دويم يې د هغو پوهانو او ختيځ پېژندونکو نظريات راوړي دي چې هغوی د دغې لومړنۍ نظريې سره مخالفت کوي او په دې اند دي چې پښتانه آريائيان دي او ژبه يې هم هندو - اروپايي يعنې آريايي ژبه ده او د ژبې د قواعدو پر بنسټ هم له عبري ژبې سره چې د يهودانو ژبه ده کوم اړخ نه لګوي.

لکه چې آغلو او ښاغلو لوستونکو ته به جوته وي چې بېلابېلو تاريخپوهانو او توکم پېژندونکو د پښتنو د اصل او نسب او په بني اسرائيلو او نورو قامونو پورې د هغو د تړلو په اړوند بېلابېل او ګډوډ نظريات وړاندې کړي دي چې ځينې پکې پښتانه د مصر د قبطيانو اولاده ګڼي، څوک يې بني اسرائيل بولي، څوک يې ارمنيان، څوک يې يونانيان، تاتاريان، هپتاليان او ساکان، څوک يې بابليان جټان، ترکان، عرب او څوک هم دوی د هندي راجپوتانو اولاده ګڼي او ان ځينو نورو متعصبو ليکوالانو په خپلو ليکنو کې پښتانه د ديوانو او شيطانانو اولاده ګڼلې ده او د دوی ژبه هم د ديوانو او دوزخيانو ژبه بولي چې څومره پوچه، خيالي، د خندا وړ او بې بنسټه خبره ده.

همدا راز د پښتنو د بني اسرائيليت د نظريې په اړوند هم ډېر کتابونه او مقالې ليکل شوي دي او هم په ټولنيزو رسنيو او سوشل ميډيا کې ډېرې ويډيو ګانې او ليکنې هم خپرې شوي دي چې د پښتنو اصل او نسب بني اسرائيلو ته منسوب کړي او په هغو پورې يې ورونښلوي چې دا کار نه يوازې پښتنو ليکوالانو او توکمپوهانو کړی دی بلکې ډېرو ختيز پېژندونکو او اروپائيانو هم او يو شمېر دغرض خاوندانو هم په تېرو او هم په اوسني وخت کې کړی دی او د پښتنو د اصل او نسب په اړوند يې ګڼې وډې او بې بنسټه ليکنې کړي دي او کوي يې او په دې اړوند يې ډېرې خيالي افسانې هم راوړي دي چې پښتانه کله په يو چا او کله هم په بل چا او کله هم په يوه نسل او توکم او کله هم په بل نسل او توکم پورې وتړي. دغه د تاريخ او توکم پوهنې او اتنوګرافۍ د علم نه ناخبره تش په نامه ليکوالان پر هغو بې بنسټه ليکنو هم تکيه کړې ده چې د ژبپوهنې او اتنوګرافۍ له اصولوسره اړخ نه لګوي.

هغو ليکوالانو او تاريخپوهانو چې په خپلو پخواني کتابونو کې يې پښتانه بني اسرائيلو ته منسوب کړي دي پکې د مخزن افغاني ليکوال نعمت الله هروي، د آئين اکبري ليکوال ابو الفضل علامي، د تذکرة الابراروالاشرار ليکوال آخوند درويزه او هم ځينې پښتانه تاريخپوهان او نسب پېژندونکي لکه د پښتنو د تاريخ ليکوال قاضي عطاءالله خان، د خلاصة الانساب ليکوال حافظ الملک حافظ رحمت خان، د صولت افغاني د تاريخ ليکوال زردار خان ناغر، د تاريخ مرصع ليکوال افضل خان خټک او د افغانانو د نسلي تاريخ د کتاب د ليکوال خان روشن خان نومونه يادولی شو.

همدا راز په اروپايي ختيز پېژندونکو (مستشرقينو) کې جيورج روز، ويليم موګرافټ، ميسن چارلز، سر ويليم جونز، اليکزينډر برنس او راورتي هم د يادونې وړ دي چې هغوی هم په همدې نظر دي چې پښتانه يهوديان دي، خو بيا قاسم هندوشاه په تاريخ فرشته او زين الدين احمد په رساله انساب افاغنه کې دوی قبطيان بللي دي.

همداراز اسرائيلی نسب پېژندونکي او ځيني يهودي ليکوال هم دا هڅه کوي هم دا چې وښيي چې پښتانه د يهودو له نسله دي. د بيلګې په توګه کوګان ليکي، پښتانه د افغانستان او پاکستان په غرونو کې له زرګونو کلونو راهيسې ميشت دي، سره له دې چې پښتانه مسلمانان دي، خو دوی بيا هم د پښتونولۍ په نامه قانون کې ژوند تېروي،

هغه قانون چې د حضرت موسی (ع) یا (موسایي قانون او شریعت) سره ورته والی لري.

دی لیکي چې: ځینې پښتنې دودونه چې د مسلمانانو په منځ کې عام نه دي، خو په یهودیت کې ریښې لري، لکه په اتمه ورځ د ماشوم ختنه یا سنتول، د جمعې په شپه د شمعو لګول، د ورور کونډې سره نکاح او داسې نور.

دوی په دې اړوند ډیرې ویډیوګانې هم خپرې کړي دي او د آی ټرایب په نامه د دوی یو سازمان د پښتنو په ګډون د ورکو شویو قومونو په اړه کار کوي او غواړي چې د یهودو د تبعید شویو قومونو تر منځ د اړیکو پلونه جوړ کړي.

په پښتنو تاریخپوهانو کې چې پښتانه د بني اسرائیلو اولاده نه ګڼي د اروا ښاد پوهاند عبد الحي حبیبي، اروا ښاد پوهاند عبدالشکوررشاد، د پښتانه د تاریخ په رڼا کښې د کتاب لیکوال اروا ښاد ظفر کاکاخېل، اروا ښاد استاد احمدعلي کهزاد او همدا راز په اروپایي لیکوالو او ختیځ پېژندونکو کې د مونټ سټوارټ الفنسټن او ډورن نومونه اخیستلی شو چې په خپلو لیکنو کې دا نظریه رد کړه چې ګڼې پښتانه دې بني اسرائیل وي.

د پوهانو هغه ډله چې د پښتنو د بني اسرائیلیت نظریه مردوده بولي په حقیقت کې دوی د ژبپوهنې په رڼا کې دغه نظریه ردوي او د بطلان کرښه پرې راباسي چې دا نظریه د هغې نظرېې په پرتله چې پر افسانو او کیسو ولاړه ده معتبره، علمي او پیاوړې نظریه ده.

د دغې دویمې نظرېې پلویان چې زه یې هم تائیدوم په دې اند دي:

۱- پښتانه آریائیان دي او د دوی ژبه پښتو د هندواروپایي یا آریایي ژبو نه ګڼل کېږي او پښتو ژبه د سنسکریت اوستا خور ده.

۲- پښتو ژبه د نحوي قواعدو او اصولو او ګرامر له مخې یوه آریایي ژبه ده او له سامي ژبو نه چې عبري هم پکې راځي او د یهودو ژبه ده هیڅ ورته والی نلري.

۳- د پښتنو نوم په لرغونو ویدي سرودونو کې په څرګنده او ښکاره توګه د پکهت په نامه راغلی دی او هیواد یې هم د پکتیکا او پکهتویس یا د پښتنو د ټاټوبي نامه یاد شوی دی.

۴- په بایبل او اولډ تیسټمینټ (تورات) کې د افغان د کلمې هیڅ یادونه نه

ده شوې چې دا د مخزن افغاني او د هغو کسانو نظر ردوي چې وايي د افغان په نامه د حضرت سليمان د پيغمبرۍ په وخت کې د ساول پاچا چې په طالوت سره هم مشهور دی لمسی او د ارميا زوی و.

۵- موږ د مخزن افغاني د بې بنسټه ليکنې پرته چې کوم ماخذونه او حوالې هم نه لري. داسې ډېرليک او بله کومه تاريخي ليکنه نه ده موندلې چې دا ثابته کړي چې پښتانه دې د بني اسرئيلو اولاده وي. حال دا چې د آريائيانو سره د پښتنو د اړيکو په اړوند ډېر تاريخي اسناد شتون لري.

۶- که چيرې پښتانه د يهوديانو له نسله وای نو په اوسنی پرمختللې نړۍ کې چې

د انسانانو دې. ان. اې ټيسټ چې يو ه ډېره ساده خبره ده دا مساله به لا د ډيرې پخوا نه ثابته شوې وای.

د پورتنيو دلايلو پر بنسټ پښتانه په بني اسرئيلو پورې تړل يوه د خندا وړ خبره ده او کوم علمي بنسټ نه لري.

زه په پای کې د هيواد تکړه ليکوال او څېړونکي ښاغلي زمري محقق صاحب ته چې زه يې له ډيرو کلونو را پدېخوا پېژنم او د افغانستان د علومو په اکيډيمۍ کې مو يو ځای سره علمي کارونه کول او د ده د علمي ليکل شوو کتابونو او مقالو سره په بشپړه توګه آشنا يې لرم د دغه علمي اثر د ليکلو مبارکي وايم چې ده دغه په زړه پورې اثر په پنځو څپرکو کې ليکلی او د پښتنو د نسب دبني اسرائيليت په اړوند يې د دوو بېلابېلو نظريو او سوچونو د پوهانو نظريات راوړي دي او هم يې پښتانه د ژبني څېړنو په رڼا کې څېړلي دي او د دوی د مهاجرتونو په اړوند يې هم ګټور معلومات وړاندې کړي دي. لوی خدای دې د ده پر قلم برکتونه کښېږدي چې موږ ته دغسې نور ګټور علمي آثار هم وليکي.

په ډېر درنښت

ډاکټر لطيف ياد

لوېديزه آستراليا – د پرت ښار

د۲۰۲۰لېږديز/ميلادي کال د جنورۍ د مياشتې يوولسمه نېټه

# د تقریظ په بهانه

د «پښتنو د شجرې تاریخي ریښې» نومی کتاب چي د ښاغلي زمري محقق د اوږدې مودې کار او زحمت ثمره ده په دې وروستیو وختونو کي ګوتو ته راغلی، د یوه ځغلنده نظر په ترځ کي مي دا درک کړه چي په دې لیکنه کي چي له زیاتو معتبرو ماخذونو څخه ګټه اخستل سوې ده په تېره بیا د نن ورځي د ځوان نسل او د خپل تاریخ او فرهنګ سره د مینه والو له پاره د اړتیا وړ کټور معلوماتي اثر دئ.

په تېره بیا په دې وروستیو وختونو کي چي له څه مودې راهیسي د پښتنو د ریښې پر سر د خلکو تر منځ خبري پورته کښته کیږي. ځیني خلک پښتانه د بني اسرائیلو له پښته او ځیني ئې اریایي قام ته منسوب بولي، د اثر اهمیت لا هم زیاتوي.

په کتاب کي نه یوازي دا چي له ډېرو معتبرو منابعو څخه د اوږدې مودې څېړني په نتیجه کي ګټه اخیستل سوې او د لوستونکو د قضاوت ډګر ته وړاندي سوی دئ بلکي د لیکوال د شخصي یاداښتونو په مرسته یو لړ ناحله پوښتنو ته جوابونه هم ویل سوي دي.

په کتاب کي د پښتنو د شجرې په اړوند د بني اسرائلیت د اړخ پر څېړلو او سپړلو ډېر ټینګار سوی دئ، داسي ښکاري چي د کتاب اصلي زنی او محتوی همدغه مسئله جوړوي.

د دې اثر د لیکلو انګېزه ښایي دا هم وي چي په دې وختونو کي د فېسبوک په شمول په زیاتره رسنیو کي دا پوښتنه پورته او کښته کیږي چي آیا پښتانه بني اسرائیل دي؟ لکه یو شمېر زیات په تېره بیا بهرني څېړونکي او مؤرخین چي د افغانانو شجره په اسرائیلو پوري تړي. د بېلګي په توګه تر ټولو زوړ سند چی پښتانه بني اسرائیل ګڼي هغه د ابوالفضل (آئین اکبري) اثر دئ چي په ۱۵۹۷ – ۱۵۹۸ کلونو کي کښل سوی دئ. ابوالفضل لیکی: "افغانان د اسرائیلو اولاده ده او زیاتوي چي پښتانه په دې عقیده دي

چي ډېر لیري نیکه ئې چي (افغان) نومېدی درې زامن لرل چي عبارت له سړبن، غرغښت او بیټ څخه وه." دی دا هم وایي چي غلجي، لودیان او نیازي د یوه عنعنه یي روایت پر اساس له بلي پښې نه دي. اخوند درویزه هم په خپل یوه اثر (تذکرة الابرا والاشرار) کي افغانان د مهتر یعقوب اولاده ګڼي. دغه راز نعمت الله هروي په خپل یوه نامتو اثر (تاریخ خان جهان و مخزن افغانی) کي په تفصیل سره د پښتنو د شجرې اساس بني اسرائلیت ګڼي. برسېره پر دې یو شمېر زیات بهرني څېړونکی لکه جونز، برنز، ویلیم مورګرافت او داسي نور، په کلکه دا اند تائیدوي چي پښتانه اصلاً بني اسرائیل دي.

نو د دغي مسئلې د څېړلو او هغو پوښتنو ته د مقنع ځوابونو د موندلو له پاره څېړنیزي هڅي نه یوازي اړیني بولم بلکي د څېړونکو اساسي دنده او رسالت ئې ګڼم.

زما په اند تکړه لیکوال او ژورنالیست ښاغلي زمري محقق چي یو زیات شمېر ژباړي او لیکني ئې کړي دي، دا رسالت تر یو حده په ښه توګه تر سره کړی دئ. خو په دې کي شک نسته چي هیڅ یوه لیکنه او څېړنه په بشپړه توګه درسته او له نیمګړتیاوو پرته نه سي تر سره کېدای. نو په دې لیکنه کي به هم بې له شکه نیمګړتیاوي موجودي وي چي ښایي په راتلونکي کي د نظر څښتنان د لا زیاتو څېړنو په نتیجه کي د کره اسنادو او شواهدو په مرسته، د نوي علم او تکنالوژۍ لکه جینولوجي، کاربن چهارده او نورو په کومک اصلاح سي.

په پای کي ټولو هغو کسانو ته چي د خپل هیواد تاریخ، شجرې او فرهنګ سره مینه لري، د دې کتاب د لوستلو سپارښتنه کوم.

**استاد عبدالعلي رسول زاده**

وم ړفیق

## د پیل خبري

دې کي شک نسته چي د پښتو او پښتنو د تاریخي ریښو په هکله له ډېر پخوا راهیسي

یو شمېر پوښتني او ناڅرګند فصلونه موجود دي چې د تاریخ لیکونکو او څېړونکو تر منځ ئې د نظر بېلتون رامنځته کړی او لا زیاتي څېړني ته اړتیا لري. په دې لنډه رساله کې به د خپل توان او امکاناتو تر بریده هڅه وکړم چې د تاریخ پوهانو د اندونو په مرسته او د هغوی د څېړنو په رڼا کې، د پښتنو د تاریخ په تېره بیا د هغه نظر په اړوند چې وايي پښتانه بني اسرائیل دي، د څېړنو په سمندر کې د یوه څاڅکي په توګه، څه ناڅه ستاسي سره شریک کړم.

د دې لیکني اصلي انګېزه او هدف دا دئ چې په دې وروستیو وختونو کې په ټولنیزو رسنیو کې په پراخه پیمانه د پښتنو د اصل او نسب د تاریخي ریښو په تېره بیا د هغوی شجره د بني اسرائلیت په اړوند، زیاتي او یو له بل سره متناقضي لیکني او څرګندوني سوي دي او په رښبیا سره زموږ یو شمېر کورني او دباندني مؤرخین او څېړونکي په دغه هکله لا تر اوسه د نظرونو یووالي ته نه دي رسېدلي. ځکه نو زه و دې ته وهڅېدلم چې په دغه باب تر خپل توان پوري، د څېړونکو نظرونه راټول او پرتله کړم او یا هم لږ تر لږه د هغو څېړونکو نظرونه چې د پښتنو نسب له اسرائیلو څخه بولي او یا هغوی چې د دې نظر په خلاف دلایل او څرګندوني لري، سره راټولي او لوستونکو ته وړاندي کړم، څو چې دوی په خپله مسایل د خپل عقل په ترازو کې سره پرتله او ارزیابي کړي، څو د دې لوی قوم د نسب او شجرې په هکله د رښتیني قضاوت پر بنسټ واقعي نتیجه تر لاسه کړي.

څرګنده ده چې د پښتنو د نسب، قبیلوي جوړښت، قبیلوي اړیکو او خپل منځي روابطو په اړوند د نړۍ په ګوټ ګوټ په تېره بیا په هند کې په دري، پښتو، اردو، انګلیسي او حتی عربي ژبه ډېر زیات کتابونه لیکل سوي دي. خو له بده مرغه دغه رنګارنګ څرګندوني او آثار چې یو له بل سره اړخ نه لګوي له سرې څخه بیخي لاره ورکوي. لوېدیځ څېړونکي هم تر زیاته حده د ختیځو څېړونکو د لیکنو تر اغېز لاندي راغلي او د هغوی د تحقیقاتو پر بنسټ ئې داسي څرګندوني کړي چې ډېري پوښتنی پکښې ناحله پاته او زیاتي څېړني ته اړتیا لري. د همدې اړتیا په پام کې نیولو سره مي په دغه هکله، د یو څو پاڼو د تورولو هڅه او تلاښ کړی دئ که څه هم د دې موضوع هراړخیزه څېړنه زیاتي مطالعې، څېړني او ماخذونو ته اړتیا لري چې د مهاجرت په

شرایطو کې چې د وخت او ماخذ قلت احساس دئ، نو بې له شکه به دا لیکنه له نیمګړتیاوو خالي نه وي خو زه په دې عقیده یم چې تر نه څه، نیمکړې لیکنه هم غنیمت ده.

دا هم یو منل سوی حقیقت دئ چې په تېره بیا د معاصر تاریخ په دوران کې کله چې د ناسیونالیزم افراطي ناروغي پر اروپا باندي غلبه مومي نو لیکوالان او څېړونکي ئې هم په داسي لیکنو لاس پوري کوي چې هر څه ئې د پانګوالي رژیمونو له ګټو سره سمون ولري او د ملي روحیې تر نامه لاندي ټوله ښېګڼې په خپلو هیوادونو پوري او ناخوالي په نورو پوري تړي. لوېدیځ د تمدن او فرهنګ همېشنی مرکز او ختیځ د تل له پاره وحشي او د مدنیت دښمن ګڼي، په داسي حال کي چې ختیځ یو وخت د نړۍ د لرغونو تمدنونو زانګو وه څرنګه چې افغانستان هم له دې فرهنګي یرغل څخه مستثنا کېدای نه سي ځکه نو د تاریخي مسایلو په لیکلو کي باید هر څه په پټو سترګو و نه منو، بلکي د اسنادو او شواهدو پر بنسټ ئې وڅېړو څو درست له نادرست او معقول له نامقعول څخه بېل کړو.

لکه چې وویل سوه ځیني وختونه د تاریخ لیکونکي هغه کسان وي چې د دربار له نیاز او نعمت څخه برخوردار او د هغه وخت د چارواکو له ګټو او میل سره سمې لیکنې کوي. د دا ډول لیکنو څرګنده بېلګه د تاریخ احمدشاهي لیکوال محمود المحسني المنشي دئ چې احمدشاه بابا په خپله ټاکلی او کتاب هم د احمدشاه بابا د غوښتني سره سم پیل سوی دئ. لکه ښاغلی عبد الباري جهاني چې لیکي: "دغه تاریخ د احمدشاه بابا د سلطنت په شپږم او اووم کال پیل سوی او د تېمورشاه تر باچا کېدو پوري ئې دوام کړی دئ. خو په هغه کتاب کي کله کله د داسي مبالغه امیزه ارقامو سره مخامخ کېږو چې په هیڅ توګه د منلو وړ نه وي او یا داسي کیسې راوړل سوي دي چې یوازی د نکلونو او کتابونو په درد لګیږي. مثلاً د کتاب لیکوال محمود الحسیني منشی لیکي چې: کله محمدشاه ګورګاني پر هند باندي د احمدشاه دراني د حملې کولو له نیت څخه خبر سو نو خپل زوی شاهزاده احمد ئې له څلور سوه زره سپرو او پیاده پوځونو سره د هغه سر ه د مقابلې له پاره راواستاوه. حسیني لیکي چې شهنواز خان (د لاهور حکمران) د احمدشاه بابا سره د مقابلې له پاره یوازي نیوي زره سپاره پوځیان او دوولس زره

توپونه تیار کړل او دوه درې زره توپونه ئې د لاهور پر برجونو او قلا باندي ودرول."
(تاریخ احمدشاهي محمود الحسیني المنشي: ص ۴۰ . ۴۱).

اوس نو که د شهنواز خان له نیوي زره عسکرو سره دوولس زره توپونه وي چي هرو اتو عسکرو ته یو توپ رسیږي نو د شهزاده احمد له څلور سوه زره عسکرو سره خو باید پنځوس زره توپونه وي. په داسي حال کي چي هند او افغانستان به په دواړو دوه زره توپونه نه درلودل. د هند د مغلو په تاریخ کي، د جلال الدین اکبر او شاه جهان د دکن او کندهار په ځېر لویو جنګونو او لښکرکښیو کي د ډهلي د پوځونو شمېر هیڅ وخت سلو زرو ته رسېدلی نه دئ او یا لږ تر لږه تر سلو زرو زیات سوی نه دئ. د احمدشاه بابا سره د پاني پت په جنګ کي چي د ده د ژوند تر ټولو لوی او ځلانده جنګ وو، د زرو توپچیانو او دریو زرو توپک لرونکو په شمول، شپېته زره عسکر ورسره وه. په مقابل کي د مرهټیانو د قواوو شمېر پنځه څلوېښت زره تنه ګڼل سوی دئ." (جهانی عبدالباري، تاریخي څېړني: ۲۲ مخ)

نو زما په لیکنه کي به موږ د یو شمېر داسي موضوعاتو سره مخامخ سو چي د شک په سترګه ورته کتل کېدای سي خو تر وسه وسه زیار ایستل سوی دئ چي د څېړونکو او تاریخ پوهانو نظرونه د هغوی د لیکل سوي متن په استناد، لوستونکو ته وړاندي کړم او له خپل عندی قضاوت څخه تر ډېره حده ډډه وکړم څو لوستونکي د څېړونکو د نظرونو پر بنسټ د خپل عقلي ترازو په مرسته وکړای سي چي تور او سپین سره بېل کړي.

باید وویل سي چي د دې موضوع په اړوند یو شمېر زیاتو بهرنیو ختیځ پېژندونکو او د هیواد وتلو مؤرخینو لیکني او څېړني کړي دي چي زیاتره ئې د دې اثر تر لیکلو پوري زما ګوتو ته نه دي راغلي هیله من یم چي په راتلونکي کي د قلم څښتنان، مؤرخین او څېړونکي په دغه هکله نور تحقیق وکړي څو د موضوع ناحله اړخونه نور هم پسي روښانه سي.

ومن الله التوفیق

# لومړی څپرکی

**د پښتنو د نسب په اړوند د بني اسرائیلیت نظریه:**

د اصل او نسب سلسله د تاریخ په اوږدو کې د ټولنیزو اړیکو د ودې سره سم پراختیا او پرمختیا موندلې او تر بېلابېلو پړاوونو راتېر سوی چې اوسني حالت ته چې د نسب سلسله په پلار پوري تړل سوې، را رسېدلې ده.

هغه وخت چې په پخوانیو قبیلوي ټولنو کې آزاد جنسي روابط موجود وه نو به د اولادونو مشخص پلار نه معلومېدی، څرنګه چې یوازې مور به معلومه وه نو به طبعاً پښت پر پښت دغه د شجرې او نسب لړۍ د مور په وسیله معلومېدای سوای. خو د بشري ټولنې د تکامل په نتیجه کې د مونوګامي یا جوړه یي ازدواج مرحله راورسېده او په دې ډول د اولادونو پلار معلوم او د نسب سلسله هم په پلرونو پوري وتړل سوه.

لکه مرحوم کاندید اکادمیسن نومیالی چې لیکي: "په نړۍواله سویه د تاریخ مستند شواهد مونږ ته راښیي چې نسبي لیکه په ځینو وختونو او ځینو ځایونو کې عموماً د جمعیتي کورنۍ یا اشتراکي فامیل د جوړښت په حکم د مندو له نامه څخه وار د واره منشاء اخیستې خو وروسته بیا د اجتماعي اقتصادي ودې له ایجاباتو سره سم چې د نر غلبه د کورنۍ په جوړښت کې راسربېره سوه نو د نسب د نامه سلسله د مور له نامه څخه وشکېده او د پلارو نامه ته ور اتنقال سوه.

مورنی نسب تاریخي پدیده د امریکایي «مورګان» له فرضیې سره سم د لومړي ځل له پاره د کورنۍ د اجتماعي او کلتوري تکامل په (پونالوایي) مرحله کې منځ ته راغله. ځکه د پونالوایي په نامه د هغې کورنۍ را پیدا کېدو سره سم چې د تناسل یا ازدواج چارو ئې بیا هم جمعیتي نوعیت درلودی، دا ایجابول چې په یوه نسب کې دننه د نر او ښځو تر منځ تناسلي یا ازدواجي رابطه نور جواز و نه لري. په یوه نسبي نامه کې د نرو او

ښځو اشتراک دا معنا درلوده چي دوی یو د بل سره ورونه او خوندي وبلل سي. اوس چي د تاریخي انکشاف په حکم د نسبي ورونو او خوندو تر منځ تناسلي یا ازدواجي رابطه نفي سوه نو د لرغوني زمانې په تیت او پرک شرایطو کي چي وګړنیزي خپرېدني هم ورسره وي، دا پېژندنه په خورا جدي توګه لازمه وګرځېده چي څوک د چا ورور او څوک د چا خور ده ځکه د پېژندني په صورت کي دا چاري ښه سمبالېدای سوای چي ورور له خور سره په یوه ازدواجي کړۍ کي شامل نه سي. د دغه ضرورت له مخي نو د نسب نامه پالني ته د پېژندني په خاطر ډېره زیاته اجتماعی توجه راوګرځېده او په نسبي رابطه کي ټوله ترلي ټولنیز واحدونه ئې نور هم کلتوري تشکل او تکامل په اجتماعي . افتصادي ابعادو کي خورا ډېر مضبوط کړه. نسبي رابطه د ټولنیزو واحدونو د پیوستون اساس وګرزېده او قومي پیوند له تولیدي پیوند سره یو ځای د غښتلي اجتماعي او کلتوري پیوند بناء کښېښودله." (نومیالی، محمد انور، د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي: ماسکو ۱۹۹۷، ۳۷ مخ)

د پښتنو د شجرې او نسب په هکله په تېره بیا په معاصر عصر کي یو شمېر زیاتو کورنیو او بهرنیو څېړونکو او مؤرخینو تحقیقات او څرګندوني کړي چي د لاسته راغلو اسنادو او اثارو په مرسته به څه ناڅه پر وړغېږو.

لومړی باید ووایم چي دغه د (معاصر عصر) اصطلاح چي زموږ او د نړۍ په نورو هیوادونو کي زیاته استعمالیږي څه ته وایي؟

د معاصر عصر اصطلاح په بېلابېلو وختونو او په بېلابېلو هیوادونو کي په ډول ډول سره تعبیر او تفسیر سوې ده. دا ځکه چي د نړۍ د بېلابېلو هیوادونو مؤرخین د معاصر تاریخ پیل د خپل هیواد د کومي مهمي پېښي له شروع څخه شمېري.

په پخوا کي تاریخ پوهانو تاریخ پر درو برخو وېشی چي یو ئې لرغونی تاریخ، بل ئې هم د منځنیو پېړیو تاریخ او دریم ئې د نوي پېړۍ د تاریخ په نوم یاد کړی دئ.

خو ورستیو تاریخ لیکونکو د نوي پېړۍ د تاریخ له پاره د معاصر تاریخ اصطلاح غوره کړې چي له یوې پېړۍ څخه زیات وخت ئې په بر کي نیولای سوای. څرنګه چی د نوو پېړیو د پیل په هکله اختلاف موجود وو نو د معاصر تاریخ په هکله هم د پیل په برخه کي د نظر بېلتون رامنځته سو. البته پر دې خبره توافق موجود وو چي نوې پېړۍ د

منځنیو پېړیو له پای ته رسېدو سره سم پیلیږي خو د پای ته رسېدو په هکله ئې واحد نظر موجود نه وو. په عمومي ډول داسي ویل کېده چي منځنی پېړۍ په (۴۷۶ م) کال کي د لوېدیځ روم له ړنګېدو سره پیل او د ختیځ روم د مرکز قسطنطنیې (اوسني استانبول) په فتح سره چي د عثماني ترکانو په لاس تر سره سوه، په ۱۴۵۳م کال کي پای ته ورسېده.

که څه هم دا یو عمومي نظر وو چي نوې پېړۍ باید د ختیځ روم د مرکز له سقوط څخه رامنځته سي خو د ځنیو تاریخ پوهانو بیا دا نظر ځکه نه خوښېدی چي د مسیحیت د نړۍ خلکو، د ختیځ روم د مرکز ړنګېدل د مسلمانانو له خوا د مسیحیت کمزورتیا ګڼل او د نوي پېړۍ ئې، چي د یوه نهضت سره را پیل سوې وه، د نوموړي سقوط په اړوند نه خوښېدل.

تر ټولو لا مهمه دا وه چي د نړۍ تاریخ لیکونکو د خپلو ملي احساساتو پر بنسټ غوښتل چي د خپلو هیوادونو مهمي پېښي د نوي پېړۍ یا معاصر تاریخ د مبدا په توګه وټاکي. د بېلګي په توګه ایټالویان رنسانس چي له هغه ځایه راپورته سوی دئ، د منځنیو پېړیو ختم او د نویو پېړیو پیل ګڼي.

المانیان د نویو پېړیو مبداء په المان کي د مذهبي اصلاحاتو سره تړي، انګلستان د نویو پېړیو پیل د خپل هیواد له صنعتي انقلاب څخه را پیلوي خو فرانسویان بیا دا مبداء د فرانسی له نقلاب سر ه تړي.

نو لکه څنګه چي د نوو پېړیو په هکله زیات اختلافات موجود دي دغه راز د معاصر عصر په هکله هم د نظرونو دا بېلتون تر زیاته بریده موجود دئ.

یو زیات شمېر څېړونکي معاصر تاریخ د فرانسې له انقلاب څخه ځکه راپیلوي چي د دغه انقلاب اغېزې په لوېدیځ او ختیځ کي له ورایه ښکاري چي د راوروسته سترو تحولاتو د مور حیثیت ئې غوره کړی دئ.

دا هم باید وویل سي چي هر هیواد خپل ځانته تاریخ او مهمي پېښي لري چي د معاصر تاریخ د مبداء په توګه ئې ټاکلای سي خو چي د فرانسې له انقلاب څخه ئې زماني واټن ډېر زیات نه وي.

زموږ تاریخ پوهانو د معاصر تاریخ پیل د اتلسمي پېړۍ له دوهمي نیمایي څخه ګڼلی

دئ یعني د احمدشاهي امپراتورۍ له خښتي ایښودلو څخه پیلیږي.

خو زموږ غوره مؤرخ د اکاډمیسن کاندید خدای بخښلی محمدابراهیم عطایي وایي:

"که څه هم زه عقیده لرم چې زموږ معاصر تاریخ باید د هغه وخت څخه راپیل سي چې زموږ خلک د لومړي ځل له پاره د اروپا د یوه لوی اروپایي قدرت سره مخامخ شول. دا یوه ډېره لویه پیښه وه چې افغانستان د خارجي سیاست په رشته کې ناشناخته حوادث استقبال کړل او هغو خوشحاله عواقب نه درلودل او له هم هغه وخته خارجي عامل پر داخلي عامل د سیاست په صحنه کې دروندوالی راوست او دا یو شوم امر و، خو غټه پېښه وه چې زموږ د تاریخ مسیر ئې له کمي او کیفي پلوه لوی طوفاني سواحلو ته ور برابر کړ.

دا نوي پېښي چې نطفه ئې د اتلسمي پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې ګېډې ته ولوېده خو د نولسمي پېړۍ د وروستۍ لسیزي سره ئې خپلي د وینو ډکي سترګي زموږ پر ټولنه را روني کړې، مبداء جوړېدای سي. دا پېښي د تېمورشاه دراني د مړیني او پر تحت د هغه د زوی شاه زمان د کښېنستلو سره پیل شوي او لکه د واورې غونډي هر څونه چې دا ... هغونه ئې حجم او خطر کي زیاتوب راتلی. هغه مهال چې د نولسمي پېړۍ په پیل کي د ختیځ هند انګلیسي کمپنۍ خپل نماینده ... مالکم په ایران کي د فتح علی شاه قاجار دربار ته واستوی او هغه ایران پر افغانستان راولمساوه چې له هند څخه د زمان شاه مخه ونیسي څو انګلیس د پنجاب د نیولو پروژه په پوره زړه سره سر ته ورسوي. افغانستان انځور شو او د انګلیس په ... د سدوزو شاهزادګان لکه د لرغوني روم ګلاتوران یو د بل ګېډې څیرلو ته تیار شول. دا حوادث د معاصر تاریخ مبداء کېدای سي، خو تر اوسه دا یوازي زما نظر دئ او پوخ شوی نه دئ، نو ځکه زه د سلفو تاریخ لیکونکو تقسیم مراعاتوم او د معاصر تاریخ پیل ته به د افغاني امپراطورۍ تاسیس د مبداء په حیث وګڼم." (عطایي، محمد ابراهیم د اکادمیسن کاندید، د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه: دوهم مخ)

اوس نو چې په عمومي ډول د معاصر تاریخ مبداء د احمدشاهي دولت له بنسټ ایښوولو څخه را پیلیږي، تر وسه وسه به هڅه وسي چې په تیره بیا د معاصر عصر په دوران کي د کورنیو او بهرنیو څېړونکو او تاریخ لیکونکو هغه اندونو ته چې د پښتنو د

اصل او نسب په اړوند ئې څرګند کړي دي، يو ځغلنده نظر واچوو.

د لمر په شان روښانه ده چې د پښتني ټولني پر تاريخ باندي لکه څنګه چې لازمه ده کار نه دئ سوی، ډېر اړخونه ئې تاريک پاته او لازياتي څېړني ته اړتيا لري چې يو شمېر مؤرخين او څېړونکي په ټينګار سره په دغه برخه کي د لا زياتو مطالعو، څېړنو او ليکنو جدي غوښتنه کوي. د بېلګې په توګه د معاصر افغانستان د تاريخ پېژندل سوی مؤرخ او مؤلف ورتن ګريګوريې په خپل بې ساري اثر (د معاصر افغانستان ظهور) په دېرشم مخ کي د پښتني ټولني د تاريخي څېړني د نيمګړتيا په هکله وايي چې: "د پښتنو د لرغوني ټولني ماهيت نه دئ څېړل شوی."

په داسي حال کي چې د پښتني ټولني د ټولنيز تاريخ پياوړی ليکوال مونستوارت الفنستون بيا د پښتني ټولني د تارخ د مطالعې دې ستونزي ته لا ډېر پخوا متوجه سوی دئ، د دې تاريخي دورې د څېړني ستونزه په دې کي نه ګڼي چې په زړو اسلامي متونو کي د پښتو په هکله هيڅ نسته، دی وايي چې په پخوانيو اسلامي اثارو کي اصلاً پراخه او ژوره پلټنه نه ده سوې. دی د خپل دروند اثر (د کابل سلطنت بيان) کي د پښتنو په باره کي ليکي: "د فارسي او عربي تاريخونو دقيقه پلټنه به غالباً د دغو خلکو (پښتنو) د لرغونو حالاتو په باب موږ ته زياتره اطلاعات را په ګوتو کړي او موږ ته به د دې توان راکړي چې د هيواد تاريخ ئې لږ تر لږه د سلطان محمود غزنوي له زمانې نه راوسپړو. خو ضروري کتابونه تر لاسه کول ګران دي او راسپړل ئې ډېر وخت نيسي." (الفنستن، د کابل سلطنت بيان، د کاکړ ژباړه، کابل)

رښتيا هم دا يو څه ستونزمن کار دئ چې لومړی دغه ناياب اثار تر لاسه او بيا د هغو د ژوري مطالعې او څېړني په نتيجه کي د هغو له متن څخه چې په تيت او پرک ډول په کتابونو کي موجود وي، د اړتيا سره سم حقايق، رابرسېره سي. دا کار طبعاً زيات وخت او زيار او زحمت ته اړتيا لري.

که له يوې خوا د دا ډول ناياب اثارو موندل اسانه کار نه دئ له بلي خوا د کتابونو او اثارو له متن څخه د موادو، چې په تيت او متفرق ډول په کتاب کي ځای سوي وي، را ايستل، تحليلول او د څېړني د اصولو سره سم له هغو څخه ګټه اخستل نه يوازي دا چې ستونزمن کار دئ بلکي زياتي حوصلې ته هم اړتيا لري خو په عين حال کي يو ضروري

کار هم دئ ځکه چي اوس د پښتنو د اصل، نسب او ادب په هکله یو شمېر زیات افسانوي فکرونه او له واقعیتونو څخه لیري مسایل لیکل سوي او د تاریخونو یوه برخه ئې جوړه کړې ده چي له بده مرغه زیاتره وختونه زموږ پیاوړو مؤرخینو هم تکیه پر کړې ده خو که دغه مسایل په دقیقه توګه د تاریخي اسنادو، شواهدو او د تاریخي کره کتني د معیارونو پر بنسټ وڅېړل سي نو به ئې افسانوي او رښتیني برخي سره بېلي سي چي دا کارنو زموږ د نوي عصر د ځوان نسل پر اوږو پروت دئ.

لکه ساولا فکرو چي وايي: "په دغو څو پخوانیو پېړیو کي د اسلامي متونو اړوندو اسنادو کي، اصلاً دومره څه نه دي راغلي چي د پښتنو په تړلنیز ژوند باندي دي رڼا واچوي. دی وايي: "پرته له هغه چي البیروني (د هند په تاریخ) کي ویلي او له یوې ضمني یادوني پرته چي د څورلسمي پېړۍ ګرځندوی یا سیاح ابن بطوطه  څرګندوني کړي دي، د دغو پنځو پېړیو په تاریخونو کي "د دې کړېدلو او سرکښو خلکو یعني پښتنو په باره کي زیات څه نه دي ویل شوي." (ساولا فکرو، «دي پټانز»، یوسل اتلسم مخ)

تر دې لنډې یادوني وروسته به راسو خپلي اصلي موضوع ته چي د کومو دلایلو پر بنسټ د پښتنو شجره او نسب اسرائیلو ته منسوب سوی او د کومو اسنادو او شواهدو له مخي دا یوه افسانه ګڼل سوې ده.

### آیا پښتانه بني اسرائیل دي؟

د هیڅ یو بل قوم د اصل او نسب په هکله دومره زیات توپیر لکه د پښتون قوم په برخه کي چي موجود دئ، نه دئ لیدل سوی. که د تاریخ ژړي ورقي راواړوو وینو چي چا پښتانه بني اسرائیل بللي او ځینو نور بیا قبطیان ګڼلي او چا بیا د ارمنیانو، تاتاریانو او هپتالیانو او ساکانو په حیث پېژندلي دي. خو حتی ځینو نورو څېړونکو بیا د راجپوریانو، برهمنانو، جټانو، یونانیانو، ترکانو، عربو او نورو سره ګډ کړي دي.

د پښتنو د نسلي اساس په لړ کي د بني اسرائیلیت نظریه تر ټولو زړه او لومړۍ ژبنۍ نظریه ده چي په ډول ډول سره تعبیر او تفسیر سوې ده. ځیني تاریخونه لیکي چي:

ساول (طالوت) چي د حضرت یعقوب علیه السلام په دوولسو زامنو کي د بن یامین له اولاده وو، د پښتنو ور نیکه وو. روایت کیږي چي د طالوت له اړخه د یو شرط یا

ازمیښت پوره کولو نه پس طالوت خپله لور میکل حضرت داؤد ته نکاح کړه. خو داؤد ته ئې زړه ښه نه وو او سترګې ئې ورته خړې وې. دغه رنګ حضرت داؤد خپل کور کلی پرېښود او چیرته بل ځای ئې پناه واخسته. خو څه موده پس طالوت د بني اسرائیل سره په خپل کړي ظلم پښیمانه شو او په خپله خوښه او رضا ئې پاچاهي حضرت داؤد ته وسپارله، خپلي دوې امیدواري ښځې ئې د داؤد په پناه کي پرېښودې او په خپله د کفارو پر ضد غزا له لاړلو او د لسو ځامنو سره ووژل شو ...

د طالوت د دواړو امیدوارو ښځو یو یو هلک، ارمیا او برخیا وزېږول. داؤد د دواړو ماشومانو ښه پالنه او روزنه وکړه، برخیا ئې خپل مشر وزیر او ارمیاء ئې د لښکرو سپه سالار اوټاکل. د ارمیاء یو یو ځوی اصف او افغنه پیدا شول چي بیا وروستو یو د حضرت سلیمان علیه السلام وزیر اعظم او بل ئې د فوځ قوماندان شو، د بیت المقدس وداني هم د دغه افغانا په څارنه جوړه شوه.

د حضرت سلیمان علیه السلام د مرګ نه پس بني اسرائیل بې لاري او نافرمانه شول او د عذاب په صورت کي پرې الله پاک بخت نصر مسلط کړ، بخت نصر په بني اسرائیلو ډېر ظلم او زیاتی وکړ او د دوی د زیاتو وژلو په نتیجه کي بني اسرائیل په کډه کولو او وطن پرېښودلو ته اړ شول له دغه بني اسرائیلو یوې قبیلې د غور غرونو ته کډه یوړله او په دغه غرونو کي میشته شول.

حضرت خالد بن ولید یو لوړ رتبه صحابي او د بنی اسرائیلو د یوې قبیلې سردار و. د هجرت په اتم کال هغوی د غور په غرونو کي میشت بني اسرائیلو ته د نبي اکرم (ص) د نبوت زیری او د ایمان راوړلو بلنه ورکړه. په جواب کي قیص عبدالرشید د یو پلاوي په بدرګه مدینې منورې ته راغی او د نبي کریم (ص) سره ئې اولیدل او ایمان ئې راوړو. د قیص عبراني نوم په عبدالرشید واوښتی. دغه قیص عبدالرشید د پښتنو نیکهٔ و. قیص د خالد بن ولید د لور ساره بي بي سره نکاح اوکړو. د مکې مکرمې د واک او قبضې اخستلو په تاریخي مرکه کي ئې ګډون اوکړو او بیرته غور ته ستون شو. د اسلام د دین تبلیغ ئې شورو کړو. په کال ۴۱ هـ کي د ۸۷ اووه اتیا کاله په عمر کي په یو جنګ کي شهید شو سړبن، غورغښت او بېټ د هغه درې ځامن وو د دغو څرګندونو په بنسټ، د پښتنو شجره له دغه ځایه پیل کېږي.

اوس چي مو د بني اسرائيليت د نظريې اساسي ټکي په لنډه توګه ياد کړل نو به د يو شمېر بهرنيو او کورنيو څېړونکو او تاريخ پوهانو اندو ته، چي د دې نظريې پلويان يا مخالفين دي، هم يو ځغلنده نظر واچوو.

د دې اند له مخالفينو څخه يوه هم ښاغلی بهادرشاه کاکاخېل دئ چي د تورات او د تاريخ په حوالو سره پر دې ټينګار کوي چي د بني اسرائيليت نظريه څه تاريخي او ثقافتي بېلګه او بنياد نه لري او دا نظر يوه افسانه ګڼي چې وروسته به د ده د دې نظر لنډيز وړاندي کړو.

تر ټولو زوړ سند چي پښتانه بني اسرائيل ګڼي هغه د ابوالفضل (آئين اکبري) اثر دئ چي په ۱۵۹۷ – ۱۵۹۸ کلونو کي کښل سوی دئ. ابوالفضل ليکي: "افغانان د اسرائيلو اولاده ده او زياتوي چي پښتانه په دې عقيده دي چي ډېر ليري نيکه ئې چي «افغان» نومېدی درې زامن ئې لرل چي عبارت له سړبن، غرغښت او بېټ څخه وه." دی دا هم وايي چي غلجي، لوديان او نيازي د يوه عنعنه يي روايت پر اساس له بلي پښې نه دي.

بل هغه اثر چي يو شمېر څېړونکي استناد په کوي د اخوند درويزه تذکرة الابراروالا شرار (۱۶۱۳-۱۶۰۳) دئ. دی وايي چي افغانان د مهتر يعقوب اولاده ده چي د اسرائيلو په نامه يادېږي. د اسرائيلو ډېر لوی مشر طالوت وو. له هغه څخه دوه زامن پاته وه چي يو ئې اصف نومېده بل ئې افغان، د افغانانو طايفه د همدغه افغان اولاده ده. څرنګه چي د سليمان په غرونو کي اوسېدل نو په عربستان کي سليماني بلل کيږي. (درويزه اخوند، تذکرة الابرار والا شرار: ۸۳ - ۸۴ مخونه)

**د قيص عبدالرشيد کيسه:**

په دغه باب هغه کوم اثر چي په تفصيل سره بحث پکښې سوی او نوور څېړونکو هم پر هغه زيات استناد کړی دئ (تاريخ خان جهانی و مخزن افغانی) دئ چي په ۱۶۱۲-۱۶۱۳ کي ليکل سوی او په ټينګار سره څرګندوي چي ملک طالوت د اسرائيلو پاچا وو خو تر خپلي مړيني مخکي ئې د پاچهۍ چاري ده ته وسپارلې. خو خپله تر اووه څلوېښت کلن سلطنت وروسته په جګړه کي ووژل سو.

د نسب د همدې سلسلې پر بنسټ افغانان د خپل نسب سلسله قیص عبدالرشید ته رسوي. د بېلګې په توګه څېړونکی مولوي زین الله منلی چې خپل د ځان او کورنۍ د نسب سلسله قیص عبدالرشید ته رسوي: (زین الله د عمرزي زوی، عمرزی د طاهر زوی، طاهر د طیب زوی، طیب د قسیم زوی، قسیم د شهاب الدین زوی، شهاب د بلوڅ زوی، بلوڅ د لښکر زوی، لښکر د ابړ زوی، ابړ د اتمر زوی، اتمر د موسی زوی، موسی د بای زوی، بای د مسي یا مسیح زوی، مسي د مومند زوی، مومند د دولت یار زوی، دولت یار د غور زوی، غور د کند زوی، کند د خرشبون (خیرالدین) زوی، خرشبون د سړبن زوی، سړبن د قیص عبدالرشید زوی). دی وایي چې: "د بقرې د سورت په ۲۴۶ ایت کي راغلي دي چې بني اسرائیل د خپلو ګاونډیو عملاقانو له لاسه ځورېدل، عملاقانو ډېر پیاوړی مشر درلودی چې جالوت نومېدی، د جالوت په مشري عملاقانو بني اسرائیل وهل، ټکول او لوټول. خو د عملاقانو په مقابل کې د اسرائیلو هیڅ په وس نه وه پوره. بني اسرائیل پوه سول چې هغوی ځکه پر دوی برلاسي دي چې ښه مشر لري وایي که موږ هم ښه مشر دلودلای نو مو د هغوی له ظلم څخه ځانونه ژغورلای سوای. بني اسرائیلو شمویل علیه السلام ته وویل: ته موږ ته هم یو داسي پاچا یا مشر وټاکه چې د هغه په مرسته د عملاقانو له شره خلاص سو. عملاقان پاچا لري موږ ئې نه لرو موږ ته هم پاچا وټاکه. شمویل (ع) اسرائیلو ته یو پیاوړی د قوي موټو څښتن چې طالوت نومیدی وټاکی. تالوت چې له جسمی پلوه عښتلی سړی وو خو په مالي او مادي لحاظ ډېر مسکین او نېستمند وو نو د اسرائیلو خوښ نه سو نو ئې شمویل ته وویل چې دغه بېوزله او خوار مشر موږ نه سو منلای په موږ کې ډېر شتمن او پیاوړي خلک سته بل پاچا راته وټاکه. شمویل ورته وویل چې دا پاچا ما پر تاسو نه دئ ټاکلی دا پر تاسو هغه لوی واکمن ټاکلی دئ چې د ټول جهان واکمن دئ نو تاسو مجبور یاست چې د ده واکمني ومنئ." (روهی ویب پاڼه ۵ -۱۱- ۲۰۱۴)

د بني اسرائیلو او شموییل او طالوت بشپړ بیان د قرآن کریم د بقرې سورت په ۲۴۶ – ۲۵۲ آیتونو کې راغلی دئ.

بوعز او روت د عوبید په نوم یو زوی وزېږوی، عوبید واده وکړ او د ایسا په نوم ئې زوی پیدا سو دا ایسا د داود (ع) پلار دئ.

طالوت د بني اسرائیلو د لښکرو په مشرتابه د عملاقانو سره جګړه وکړه خو بریالی نه سو، شمويیل ورته وويل د ایسا زامن درسره ملګري کړه . طالوت ایسا ته وویل چي زامن دي راکړه چي د جالوتیانو سره جګړه وکړو خو هغه زامن ورکړه بیا هم په جګړه کي بریالی نه سو، نو شمويیل ورته وويل د ایسا هغه زوی چي ستا بریالیتوب او د جالوت مرګ ورسره تړلی دئ هغه داود نومیږي. کله چي داود ورسره ملګری سو نو ئې جالوت او د هغه پلویان ووژل او هیواد ئې وژغوری.

طالوت له داود څخه خوښ سو نو خپله لور ئې ورکړه او په پاچهي کي ئې له ځان سره شریک کړ خو وروسته ئې پاچهي داود ته پرېښودل. خپله جګړې ته روان سو او د خپلو دوو ماندینو چي امیدواري وې، سرپرستی ئې داود ته پرېښودل.

لکه چي وويل سوه د ملک طالوت (دا پاچا د بنیامین له قبیلې څخه دئ چي څلېرويشت کاله ئې ۱۰۰۴ق م زمانه کي د بني اسرائیلو پر دوولسو قبیلو باندي حکومت کړی دئ) ده دوې ښځي لرلې او د مرګ په وخت کي دواړي امیدواري وې. وروسته له څه مودې دواړو زامن وزېږول مهتر داود چي د دغو مېرمنو سپارښتنه ور په غاړه وه، د یوې د زوی نوم برخیا او د بل نوم ئې ارمیا کښېښود. خو کله چي د  ارمیا په کور کي زوی پیدا سو نوم ئې افغنه او د برخیا په کور کي چي زوی وزېږېدی نو نوم ئې اصف کښېښود. تر مهتر داود (ع) وروسته کله چي سلیمان (ع) د اسرائیلو پاچا سو نو ده د هیواد د چارو واک او تنظیم افغنه ته وسپاری د دغو دوو ورونو په تېره بیا د افغنه اولاده چي په شام کي اوسېده دومره زیاته سوه چي له شمېره ووته. خو د سلیمان (۹۶۵ - ۹۲۸) تر مړیني وروسته د اسرائیلو ورځ خرابه سوه.

بخت نصر شام (اوسنی سوریه) ونیوی. بیت المقدس ئې وران کړ او د آصف او افغنه د اولادې د سر سړي عزیز او دانیال ئې ووژل او پاته ئې له آصف او افغنه سره غور، غزني، کابل و فېروزکوه او د کندهار شاوخوا سیمو ته فراري کړل. د افغنه اولاده په دغو سیمو کي مېشته سول.

کله چي خالد بن ولید مسلمان سو نو دغو خلکو ته ئې مکتوب ورولېږی او د اسلام د پیغامبر د بعثت زېری ئې پر وکړ او د اسلام منلو ته ئې دعوت کړ. کله چي د افغنه اولادې ته د خالد مکتوب ورسېدی، یو شمېر مشران ئې مدینې ته روان سول. په دغو

مشرانو کي د بني افغان تر ټولو ستر مشر قیس نومېدی چي د نسب سلسله ئې ملک طالوت او ابراهیم خلیل الله ته رسېده. خالد دغه خلک د پیغامبر حضور ته وروستل. آنحضرت له هر یوه څخه د نامه پوښتنه وکړه. د بني افغان مشر ورته وویل چي د ده نوم قیس دئ پیغمبر ورته وویل: «قیص عبراني نوم دئ څرنګه چي موږ عرب یو نو ستا نوم به وروسته له دې عبدالرشید وي» عبدالرشید د خالد سره یو ځای په یو شمېر جګړو کي په مېړانه وجنګیدی، نو خالد د هغه د مېړاني په هکله پیغمبر ته معلومات ورکړل. حضرت پیغمبر عبدالرشید ته د بتان چي وروسته پټان سو، لقب ورکړ. (بتان هغه تیر ته وایي چي بېړۍ پر تکیه وی). حضرت عبدالرشید خپل حضور ته وباله او د خیر دعا ئې ورته وکړه او د خپل یو صحابي او انصار سره ئې بیرته غور ته ولېږی چي خلکو ته د اسلام تبلیغ وکړي.

قیص عبدالرشید پر خالد دومره ګران سو چي خپله لور (سارا) ئې ده ته ور په نکاح کړه نو کېدای سي چي د قیص زامن (سړبن، غرغښت او بېټ نیکه) به د همدې سارا زامن وي چي قیصي پښتانه به د مور له خوا د قیشي عربو خوریان وي.

د قیص عبدالرشید چي په کال ۴۰ هجري کي په اووه اتیا کلنۍ کي مړ سو، درې زامن پاته سول یو ئې سړبن، بل بېټنی او بل هم غرغښت نومېدی.

نعمت الله هروي وروسته وایي چي پرته له کرلاڼو څخه د نورو ټولو پښتني اقوامو د نسب سلسله همدې درو تنو ته رسېږي او ټوله د همدوی اولاده ګڼي چي کرلاني د عبدالرشید د دیني زوی له پښته بولي. (هروی، خواجه نعمت الله، تاریخ خان جهانی و مخزن افغانی، ۱ ټوک، ۶۳ مخ)

که څه هم د نعمت الله هروي د بیان په تائید یو شمېر زیاتو بهرنیو څېړونکو لیکني کړي چي وروسته به ئې درسره شریکي کړم خو زموږ کورني تاریخ لیکونکي، څېړونکي او د نظر خښتنان بیا دا تحلیل بې بنسته ګڼي، د شک په سترګه ورته ګوري او وایي چي یو لړ ناحله پوښتني پکښي موجودي دي.

له هغې جملي څخه کاندید اکاډمیسن ارواښاد عبدالشکور رشاد د دې پوښتني په جواب کي چي ځیني خلک وایي چي پښتانه بني اسرائیل دي، ستاسی په فکر د پښتنو ریښه تر کومه ځایه پوري رسېږي او دا پښتانه څوک دي؟ داسي وایي:

"دا دي يوه داسي پوښتنه وکړه، چي دا پوښتنه د افغانستان د ټولو سيمو له پښتنو سره سته. د دې منشاء غالباً مخزن افغاني دئ چي حيات الله نورزي (مقصد ئې نعمت الله هروي دئ، ز. محقق) ليکلی دئ او تقريباً له اوس څخه څلور سوه کاله مخکي دا کتاب ليکل سوی دئ نو په هغه کي ئې د اسرائيليت دا نغاره ډنګولې ده او بيا نورو هم له هغه څخه دغه اقتباس کړی دئ او د خلکو په ذهنونو کي هم تقريباً د دغو ليکنو په اثر ځای سوی دئ.

هو موږ چي اريايان وينو چي له بلخ څخه هندوستان او ايران ته خپاره سوي دي د هغوی نوم د پکت په شکل تقريباً ۳۵۰۰ کاله مخکي په هندی اثارو کي ثبت سوی دئ او له پکت څخه د اروپا مؤرخين د پښتانه معنی اخلي او د بخد کليمه چي د بلخ پخوانی نوم دئ هغه د پکخت کليمې چي صحي تلفظ ئې بايد په ښه يا خه باندي وي له هغه سره بې ارتباطه نه ګڼي او بخدی د بلخ زوړ نوم له پکت، پښتو او پښتون سره بې علاقې نه بولي نو په داسي حال کي چي د حضرت موسی (ع) له زمانې ۵۰۰۰ کاله يا څه زيات تېر سوي دي او دوی هلته په شام کي وه. په بيت المقدس کي وه او د هغه په شاوخوا کي وه او د هغوی د اواره کولو له پاره د بابل پاچا بخت نصر فعاليت وکړ بيت المقدس ئې خراب کړ او بني اسرائيل ئې راوکوچول او د دجلې او فرات پر غاړو ئې ميشت کړل او دا مځکه پر دوی باندی تنګه سوه ليکن دوی بيرته بيت المقدس ته اجازه نه درلوده چي ولاړ سي نو د شرق و خوا ته ئې څه حرکتونه وکړل او دا حرکتونه د پکت د کليمې تر ذکر يا د بخدي د نامه تر ذکر تقريباً ۱۰۰۰ کاله وروسته دي. نو دغه وخت چي د پکت کليمه يا د پخت کليمه يا بخدي کليمه موجوده وه او منځته راغلې وه، نو هغه وخت دا د بني اسرئيلو دا دوولس سبطه چي دی سبط په عربي کي قبيلي ته وايي په قران کي هم دا کليمه راغلې ده، دا په بيت المقدس کي اوسېده له هغه ځايه فرار سوي وه او دا بخت نصر تقريباً تر هغه ۲۰۰۰ کاله وروسته منځته راغلی دئ، نو پس زه دا ليکنه چي <u>پښتانه بني اسرئيل دي بې اساسه بولم</u>، پښتانه اريايان دي حتی په موږ کي کله کله ويل کيږي چي دا سپين پښتون دئ. له دې کليمې څخه دا معنی اخيستل کيږي چي سامی النسله داسي ګندم رنګه سياهي ته مايل خلک وه او دې ته چي سپين پښتون وايي معنی ئې دا ده چي دا اريايي الاصله خلک دي او بل د ژبي له لحاظه تاسي ورته

وګورئ چي په پښتو ژبه کي داسي کلمات سته چي هغه اوس هم په انګليسي کي په دغه معنى باندي مستعمل دي. په روسي کي، په سلاوي ژبو کي په دغه معنى مستعمل دي په لاتيني ژبو کي په دغه معنى مستعمل دي، او دا د ژبي د اشتراک له پاره يو لوی سند دئ او داسي فکر کيږي چي غرب ته تللي اروپايي اريايان او شرق ته راغلي شرقي او اسيايي اريايان يو ځای اوسېدل. دوی مشترک تهذيب او تمدن درلودی او د هغوی له پاره ئې هغه لغات ساتلي دي چي په هغه وخت کي ويل کېدل، اوس ئې هم د اروپا په غرب کي او د افغانستان په شرق کي په هغه ډول وايي. زه به لږ مثالونه درته ووايم تاسو وينئ چي غوا، غوايی. خوسکی چي اوس ئې خوسی بولی په ژبه کي لرو او زما په فکر د دې پخوانی شکل چه دئ ګوا، ګويی او کوسی دئ، ځکه (غ) پخواني تلفظ (ګ) دئ او موږ ګوروان، ګورم او ګوهر کي هغه (ګ) ساتلی دئ او تاسو وينئ چي په فارسي کي (ګاو) ورته وايي او په اردو کي (ګای) ورته وايي او په انګليسی کي غوا ته (کاو) وايي، خوسي ته (کاف) وايي او په هالنډی ژبه کي (کو) ورته وايي او په جرمني ژبه کي هم (کو) ورته وايي. نو تاسي چي سلاوي ژبي ته راسی که څه هم په سلاوي ژبه غوا ته (کروه) وايي او غوايي ته (بويک) وايي مګر د غوښي بحث چي راځي او د غوا غوښي ته (ګوياژينه) وايي هلته (ګو) کليمه پکښي موجوده ده، تاسي د حيواناتو په سلسله کي دا مثال واورېدی. تاسو سماوي اجرامو يا اسمانی موجوداتو ته ولاړ سئ او هلته وګورئ چي موږ (ستوری) وايو په پاړسي کي (ستاره) ورته وايي په سنسګريټ کي ئې (ستارا) بلل او (س) ئې ولوېدی اوس ئې په اردو کي (تارا) بولي او په انګليسي کي ئې (ستار) بولي او په جرمني کي ئې هم دغسی و دغه تلفظ ته نژدې لري او په يوناني کي ئې (ايستير) باله. دا مثال مي د اسماني اجرامو په باب ووايه او هغه تېر مثال د حيواناتو په باب وو. د کورنی غړي تاسو وګورئ د کورنۍ په غړو کي پخواني نومونه اوس پاته دي، تاسو وينی چي موږ د کورنۍ تشکيلوونکي چي (مور) وايو او د پکتيا خلک (مير) ورته وايي او دا يو (د) ئې په مخ کي درلودی چي هغه اوس لوېدلی دئ، مګر اوس هم په سکانډينوي ژبو کي (مور) ته مور وايي او په لاتينی ژبو کي (مير) ورته وايي، په انګليسي ژبو کي (مودر) ورته وايي. په پاړسي کي (مادر) ورته وايي، په سلاوي ژبه کي ورته (مات) وايي. د (مات) پخوانی شکل (ماتير) دئ يعني هغه (ر) درلوده. دا متل د روسي ژبي تر اوسه زما په ذهن کي دئ چي

وايي (نيپلچ ماتيرى پو تيرېو ده تياتيرى) "اې موري! مه ژاړه پر پرديو وړو باندى" نو دلته (ماتيرى) په ندايي حالت کي واقع سوى دئ تاسو وينى چي (مات) کليمه اوس په بلوڅي کي په دغه معنى ده او (ماتا) په اردو کي (مات) ورته وايي هغه (ت) ئې هم لوېدلى ده خو دا مي څو مثالونه درته وويل چي تاسي ژبي ته وګورئ زموږ ژبه له هندو اروپايي ژبو سره مشترکات لري او حتى هغه کورنى تشکيلېدله او د کورنۍ د تشکيل په وخت کي چي نومونه ايښوول سوي دي هغه په ټولو هندو اروپايي ژبو کي مشترک دي او پښتو هم په دغه اشتراک کي خپله برخه لري. تاسو وينى چي پلار کليمه چي په پکتيا کي ئې (پلور) تلفظ کوى او په پاړسي کي ئې (پدر) تلفظ کوى، په انګليسي کي (فادر) تلفظ کوي او په ځينو لهجاتو کي د پاړسي ئې (پيرن) تلفظ کوي او د (پير) تلفظ عيناً په سکانډينوي ژبو کي نژدې و دغه تلفظ ته موجود دئ. نو په دې بناء باندي زه داسي فکر نه کوم چي د پښتنو په باب دي د بني اسرائيليت دعوا صحيح وي. (سادات سيد ذاکر شاه، د ۲۰۱۷ کال د ماى د ميياشتى يولسمه نيټه، فيس بوک)

اروا ښاد رشاد په پورتنيو څرګندونو کي د ژبپوهني او د لغتونو، کلمو او تورو د تغير او بدلون د معيارونو پر بنسټ د پښتنو د بني اسرائيليت اصل په څرګنده رد کړى او ښايي په نورو ليکنو کي ئې په دغه هکله زياتره رڼا اچولې وي خو له بده مرغه چي د دې ليکني تر وخته ما ته په لاس نه دي راغلي.

د پښتنو د بي اسرائيليت پر مسئله يو شمېر زياتو مؤرخينو بحثونه کړي خو ښاغلي بهادرشاه کاکاخېل بني اسرائيليت نظريه يوازي يو تصور او افسانه ګڼلې او په شپږو لاندنيو دلايلو ئې رد او له حقيقت څخه ليري ګڼلې ده، دى ليکي:

"- تاريخ د طالوت د لور ميکل او د داؤد (ع) د وادۀ، د داؤد د خپل کور کلي پرېښودلو او په بل ځاى د پناه اخستلو او د بني اسرئيلو د نافرمانۍ، خود سرۍ او د بې لاري کېدلو تصديق کوي.

- تاريخ دا نه مني چي طالوت په خپله خوښه او رضا پاچاهي او قدرت داؤد ته پرېښى و - خپلي دوه اميدوارې ښځې ئې د هغه په پناه کې ورکړې وې - او په خپله د لسو ځامنو سره په جنګ کې وژلى شوى وو - تاريخ وايي چې د مايوسۍ په حال کې هغه ځان پخپله وژلى و او د مرګ نه پس ئې ځوى اشبوست د بني اسرائيلو پاچا شو - چې طالوت

ځان پخپله وواژه او په ځای ئې زوی پاچا شو نو بیا خو بې له څه شکه د ده د دوه اومیدوارې ښځو د داؤد (ع) په پناه کې د پرېښودلو قیصه دروغ کیږي - او په دغه صورت کې د ارمیاء او برخیا وجود پخپله یوه لویه سوالیه نښه جوړه شي - تاریخ د داؤد د مشر وزیر او د لښکرو د سپه سالار په حیث د ارمیاء او برخیا تصدیق نه کوي - تاریخ د ارمیاء او برخیا د ځامنو آصف او افغانا د حضرت سلیمان (ع) د حکومت د وزیر اعظم او قوماندان په حیث د تقرر تصدیق هم نه کوي - البته تاریخ د بني اسرائیلو د (لاوې) قبیلې د یو وګړي اصف بن برکیا یادونه کوي خو هغه د سپه سالار په حیث نه بلکه د یو منلي شوي موسیقار په حیث یاد شوی دی - بیت المقدس یو تاریخي او مذهبي حیثیت لري - تاریخ د بیت المقدس د ودانۍ ټول لوی واړه تفصیلات په خپله ځولۍ کې سنبال کړي دي - خو د څارنوال په حیث د افغانا په شتون غلی دی - د بني اسرائیلیت د نظرې منونکي چې په څه ډول د حضرت سلیمان (ع) د مرګ نه پس د بني اسرائیلو د بې لارې کېدلو او د بخت نصر قیصه بیانوي، د هغې نه داسې بریښي چې د بخت نصر یرغل او چپاوونه د سلیمان (ع) د مرګ نه سمدستي پس شوي و...." (کاکا خیل، بهادرشاه، پښتانه د تاریخ په رڼا کې)

اوس موږ وینو چې د یویشتمې پېړۍ د ساینس او ټکنالوجۍ د پرمختګ په مرسته ډېر تاریخي پېچلي مسایل حل سوي دي. د بېلګې په توګه د لرغونپېژندني په هکله د (کاربن چهارده) د استعمال په وسیله موږ د شیانو تقریباً دقیق تاریخ او لرغونتوب ثابتولای سو، همدارنګه ژنټیکي پوهه زموږ سره د توکم او نسب د څرګندولو په برخه کې زیاته مرسته کولای سي.

دغه راز انسانانو د (ډي ان اې) څېړنو په په وسیله، ډېرو پوښتنو ته جواب ویلی او دا یو داسي نوی انقلاب دئ چي د دې په مرسته د بېلابېلو لرغونو وګړو او توکمونو ژنټیکي بنسټ موندلای سو.

د پښتنو په هکله د تر سره سوو جنیتیکي څېړنو له مخي دا په ډاګه سوې ده چي پښتانه په لویه کچه د (آر ای یي) جینونو په لرلو سره د اریایي، ایراني وګړو په منځ کي تر ټولو ډېر لیدل سوي دي. دا جینونه د پښتنو پرته د شمالي هند، تاجکستان او ختیځه اروپا کي هم په پراخه پیمانه سته. د یادوني وړ ده چي نوموړي جینونه په

اروپايي خلکو پورې اړه لري.

همدارنګه زموږ پېژندل سوي شاعر او ليکوال ښاغلي عبدالباري جهاني چې د بني اسرائيليت د نظر د سرسختو مخالفينو له جملې څخه دئ په دغه هکله په تفصيل سره رغېدلی دئ او ليکي:

"... خواجه نعمت الله هروي په خپله د پښتنو او اسلام له تاريخ څخه بې خبره دئ او چې هر څه ئې زړه غوښتي دي هغه ئې ليکلي دي له بده مرغه چې بهرني او داخلي مؤرخين او څېړونکي، طبعي خبره ده چې د ده په دغو نيمګړتياوو پوهېدلي دي، هغه له تاريخي اشتباهاتو څخه په غټو سترګو تېر سوی دئ او حتی لا وروسته ئې په دغو کتابونو هم استنادونه کړي دي چې نورو له تاريخ څخه بې خبرو مؤرخينو د خواجه نعمت الله پر فوکلوري خوبونو اضافه کړي دي. د دې غلطو اطلاعاتو او څېړنو تاوان په دې کې نه دئ چې موږ ته د پښتنو قام په باره کې ګمراه کوونکي معلومات راکوي بلکې لوی تاوان ئې دا دئ چې دغه غلط اطلاعات له ادمه تر دې دمه د پښتنو قومونو تر منځ د اختلافاتو عامل ګرځېدلي او تر نن پورې ئې دوام کړی دئ.

فولکلوري افسانې او فولکلوري کيسې په حقيقت کې د يوه قام د کلتور او فرهنګ ډول او سينګار دي خو کله چې يو قام تعليم يافته او لوستی سي نو افسانې له رښتيني تاريخ څخه بېلې کړي. البته په افسانو کې هم د خپل ريښتوني تاريخ څرک لټوي خو زموږ د تحقيقاتو لويه نيمګړتيا په دې کې ده چې د خپلو افسانو په مقابل کې چې اکثره وختونه ريښتونی اساس نه لري او په مقابل کې ئې د ردولو له پاره په زرهاوو کره، تاريخي او ليکلي شواهد موجود دي، بيا هم پر خپلې خبري ټينګ ولاړ يو او غواړو په يو او بل ډول هغوی ته ريښتونی تاريخي رنګ ورکړو. د همدغو بې اساسه تاريخي افسانو پر اساس مو خپل تاريخي تحليلونه بنا کړي او حتی د قومي جلاوالي او بديو سبب مو ګرځېدلي وي."

دی زياتوي چې: "خواجه نعمت الله په پوره زړورتوب له خپلې زمانې څخه څه باندې دوه زره کاله پخوا پېښو په باره کې داسې بحث کوي لکه ليکلي اسناد او تاريخونه چې ئې مخې ته پراته وي. د هغه په تعقيب د نولسمې پېړۍ په پای کې شېرمحمد خان ګنډاپورى د (تواريخ خورشيد جهان) په نوم يو کتاب تاليف کړ او په

همدغو کلونو کې په صوبه سرحد کې د انګرېزانو یوه مامور ډیپټي محمد حیات خان د (حیات افغاني) په نوم یو کتاب ولیکی او د قبایلي افسانو په برخه کې ئې هماغه د خواجه نعمت الله بې اساسه خبرې په یوه او بل شکل تعقیب کړې. د دې دریو واړو تاریخ لیکونکو یوه مشترکه وجه دا ده چې درې واړه له تاریخ څخه تر ډېره ځایه بې خبره دي او دریو واړو، د خپلو تاریخونو په لیکنو کې، په ډېرو ځایونو کې، په بشپړې بې مسؤلیتی، پر فولکلوري روایاتو باندې تکیه کړې ده. د همدغو کتابونو زیاترو بې اساسو خبرو د پښتنو د تاریخ په باب سل هاوو کتابونو او تحلیلونو ته لاره وکړه او د قبایلو د وېش په برخه کې ئې زیاتره خبرې تر نن ورځې پورې د پښتنو تر منځ د بې دلیلو وېشونو او حتی قومي دښمنیو سبب ګرځېدلي دي." (جهاني، عبدالباري، تاریخي څېړنې: ۴۱- ۴۳ مخونه)

جهاني د خواجه نعمت الله هغه څرګندوني چې په یو شمېر زیاتو آثارو کې منعکس سوي د تورات د څرګندونو سره په ټکر کې ګڼي او لیکي:

"دا د هغو کیسو خلاصه ده چې د نعمت الله په مخزن افغاني کې راغلي دي. مګر په تورات کې چې د دې ټولو معلوماتو اصلي منبع ده، دغه کیسې بالکل په بل ډول راغلي دي او تقریباً په هیڅ توګه یا د خواجه نعمت الله له لیکني سره سر نه خوري او یا بشپړ اختلاف ورسره لري. تورات وایي چې طالوت د خپلو ګناهونو د جبرانولو له پاره د فلسطینانو په جنګ روان سو او په جنګ کې د خپلو دریو زامنو (لسو سره نه) سره ووژل سو. داود علیه السلام د هغه د وژل کېدلو د خبر د اورېدلو سره ډېر لوی ماتم جوړ کړ او په یوه المیه سندره کې ئې د هغه او د هغه د زامنو د مېړاني یادونه وکړه. خو په تورات کې دا نه دي راغلي چې طالوت د فلسطنیانو جنګ ته د تلو په وخت کې د داود علیه السلام سره خدای په اماني کړې، یا ئې کومه توصیه ورته کړې او یا ئې د خپلو دوو حاملو ښځو سپارښتنه ورباندې کړې وي.

په تورات کې نه د برخیا او ارمیا کیسه راغلې او نه هم د اصف او افغانا په باره کې دغه راز مفصل معلومات موجود دي. له بلې خوا هغه کتابونه چې مخزن افغاني استناد ورباندې کوي، د ده ادعاوې نه ثابتوي بلکې هغه کېدلای سي چې خواجه نعمت الله هغه کتابونه لوستي نه دي او د هغوی په باره کې ئې هم د نورو خلکو څخه کیسې

اوربدلي دي. د مثال په توګه، خواجه نعمت الله په تاريخ ګزيده او تاريخ طبري استناد کوي خو د هغوی خبر نه د خواجه نعمت الله او نه له تورات سره اړخ لګوي او بيخي نقاضت ورسره لري. تاريخ ګزيده چي خواجه نعمت الله د طالوت شجره د هغه کتاب په حواله وايي، اصلاً د طالوت د شجرې په باره کي بحث نه کوي او يوازي دونه وايي چي د هغه پلار سقاوي کوله (تاريخ ګزېده: ۴۶ مخ) په داسي حال کي چي په تورات کي د طالوت کسب ته اشاره نه ده سوې او وايي چي د هغه پلار قيص چي يو غريب سړی وو، خره ورک کړي وه او طالوت د خرو په پيدا کولو پسي راوتلی وو چي شمويل عليه السلام ئې وليدی او هغه د هغو نښانو پر اساس چي وحي ورته سوي وي طالوت د اسرائيلو د پاچا په حيث اعلان کړ. ګواکي د تاريخ ګزيده معلومات نه د خواجه نعمت الله او نه د تورات له متن سره لګيږي." (هماغه اثر: ۴۶مخ)

خو په دی اړوند بيا نامتو ليکوال ( کارو) په خپل د پټان نومي اثر کي د انجيل د تاريخ (زوړ ټستمنټ) په هکله داسي ليکلي دي:

"زه د دغي دوديزي کيسې په اړوند وايم چي دا په ډېر عجبه توګه د انجيل سره تړل کيږي. په زاړه ټستمنټ کي داسي کيسه ده چي يهود د ابراهيم عليه السلام څخه بيا تر ساول پاچا چي د طالوت په نامه ياديږي شجرې لري او د دې کيسې په منځ کي دلته نور نکلونه راغلي دي. په عمومي ډول د مسلمانانو کيسه د يهودو له متن سره ډېر توپير نه لري، مګر د ساول يا طالوت له وخته نه بيا د يهودو تر اسارت پوري نوي عناصر په دې تاريخ کي ور ګډ شوي دي. د افغان تاريخ ليکوال ټينګار کوي چي ساول پاچا يو زوی درلودی چي هغه ارميا نومېده او هغه يو زوی درلود چي افغانا نومېده، مګر د يهودو په متونو کي د هغه ذکر نه دئ شوی. ارميا نژدې د خپل پلار ساول پاچا سره په يوه زمانه کي مړ سوی دئ. د ده زوی افغانا د داود عليه السلام له مخي وروزل سو او ورپسې د سليمان عيله السلام په زمانه کي د وسله والو قواو عمومي قومندان وو. له دې څخه وروسته بيا د يهودو تر اسارت پوري څلور پېړۍ وقفه راځي او ورپسې د بخت النصر يادونه کيږي دلته اټکل کيږي چي دوهم اسارت ته اشاره ده چي په (شپږ سوه ق م) کي منځ ته راغلی و چي د بيت المقدس د يهودو زمانه وه. بل دا چي د لومړي اسارت زمانه له دوهم اسارت څخه نژدې شل کاله دمخه وه چي د شالمنصر د سماريا د اسور له خوا تر

سره شوی و.

که چیري دا خبره سمه وي نو دا په ډاګه کېږي چي بنی اسرائیل د افغانا زامن له لسو ورکو سویو قبیلو څخه نژدې شل کاله مخکي وه چي شالمنصر د سماریا د اسور له خوا تر سره سوي وه. که چیري دا خبره سمه وي نو دا څرګندوي چي بني اسرائیل د افغانانو زامن له لسو ورکو سوو قبیلو څخه نه دي، لاکن سره له دې هم د لسو ورکو سویو قبیلو ملاتړي ډېر دي. د دې ملاتړ لومړی ځل سر ویلیم جونز چي لوی ختیځ پېژندونکی و، کړی دئ.

دی وایي چي افغانان د اسرائیلو له لسو ورکو شو قبیلو څخه یوه قبیله ده چي د اسدارس Esdaras پیغامبر په زمانه کي د اسارت څخه تښتېدلي او د اسارات یا ازارات په سیمه کي ئې پناه اخیستې وه چي د زیاتو پوهانو له خوا ازارات د ننني هزاره جات په معنا تائید سوې ده. هزاره جات چي د غور د سیمي د غزنی سیمي ادامه ده، خو بخت النصر ته د افغانانو استشاره له دې نکل سره اړیکي نه لري.

په حقیقت کي د اووه لسمي او اتلسمي پېړۍ مسلمان لیکوال او مبصرین د یهودو د تاریخ او د لومړي او دوهم اسارت څخه پوره خبرتیا نه لري.

کارو څرګنده کړې ده چي د الفنستون نظر کي که څه هم یو څه بې ارتباطه ښکاري خو بیا هم له امکان څخه لیري نه ښکاري چي د اسرائیلو د دوولسو قبیلو څخه دي لس قبیلې په ختیځ کي پاته سوي وي او بیرته یودیا Judea ته نه وي تللي او کېدای سي چي افغانان د هغو پاته سوي خلک وي. مورږ په اسانۍ سره ویلای سو چي یوه قبیله پای ته رسېدلی او بله قبیله را زېږېدلې ده، د مکې د خلکو په اړوند به دونه ووایم چي د پیغمبر په زمانه کي هم یهود هلته ډېر وه او یوه لویه څانګه ئې د خیبر په نامه یادېدله، چي په افغانستان کي نن هم یوه سیمه د خیبر په نامه یادیږي خو د خیبر په نامه کومه قبیله نشته مګر لیکوال داسي څرګنده کړې ده چي د دوی دود او دستور بیخي سره بېل دي او ورته والی نه سره لري، د بېلګي په توګه راځئ چي له یوه یهودي څخه وپوښتو: آیا یهودو خپله عقیده بدله کړې ده؟ د اسلام تر ظهور پوري د مکې یهودیان یهود پاته سوي دي خو هغه یهودیان چي غور ته تللي دي بیا مسلمانان سوي دي خو د دوی د یهودیت په هکله کوم سند نسته." (انګلیسي Olaf. Cario The Pathns 550BC AD 1957 page 5

متن)

موږ ګورو چې يو شمېر نور څېړونکي په تېره بيا په پېښور او مردان کې پر نکلونو تکيه کوي او د ناپښتو څېړونکو پر ليکنو باور کوي، په دغه لړ کې يو هم الکسندر برنز دئ. د کاريو په قول هغه داسي يو مبصر دئ چې قضاوت ئې پر تعقل او استدلال بنا نه دئ، دی وايي چې افغانان د يهودو په مقابل کې کلکه کرکه لري او دا رښتيا ده، د دې ټکي مقصد دا دئ چې لا اقل پښتانه ځانونه په يهودو ورګډوي، اما دا چې د يهودو ځيني قبيلې رښتيا هم ختيځ ته راغلي دي نو ولي پر دې اعتراف و نه کړي چې افغانان له دغو قبيلو څخه يوه قبيله ده او دوی دلته اسلام قبول کړی دئ. په انګريزانو کې د بې اسرائيل قبيلوی عرف ته معتقد راورټي دئ. دی د هخامنشانو لومړي پاچا سيروس ته اشاره کوي چې د لوی پاچا دا عادت وو چې د ضرورت په صورت کې به ئې قبله ټوله له يوه ځای څخه بل ځای ته ولېږدوله. يهود ډېر مغروره خلک وو، نو کېدای سي چې يهود ئې هم کم نفوسو ختيځو سيمو ته جبراً لېږلي وي چې له هغوی څخه څه خطر متوجه نه سي او له بلې خوا ئې د سيروس له حاکمانو څخه ځانونه ژغورلي وي.

مؤرخين به چوپ پاتي نه وای او په دې اړوند به ئې هرومرو څه ليکلي وای.

د بابيلان له اسارت څخه بيا د حضرت محمد (ص) د لمر تر راختو پوري دوولس کاله تېر شوي او په دې موده کې موږ بل هيڅ نه دي اورېدلي يوازي د بني اسرائيلو د تګ او د غور شاوخوا سيمو کې د دوی د ځای پر ځای کېدو په هکله څه سته چې کلات، کندهار او غزني پر ور زيات سوي او له کفارو سره جنګېدلي او هغوی ئې وژلي دي. مګر په ګومان سره دا قبيلو چې دوی اسلام منلی او د افغانانو کيسه ئې تعقيب کړېده." سراورلف کارو، (پټان) پښتانه، ژباړن: کريمي شېرمحمد، ۲۴ مخ)

دغه رازکله چې موږ د بيليو د افغانستان د قوم پېژندني د مطالعې مشهور اثر لولو هغه بيا وايي چې: "موږ د خپلو څېړنو په لړ کې وينو چې پر افغانستان باندي د يونان د حاکميت په دوران کې د غور پر ستره سيمه يو قوم يا قبيله اوسېده چې د (سور) په نامه يادېده چې هغه کېدای سي چې د سورېې او يا هم د هندوستان څخه ئې منشاء اخيستې وي. په لومړي سر کې کېدای سي چې د اسرائيلو يو ګډ ترکيب دي وي چې د افغانانو په عنعنوي توګه د بن اسرائيلو په توګه ګڼلي وي له بله اړخه هغه د سورېې او

يا سوريا بانسي (Surya _ Suryabansi) د هندوکش د راجپوټ څخه وي کوم چي ښايي دغي سيمي کي د اندوس يا سند د ايالتونو کي د استقرار په نتيجه کي، ځای پر ځای سوي وي."

Bellew, Henry W, An inquiry in to the Ethnography og Afghanistha 1908 Lahor page 197

يو شمېر نور څېړونکي چي په پېښور او مردان کي د حجرو پر کيسو تکيه کوي او همدارنګه د ناپښتو څېړونکو پر ليکنو باور کوي يو هم الکسندر برنز دئ د هغه قضاوت پر استدلال تکيه نه دئ. دی وايي چي افغانان د يهودو په مقابل کي کلکه کرکه لري او دا رښتيا ده، نو ځکه پښتانه ځانونه په يهودو نه ورګډوي. دغه راز په انګرېزانو کي د بني اسرائيلو قبيلوي عرف ته له معتقدانو څخه يو هم راورتي دئ. دی د هخامنشانو سيروس پاچا ته اشاره کوي چي د دې لوی پاچا دا عادت وو چي د اړتيا په صورت کي به ئې قبيله ټوله له يوه ځای څخه بل ځای ته په زوره لېږل څو چي له دوی څخه څه خطر متوجه نه سي او د سيروس له حاکمانو څخه ئې ځانونه ژغورلي وي نو دوی پرته له دې خوا بلي خوا ته د تېښتي لاره نه درلوده.

اولف کارو وايي: که د افغانانو د نسب ريښه يهودو ته ورسوو نو بيا دا پوښتنه را پيدا کېږي چي په دغه هکله خپله يهودو څېړونکو او مؤرخينو ولي څه نه دي ويلي؟ دی ليکي: "د برنز استدلال هم يوازي پر دودونو ولاړ دئ او کوم تاريخي بنسټ نه لري او راورتي چي د پټان د فلکلور په هکله پوه او د اعتبار وړ شخصيت دئ او په دې هکله ډول ډول ځانګو په هکله د ده معلومات ډېر دقيق دي مګر د ده فکر او ماغزه ټول دننه د پښتنو په داخلي مفکورو سره ډک دي، له دباندنيو مفکورو او اندونو څخه ئې کټه نه ده اخيستې او حتی هر څه ئې رد کړي دي کېدای سوای چي بهرنيو اندونو له ده سره مرسته کړې وای او د ده د څېړنو د لا غنا سبب شوي وای. په دې اړوند چي يهود تل يهود پاته شوي دي، ده څه نه دي ليکلي او يهودي راهبانو د سيروس اداره تل ستايلې ده ځکه د دوی په ګټه وه، همدا رنګه د افغانانو کيسو د سيروس نه، بلکي د بخت نصر يادونه کړې ده چي يهود (بني اسرائيل) ئې غور ته لېږدولي دي، د لوی پاچا په خوښه زرو بابلZeru bbabel بيت المقدس ته را ستون شوی و، نو په دې صورت کي به

دی وروستی  شخص وي چې خپل وطنوال ئې د غور غرو ته لېږلی وي، که په رښتیا سره ده دا کار کړی وي نو یهودي مؤرخین به چوپ پاته نه وای او په دې اړوند به ئې هرومرو څه لیکلي وای." (سر اولف کارو، پټان ۲۴ مخ)

موږ په تاریخ طبري کي لولو چي برخیا د سلیمان د دوست په شکل راغلی او وایي چي برخیا سلیمان علیه السلام ته خبر ورکړ چي د ده (سلیمان) ماندینه په کور کي د بتانو عبادت کوي. خو په مخزن افغاني کي برخیا او ارمیا دوه ورونه  او د طالوت د دوو ښځو زامن ښودل سوي دي. په داسي حال کي چي ابن اثیر په تاریخ کامل کي اصف بن برخیا د سلیمان علیه السلام ډېر باوري سړی بولي او وایي چي هغه هر وخت د سلیمان کور ته ورتللی سوای. (تاریخ کامل: ۲۷۲ مخ)

په دغه اثر کي ارمیا د برخیا او آصف له زمانې څخه ډېر وروسته ګڼل سوی دئ او وایي چي ارمیا پیغامبر وو او پر بیت المقدس باندي د بخت النصر د یرغل په زمانه کي وحي ورباندي راغلي وې. (هغه کتاب: ۳۰۴ مخ)

بل دا چي پخپله د ابن اثیر بیان هم څکه د تامل وړ دئ چي په تورات کي دغه راز کومه اشاره نه لیدل کیږي. تاریخ طبری د تورات په خلاف چي وایي طالوت له دریو زامنو جناتان، ابي نداب او میلچیوسا سره یو ځای ووژل سو، وایي طالوت له دیارلسو زامنو سره ووژل سو. (تاریخ طبری: ۳۹۰ مخ)

دغه راز مخزن افغاني وایي چي داود علیه السلام ۱۲۰ کاله او څو ورځي پاچهي وکړه (مخزن افغاني: ۲۳ مخ).

په داسي حال کي چي تورات وایي چي د داود علیه السلام ټوله څلوېښت کاله پاچهي کړې ده اووه کاله په هیبرون او ۳۳ کاله په بیت المقدس کي پاچا وو. د مخزن افغاني په حواله سلیمان علیه السلام د خپلي پاچهۍ د ملکي چارو اداره آصف او پوځي چاري ئې افغانا ته وسپارلې او هغوی د سلیمان د وفات نه وروسته هم په دغو مقامونو کي خپلو کارونو او د بیت المقدس د چارو ادارې ته دوام ورکړ (مخزن افغاني: ۲۵ مخ) خو په تورات کي چي د سلیمان علیّه السلام د ټولو حکمرانانو نومونه لیکل سوي دي خو په هغو کي نه د برخیا او نه هم د افغانا نومونه شتون لري.

له بله پلوه څرنګه چي تاریخ موږ ته وایي چي د قیس د اولادونو (سړبن، غرغښت او

بيټ نيکه) او ژوند دوران د اسلام د پيغامبر حضرت محمد (ص) د زمانې سره څو پېړۍ توپير لري. نو بيا څنګه دا ومنو چې قيس عبدالرشيد دي د حضرت محمد (ص) او د خالد بن وليد سره ليدلي ا و په جګړو کې دې برخه ورسره اخيستې وي؟ د بېلګې په توګه که په هند کې د لوديانو تاريخي پس منظر ته ځير سو نو ګورو چې لوديان د شجرې له مخې د ابراهيم اولاده ګڼل کيږي او ابراهيم لودي د شاه حسين غوري زوی او د بيټ نيکه لمسی وو. د لوديانو غوري څانګه اسماعيل خېل، پرنګ، لوهاني، دوتاني، نيازي، مروت او نور دي. په وروستيو وختونو کې لودي ټبر پر دوو پښو (يوسف خېل او شاهوخېل) باندي وېشل سوی وو.

دغه راز خوشحال خټک هم لوديان د بېټ نيکه اولاده ګڼي او د يوه شعر په ترځ کې وايي: پښتون په اصل کې سړبنی دي يا غورغښتی دي يا بيټني دي – لودي غلجي دي د بېټني له لوره – په سړبن پوري بيا کرلاني دي.

علامه حبيبي د مخزن افغاني په قول لوديان د يوې پښتني قبيلې په توګه د بيټني يوه څانګه ګڼي او زياتوي چې: "د څلورمي هجري پېړۍ په دوران کې په هندوستان کې لومړۍ پښتني حکومت د ملتان د لوديانو له خوا جوړ سو، چې په قلمرو کې ئې د ملتان له سيمې نيولې د سند د رود تر لوېديځو غاړو او آن تر لغمان پوري سيمې ټولې پکښې شاملي وې." (پوهاند عبدالحی حبيبي، د ملتان شاهي لودي کورنۍ، پښتو څېړني، د پښتو څېړنو بين المللي مرکز، دولتي مطبعه، کابل، ۲۷ مخ)

د نعمت الله هروي دا ادعا په هکله چې پښتانه بني اسرائيل دي، يو لړ زياتي ناحله پوښتني رامنځته کړي دي چې د تاريخ پوهانو او څېړونکو لا زياتو تحقيقاتو ته اړتيا لري.

څکه موږ وينو چې د نعمت الله هروي څخه راوروسته هم يو شمېر زياتو تاريخ ليکونکو او پښتو مؤلفينو لکه قاضي عطاء الله خان، افضل خان خټک، حافظ رحمت الله، زردار خان هم په دغه هکله ليکني کړي او پښتانه ئې بني اسرائيل ګڼلي دي.

برسېره پر هغو مؤلفينو چې د افغاني مؤرخينو په قطار کې راتلای سي نورو يو شمېر زياتو لوېديځو ليکوالانو او تاريخ ليکونکو هم په دغه هکله زيات اثار او ليکني خپرې کړي دي چې د بېلګې په توګه به اوس د هغوی پر اندونو او دلايلو باندي ورغيږو، څو د پښتنو د بني اسرائيليت نظريه له دواړو خواوو يعني مخالف او موافقو مؤرخينو د

نظرونو په رڼا کې وڅېړو او په نتيجه کې لوستونکي خپل آزاد قضاوت ته پرېږدو چې نوموړي معلومات او مربوط دلايل د خپل عقل په ترازو کې وتلي څو ځانګړې نتيجه تر لاسه کړي.

**د پښتنو شجره (د بني اسرائيلت په اړوند) د بهرنيو څېړونکو څرګندوني:**

بايد وويل سي چې د لوېديځو مؤلفينو او څېړونکو په لړ کې د بنګال د شاهنشاهي آسيايي ټولنې رئيس سرويليم جونز لومړی شخص دئ چې د پښتنو د اصل او نسب دې عنعنه يې روايت ته ئې د غربيانو ژوره پاملرنه را اړولې ده او په يوه لنډ بيان کې ئې داسي وښودل چې کېدای سي پښتانه د يهودو له نسله وي.

په ۱۷۸۴ کال کې يوه انګرېزي ليکوال هنري ونسيتارت، سرويليم جونز ته يو ليک ولېږه او په هغه کې ئې ورته وليکل: "څه موده مخکې ما ته د اسرار الافاغنه په نامه يو کتاب لاسته راغی چې مولوي خيرالدين تصنيف کړی او په اصل کې د هغه يوه اثر لنډ شکل دئ چې حسين ولد صابر ولد خضر د حضرت شاه قاسم سليماني مريد ... په پښتو ليکلی دئ ...که څه هم دا ليکنه د پښتنو د اصالت په هکله د رښتيني تاريخ په حيث نه سي منل کېدای خو سره له دې هم «انګرېزي» ژباړه دراستوم او ښايي چې ستاسو ټولني ته به په زړه پوري وي." د ونسيتارت ليک او ترجمه دواړه د ۱۷۸۴ کال د مارچ په مياشت کې د آسيايي څېړنو په دوهم ټوک کې خپره سوه. کومه ليکنه چې ونسيتارت جونز ته ورولېږله، اساساً د هغه روايت يو مختصر شکل دئ چې د نعمت الله هروي د پښتنو د اصل او نسب په هکله ليکلی دئ.

ويليم جونز په ژباړه باندي د يوې لنډې تبصرې په ترڅ کې څرګنده کړه: "ښايي د افغانانو په باب دا بيان د يوه په زړه پوري کشف سبب سي ... موږ ته دا معلومه ده چې د اسرائيلو لس قبيلې وروسته د څه مودې سرګردانۍ نه يو وطن ته چې ارسيت نوميده ولاړې او احتمالاً هلته مېشتي سوي وي.

اوس موږ ګورو چې د فارسي ژبې تر ټولو معتبر تاريخونه وايي چې پښتانه د يهوديانو له نسله څخه دي او خپله افغانان هم دا وايي. حتی ويل کيږي چې خپله افغانانو د قبايلو نومونه هم د يهودو دي ... که څه هم افغانانو د اسلام له منلو را دې خوا ته ډېر

کوښښ کړی دئ چي خپل اصل او نسب پټ کړي خو پښتو ژبه چي ما ئې يوه ډکشنري ليدلې له کلداني ژبي سره ډېر زيات ورته والی لري او [افغانانو] يوه لويه سيمه د هزاره يا هزارت په نامه يادېږي." جونز په پای کي وايي چي: "زه د پښتو ژبي او ادبياتو د څېړني ډېره کلکه سپارښتنه کوم." (ونسيتارت، آسيايي څېړني، دوهم ټوک، ۶۷ مخ ۱۷۸۴ کال)

جونز هغه لوی عالم وو چي په ۱۷۸۶ کال کي د لومړي ځل له پاره ئې د آسيايي ټولني په يوه غونډه کي د يوې مقالې په لوستلو سره له لاتين، يوناني او جرمانيکو ژبو سره د سانسکريت تاريخي خپلوي په مسلم ډول، ثابته کړه او د ده دا نوښت يو معاصر پوه د ژبنيو څېړنو د نوي انکشاف د څلورو ډېرو سترو مؤفقيتونو څخه لومړنی ستر مؤفقيت وباله. (رابنز، د ژبپوهني لنډ تاريخ: ۱۳۴مخ)

د جونز دې څرګندونو هغه روايت نور هم غښتلی کړ چي د پښتنو اصل او نسب بني اسرائيل ګڼي. خو د ده تر څرګندونو وروسته نورو ډېرو لوېديځوالو دا هڅه وکړه چي د افغانانو د يهوديت اصل ثابت کړي. که څه هم په تېره بيا جوزج روز په دغه هکله ځانګړي کتابونه ليکلي او په جديت سره د پښتنو اصل او نسب په اسرائيلو پوري تړي خو هغه لوېديځوال مؤلف چي په دغه باب ئې زياتي ليکني پخوا لا کړي دي الګزندر برنز دئ.

الکزندر برنز هغه انګرېز دئ چي افغانان ئې د برنس په نوم پېژني. دی په ۱۸۴۱ کال کي له خپل ورور سره په هغه بلوا کي ووژل سو چي د کابل خلکو د انګرېزانو او د هغو د لاس پوڅي شاه شجاع پر خلاف کړې وه. برنز د خپل هغه سفر چي په ۱۸۳۲ کال کي ئې د هغه وخت افغانستان او بخارا ته کړی وو يو اثر (بخارا ته سفر) وليکی. دی په دې عقيده دئ چي پښتانه بني اسرائيل دي. دی چي په کابل کي د امير دوست محمد خان د ورور نواب جبار خان سره وکتل، په دغه وخت کي ده د ډېرو افغانانو سره ليدني کتني درلودلې او د موضوع په اړوند ئې له هغوی څخه څېړني کروېږني کولې. دی وايي چي افغانانو ما ته يو شمېر ليکني او کتابونه راوړل خو ما د هغو د لوستلو وخت نه درلودی نو به مي شفاهي پوښتني ځني کولې.

برنز وايي: "افغانان ځانونه بني اسرائيل يا د اسرائيلو اولاده ګڼي ... او زياتوي چي بخت نصر د بيت المقدس تر سقوط وروسته، د غور په ښار کي مېشته کړي دي ....

وروسته تر دې چې د افغانانو عنعنه او تاريخ مي په ډېر دقت ثبت کړ، زه د دې له پاره هيڅ دليل نه وينم چې د هغوی خبري و نه منم. ښايي چې د تاريخي وقايعو په ترتيب کي به ئې څه خطاوي موجودي وي او ځيني تاريخونه به ئې د تورات له متن سره اړخ نه لګوي ... خو د افغانانو څېرې د يهوديانو دي او خپله هم وايي چې د يهوديانو له نسله دي. افغانان له يهوديانو سره ډېر کلک تعصب لري او پرته له يوه پر ځای دليل نه ځانونه د يهودانو اولاده نه ګڼي ... څرنګه چې د اسرائيلو ځيني قبايل ختيځ ته راغلي، ولي مورږ دا و نه منو چي افغانان د هغوی اولاده ده. خو اسلام ئې منلی دئ." (برنز، الکزندر، بخارا ته سفر، لومړی ټوک ۱۶۲ – ۱۶۴ مخونه، لندن ۱۸۳۴م کال)

برنز د امير دوست محمد خان سره هم پر دې موضوع رږغېدلی دئ او وايي چي امير هم پښتانه له اصله يهود ګڼل. برنز په خپل يو بل اثر کي چي افغانستان ته ئې د يوه سفر د خاطراتو په ترڅ کي (۱۸۳۸/۱۸۳۶) ئې ليکی دئ څرګندده کړېده چي کله ده د امير دوست محمد خان څخه د پښتنو د يهوديانو د قوم په اړوند پوښتنه وکړه، امير داسي ورته وويل: "مورږ د خپل ورور کونډه کوو او خپلي لور ته ميراث نه ورکوو نو ولي به يهود نه يو." (برنز، کابل ۱۰۹ مخ، لاهور، دوهم چاپ ۱۹۶۱م کال لومړی چاپ لندن)

ښاغلي عبدالباري جهاني د (تاريخي څېړني) په اثر کي د اخوند درويزه او نعمت الله هروي، پر اثارو او د هغوی پر دې نظر چي د پښتنو اصل او نسب له يهودو څخه ګڼي، زيات توضيحات ورکړي او په ټينکار سره ئې رد کړي او فقط يوه افسانه ئې بللې ده. خو ده په ځانګړې توګه د لوېديځو ليکوالو لکه الکزندر برنز، ويليم مورګرافټ، جونز، چارلس ميسن، جورج روزي، والټر بيليو، هنري راورټي، جان ملکم او داسي نورو مؤرخينو د نظرونو په هکله چي د پښتنو د نسب په هکله ئې د اسرائيليت پر اند ټينکار کړی دئ، څه نه دي ويلي او يا هم لږ تر لږه زه نه يم ورسره مخامخ سوی.

بايد وويل سي چي د دا ډول بهرنيو مؤرخينو شمېر هم کم نه دئ چي پښتانه په اصل کي بني اسرائيل ګڼي خو دلته د بېلګي په توګه د څو تنو د اندونو يادونه کوو:

ويليم مورګرافټ چي د نولسمي پېړۍ په لومړيو وختونو (۱۸۱۹. ۱۸۲۵م) د هغه وخت افغانستان او شاوخوا ملکونو کي ګرځېدلی دئ، پښتانه يهوديانو ته ورته بولي. دی کله چي د خيبر د پښتنو په هکله رږغېږي، ليکي چي: "ويل کېږي چي د خيبريانو شمېر ډېر

زیات دئ او عمداً په غرونو کي اوسیږي. دوی په غرنیو خلکو کي ډېري دنګي وني لري او ځېرې ئې بیخي د یهودیانو دي." (مورګرافټ، ویلیم، سفرونه، دوهم ټوک، ۳۵۳ مخ.)

دغه راز چارلز میسن چي یو پخوانی انګرېز سیاح دئ، پښتانه ئې په خپل سفر نامه کي اسرائیل بللي دي. دی وایي د پښتنو د اصل او نسب په باره کي باید هغو مختلفو عنعنو ته مراجعه وکړو چي یا دوی خپله ساتلي او یا هغو مؤرخینو ثبت کړي دي چي د دوی په باره کي ئې څه ویلي دي. په دې پسې دی یو شمېر روایتونه یادوي او بیا لیکي: "یو بل روایت پښتانه د هغو یهودیانو اولاده ګڼي چي د خلفاوو د یوه جنرال خالد سره ملګري سوي وه. ښایي دا خبره د خیبر د قیبلو په باب رښتیا وي. دوی په داسي یوه ځای کي اوسي چي د عربستان د یوه سنګر [خیبر] نوم ئې ورباندي ایښی دئ. د دغو پښتنو څوني په ځینو لحاظونو د یهودیانو څونو ته پاته کیږي او که ئې کوم یهود ووینې نو هرومرو به ئې خپل عزیزان وبولي." (میسن چارلز، د مختلفو سفرونو خاطرات، لومړی ټوک، سریزه ۴۱-۴۲ مخونه.)

مورګرافټ چي د اپرېدو په باب رږغیږي، لیکي: "قاضي ئې چي بیخي یهودي غوندي ښکارېده، له خپلو یو شمېر عزیزانو سره پېښور ته زموږ لیدو ته راغلی وو." (همدغه اثر: ۳۴۸مخ.)

بل هغه مؤرخ چي د پښتنو د اصل او نسب په باب ئې د (افغانان لس قبیلې او د شرق سلطانان) تر عنوان لاندي کتاب کښلی او په ۱۸۵۲ م کال کي خپور سوی دئ، په دې عقیده دئ چي د اسرائیلو لس قبیلې ورکي سوي او له خپل اصلي ټاټوبي څخه پر بله خوا تللي دي. دی دا ښيي چي دغه ورکي قبیلې افغانستان ته تللي دي چي پښتانه د همدغو لسو قبیلو اولاده ده. (روزي جورج، افغانان، لس قبیلې او د شرق سلطانان، ۲۴- ۷۹مخونه)

روزی د برنز پر خبرو ډېره تکیه کوي او وایي چي برنز د امیر دوست محمد خان سره ډېر نژدې او دوستانه اړیکي لرل او په کابل کی د امیر د یوه ورور کره اوسېده ځکه نو افغانانو، نه یوازي د خپل اصل او نسب په باره کي دقیق شفاهي معلومات ورکړي، بلکي خپل کتابونه ئې هم وروړي دي. روزي وروسته له دې چي د برونز له سفرنامې نه هغه عنعنه یي روایت را اخلي چي پښتانه یهود ګڼي لیکي: "په دې ډول موږ ته معلومیږي

چي افغانانو بزنز ته ويلي دي چي دوی تر هغه وخته يهود وه چي مسلمانان شول."

روزي يو بل ځای ليکي: "پښتانه د فارس پاچهان وه او په کلونو کلونو ئې پر هندوستان واکمني کړې ده نو دوی د دې وړ دي چي د ختيځ سلطانان وبلل سي چي د يهوديانو په ډېر زاړه کتاب کي ئې يادونه هم سوې ده." (همدا اثر: ۴۲مخ)

دی زياتوي چي: "که پښتانه په رښتيا هم له اصله يهود نه وای نو هيڅکله به ئې ځانونه اسرائيل نه وای بللي ځکه افغانان د نورو مسلمانانو په شان له يهودانو څخه ډېره کرکه کوي." (همدا اثر: ۳۱ - ۲۷ مخونه.)

روزي د يو شمېر واقعيتونو په اړوند وايي: "پښتانه د يوه خپلواک اولس په توګه په هغو سيمو کي ژوند کوي چي ټول روايات ئې د پخوانيو وختونو نه، د همدوی ټاټوبی ګڼي." دی زياتوي چي: "آينده يوازي خدای ته معلومه ده خو دا راټولو سوو شواهدو له مخي، يقين ته نژدې ګومان دا دئ چي افغانان د اسرائيلو د ورکي سوي قبيلې او د شرق سلطانان دي." (همدغه اثر: ۴۳ مخ.)

روزي په کلکه پر دې ټينګار کوي چي پښتانه بني اسرائيل دي خو د ژبي په اړوند د دې نظر مخالفينو ته وايي چي دا عجبه خبره نه ده چي پښتنو دي خپله عبراني ژبه بايللې وي، او زياتوي کله چي د يوه اولس يو څو قبيلې له خپل ملک او خلکو څخه جلا او په يوه بل هيواد کي د يوه غښتلي او ګڼ اولس په منځ کي ميشتي سي، هلته نو بيا دا څه د حيرانتيا خبره نه ده چي دغه قبيلې خپله ژبه له لاسه ورکړي. دی زياتوي چي حتی يو ځواکمن قوم هم کېدای سي چي خپله ژبه له لاسه ورکړي.

دغه راز د هغو مؤرخينو له جملې څخه چي پښتانه بني اسرائيل ګڼي يو بل مشهور ليکوال ولټر بيليو دئ هغه په هغو کتابونو کي هم چي د يوه عنوان ئې (د افغانستان د قوم پېژندني مطالعه) ده او يو بل عنوان ئې (د افغانستان طوايف) دئ، پر دې مسئله ږغېدلی دئ. بيليو په دې کتابونو کي هغه عنعنوي روايت چي پښتانه بني اسرائيل ګڼي را اخستی او په ضمني او يا صريح ډول ئې د تائيد سر ورته ښورولی دئ. دی ليکي چي: "افغانان د خپلې عنعنې پر اساس د هغو اقوامو په جمله کي راځي چي اسلام ئې په خپله خوښه منلی دئ او څرنګه چي افغانان په افتخار ځانونه بني اسرائيل ګڼي. دا د دې معنا نه لري چي د دوی دا ادعا به غالباً رښتيا وي چي اسلام ئې د دغي سيمې له نورو اقوامو

ځخه دمخه منلی دئ. ځکه د دوی اصلي مذهب یعني یهودیت، اسلام ته ډېر ورته او نژدې دئ." (بیلیو، د افغانستان د قوم پېژندني مطالعه، ۱۹ مخ)

د بیلو دغه اثر (BELLEW. AN INQUIRY IN TO THE ETNOGRAPHY OF AFGHANISTAN) چي زیاترو څېړونکو په خپلو لیکنو کي ګټه ځني اخیستې ده، یو جامع اثر دئ، په تیره بیا زموږ د اوسنی موضوع په اړوند زیاتي څرګندوني لري. که څه هم پوهاند حبیب الله تږي د نوموړي کتاب په حواله لنډې او په زړه پوري یادوني کړي دي خو کله چي ما (ز. محقق) دغه کتاب انګلیسي متن نور پسي وڅېړی ومي لیدل چي بیلیو په دغه اړوند نور هم ژور تللی او په تفصیل سره ئې پر دې خبره زور اچولی دئ چي پښتنو د یهودو سره ګډ کلتوري خصوصیات لرل او څرنګه چي دوی په خپله خوښه له مسحیت ځخه اسلام ته راواوښتل نو د یهودیت تر ډېره وخته پوري پکښي پاته سو ځکه چي یهودیان هم د بت پرستی خلاف د یوه واحد خدای پیروان وه نو ئې کلتوري او مذهبي مشکل ډېر جدی نه وو ځکه نو زیاترو پښتنو خپل اجداد یهودیان بلل. بیلیو لیکي: "... د عربو د چټکو فتوحاتو په نتیجه کي لوېدیځې آسیا ته د قرآن شریف او اسلام نوې عقیده راورسېده او د اکسیوس Oxus هیوادونو ته ئې هم لاره پیدا کړه. د لیري یونان او د اوسني راجپوت په شان د افغانستان د سیمو اوسېدونکي هم اسلام ته را واوښتل چي په یوولسمه میلادي پیړۍ کي دغه عقیده د هندوکش سیمو ته هم وغزول سوه او په پای کي د افغان فاتح شهاب الدین غوري له خوا د مذهبي دولت خښته د دیرلسمي پیړۍ په لومړیو وختونو کي، کښیښودل سوه." بیلو زیاتوي: "په داسي حال کي چي د صلیبی جګړو Crusades له امله د مسیحیت ناکامی په برخه سوي وې خو بیا هم په افغانستان کي د یوه کتاب لرونکي مذهب په توګه موجود او د زغملو وړ وو. چي دغه حالت د مغولو د فتوحاتو تر وخته پوري لا هم په افغانستان او پارس کي موجود وو، خو کله چي چنګیزخان امپراطوري جوړه کړه نو ئې د مسیحیت په پرتله اسلام ته ترجیح ورکړه او مسلمانانو هم په خپله خوښه د اسلام دین ومنی او هغه عقیده چي خدای یو او حضرت محمد (ص) ئې پیغامبر دئ قبوله کړه. په دی ډول اسلام د یهودیت سره، د خدای د وحدانیت په خاطر، ګډه وجه وموندله او بت پرستي مردوده سوه."

(BELLEW, AN INQUIRY IN TO THE ETNOGRAPHY OF Afghanistan, page 91)

بیلیو د دغو دلایلو له مخي هڅه کوي وښیي چي د مسلمانانو او یهودیانو تر منځ په اصطلاح د چین دېوال نسته بلکي په کلتوري لحاظ او د مذهبی پلو سره نژدې دي.

رښتیا هم موږ وینو چي د یهودو ځیني خصوصیات، د ژوند ستایل او کلتوري رواجونه او حتی د څېرو ورته والی هغه شباهتونه دي چي د افغانانو اصل او نسب د یهودیانو سره نژدې کوي. د بېلګي په توګه یهودیان هم د افغانانو په څېر کوربڅې اچوي، د ورور کونډه بل چا ته نه ورکوي او د ښځو حقوق تر پښو لاندي کوي....

بیلیو هم یو له هغو محقیقینو څخه دئ چي پښتانه په اصل کي بني اسرائیل ګڼي خو ډېر نور ئې بیا پښتانه په نورو طایفو پوري تړي، د بېلګي په توګه په برهمنیانو، راجپوتانو، جټانو، یونانیانو، هفتالیانو، ساکانو، مغولانو، ترکانو، عربانو، ارمنیانو او نورو ئې ورګډوي.

خو بیلیو تر زیاته حده پښتني قبایل او قومونه په راجپوټانو پوري تړي او د راجپوټانو دودونه، عنعنات او اخلاق د پښتنو په شان ګڼي. دی د پټنې د قبیلې د خشبون پښه په څلور پنځوس قومه وېشي او بیا دا استدلال کوي چي کابو نیمایي برخه نومونه ئې راجپوتي او یا هم هندي دي. (بیلو، د افغانستان د قوم پېژندني مطالعه، ۱۹۰ مخ.)

که څه هم بیلو د طبقات ناصري په حواله زیاتي څرګندوني کړي دي خو پوهاند ډاکتر حبیب الله تږی د ده دا څرګندوني بې اساسه ګڼي او وایي: "بیلو د تاریخ او اجتماعي مطالعو اصولو ته پوره پاملرنه نه ده کړې. مثلاً کله چي دی د یوه پښتني قوم نوم د راجپوتانو، برهمنانو او یا کوم بل لرغوني قوم یا قبیلې له نامه سره مقایسه کوي، د دغه پښتني قوم د تاریخي سابقې هیڅ بحث نه کوي او دا نه ښیي چي دغه پښتنی قوم څه وخت او څنګه په دې نامه یاد سوی دئ. په نتیجه کي دی ډېر داسي قومونه چي اسلامي نومونه لري، په لرغونو غیر اسلامي طایفو پوري تړي او نومونه ئې هم د ځینو سطحي شباهتونو پر بنا د دغو قومونو له نومونو سره یو شی بولي، که څه هم په دې باره کي هیڅ دلیل او شواهد نشته چي دا اقوام به د څو سوه کلونو نه پخوا په دې نومونو یاد شوي وي. علاوه پر دې بیلیو کله کله په اصطلاح له پچي نه پېچومی

جوړوي. مثلاً دی د طبقات ناصري په حواله ليکي چي په لرغوني غور کي يو ولس اوسېدی چي بني اسرائيل نومېده او ځينو کسانو ئې د شاوخوا ملکونو سره ډېر وسيع تجارت لاره.

دی زياتوي چي: کوم مطلب چي په دې ارتباط راغلی دئ د هغه په هيڅ برخه کي دا نه دي ويل شوي چي په غور کي د يهوديانو کوم ولس اوسېده په طبقاتو کي يوازي په يوه يهود خبري شوي دي او لنډيز ئې دا دئ:

"په غور کي يو يهودی ؤ چي د امير بنجي ملګری ؤ يوه ورځ دغه يهود چي ډېر زيات ملکونه او د هغوی د واکدارانو دربارونه ئې ليدلي وو او له درباري آدابو سره ډېر ښه بلد ؤ آمير بنجي ته وويل چي که زه داسي لاري چاري دروښيم چي د اسلام خليفه هارون الرشيد خوشحاله کړی او هغه ټول غور درکړي نو ما ته به بيا دومره يو ځای راکړی چي يو شمېر بني اسرائيل پکي دېره کړم. امير بنجي د يهودو سره دا خبره ومنل دواړه د هارون الرشيد دربار ته ولاړل خليفه د امير بنجي د سلوک نه دومره خوښ شو چي ټول غور ئې ورکړ." (منهاج الدين، طبقات ناصری، د راورتي انګريزي ترجمه، لومړی ټوک، ۳۱۳ مخ - پوهاند ډاکتر ترہ، حبيب الله، پښتانه، ۱۵ مخ.)

د بهرنيو څېړونکو په لړ کي يو هم هنري راورتي دئ چي په کلکه ټينګار کوي چي پښتانه د يهودو له نسله څخه دي. دی په خپل هغه مضمون کي چي په ۱۸۵۴ کال کي ئې د بنګال د شهنشاهي ټولني په مجله کي چاپ سوی دئ ليکي چي: پښتانه خپله ځانونه د يهوديانو له نسله ګڼي او د سدوزو د قبيلې پر يوه تاريخ چي (تذکرة الملوک) نومېږي حواله ورکوي او وايي چي د دغه کتاب په سريزه کي په تفصيل سره دا بحث سوی دئ چي پښتانه بني اسرائيل بولي. راورتي زياتوي چي: "علاوه پر هغه اثر چي مي ذکر کی په ډېرو معتبرو اثارو کي دا ثابته سوې ده چي افغانان اصلاً د دغه ملک نه دي چي دا اوس پکښي اوسي بلکي په لرغونو زمانو کي له لوېديځی آسيا څخه په ورو ورو ورته راغلي دي او دا څه ناممکنه خبره نه ده. ښايي چي مختلفو عواملو د پېړيو په تېرېدلو سره هغوی دې ته مجبور کړي وي چي د بيت المقدس شاوخوا سيمو څخه مهاجرت وکړي." (راورتي، د افغانانو د اصل او ريښې په باره کي ځيني تبصرې، د بنګال د آسيايي ټولني مجله، ۱۸۵۴ کال، ۶ نمبر.)

راورټي د پښتو قاموس په سريزه کي په قاطعيت سره پښتانه بني اسرائيل ګڼلي او وايي چي: "وروسته د کامل غور څخه غواړم دا نتيجه واخلم له هغه نژدې والي څخه چي ما د پښتو او سامي ژبو تر منځ وښوده، له هغو متعددو رواياتو چي په دې باره کي موجود دي، د حضرت يعقوب د اولادې له هغو دودونو څخه چي د يهودانو له اسارت څخه پنځه ويشت پېړۍ راوروسته هم په افغانانو کي رايج دي، له دې نه چي د دوی (افغانانو) څېره له بل هر ولس نه په قاطع ډول توپير لري، او له هغو متعددو ثبوتونو چي موږ ئې په دې باره کي لرو چي دوی په تدريج سره د آسيا له لوېديځ نه وړاندي تللي دي. نو زه غواړم دا نتيجه واخلم چي افغانان د يهوديانو د لسو قبيلو بقايا دي." (راورټي، پښتو ډکشنري، مقدمه ۱۱- ۱۲ مخونه.)

په داسي حال کي چي لوېديځ مؤلف الفنسټون بيا د دی نظر په خلاف د يو لړ دلايلو پر بنسټ پورتنی اند ردوي او د پښتنو د اصل او نسب په هکله د پښتنو د بني اسرائيليت مسئلې د ليکلو په ترڅ کي، خپله وايي چي د دې روايت د بطلان دلايل په خپله په دې روايت کي پراته دي. دی زياتوي چي دا روايت (ملک طالوت) د ابراهيم پيغامبر پنځه څلويښتم پښت ګڼي او قيس د ساول اووه دېرشم پښت بولي. خو دی وايي د دې دوو ټکو اول د مقدس کتاب، تورات سره قطعاً اړخ نه لګوي او دوهم ټکی ئې منطق نه مني ځکه يوازي اووه دېرش پښته شپاړس سوه کاله کيږي." (الفنسټون، د کابل سلطنت بيان، ۱۵۴ مخ)

الفنسټون د جونز د نظر د ردولو په هکله ليکي: "د افغانانو او يهوديانو د دود او دستور تر منځ ډېر شباهتونه ښودل کېدای سي خو دغه راز ورته والی نه د (کارو، بيليو) ولسونو د اجتماعی ژوند په عيني مرحله کي معمول وي او که دا ټکی د قومونو تر منځ د عينيت دليل وي نو بيا کېدای سي چي تاتاران، عربان، جرمنان او روسان ټول يو شی وي." (هماغه اثر: ۱۵۷مخ.)

دې کي شک نسته چي له ميلاد څخه مخکي پېړيو کي د اوسني افغانستان او د هغه په شاوخوا سيمو کي يهوديانو استوګنه درلودلې ده. لکه لوی استاد پوهاند حبيبي چي وايي: "عبري او يهودي توکم له پخوا زمانو څخه د آمو پر غاړو او زموږ د وطن په ښارو کښي خپور شوی ؤ. متر فرالنک په (۱۸۹۷ع) کي ليکي، چي د سپيا يو پاچا د يهودو ډېر

اقوام له بیت المقدسه څخه د خراسان خوا ته وشړل، دا یهود په (۶۳۰ ق م) د باختر او هریرود پر شاوخوا هستېدل، دوی وایي چي هرات په تورات کښي د هارا په نامه راغلی دئ. (د فرالنگ ساینس آف ریلیجین، ص ۳۹)

دا نظر چي آریایي مدنیت له سامي ثقافت سره په ویدي زمانه کي هم ارتباط درلودی، د پوهانو له خوا هم څه ناڅه څرګند سوی دئ مثلاً (دکتور بریډل کیت) د ایډنبرک یونیورسیټي پروفیسور لیکي: "لږ لږ اشارات موجود دي چي ویدي خلقو له سامي بابلیانو سره هم اړیکي او روابط درلودل، د ریګویدا په یوه عبارت کي چي بینکاټا راغلی دي او هندی بیکیندر ئې ریښه ده د ځینو بابلي الفاظو سره ورته دي، دغه هم د بریبو نوم چي د هند په اصطلاح مشهور ښندونکی دئ، مسټر ویبر له بابلي سره نښلولی دئ." (د ویري هندی پوهنې ۱۷ جلد، ۱۹۸ ص)

مرحوم استاد حبیبي د معجم البدان (۳۹۱ مخ) په حواله لیکي چي: "عربو مؤرخینو هم له خورا پخوا زمانې څخه د بني اسرائیلو خروج د خراسان پر خوا ذکر کړی و او دا ئې راوړي دي چي د یهودو ځیني ډلي پر دې خواوو آبادي وې. که موږ د جغرافیا پخواني کتب وپلټو همداسي ښکاري، چي اسلام له لومړي دوره کی په بلخ او هرات او نورو ښارو کښي ځیني یهود اوسېدل، مثلاً حدود العالم (۳۷۲ هجري) تالیف د ګوزګانان مرکز او پایتخت (جهودان) بولي او وایي چي په ګوزګانان (د اوسنی میمنې په حدودو کي) د عربو ځیني ډلي هم اوسېدلې چي پونده وه او د خراسان تر نورو عربو دوی سره پاشلی پراته وه." (حدود العالم ۶۰- ۶۱ مخونه)، (پوهاند حبیبي، د پښتو ادبیاتو تاریخ: ۳۹ مخ)

دغه راز موږ د یهودیانو په دائرة المعارف کي هم وینو چي وایي پښتانه د خپلي عنعنې پر اساس ځانونه د خپلو دوولسو ورکو سوو قبیلو اولاده ګڼي. په دغه اثر کي دا هم لیکل سوی دي چي د یهودیانو یو معبد چي کنډوالې ئې اوس په کابل کي موجودي دي، د هغه تاریخ د بخت نصر وخت ته رسیږي. (د یهودیانو تاریخ ۲۲۴/۲۳۲ مخونه)

که څه هم د افغانانو د اصل او نسب په اړوند د مؤرخینو له خوا بېلابېلي څرګندوني سوي دي چي ځیني ئې قطبیان هم ګڼي لکه ابوالفضل چي لیکي: "ځیني وایي چي افغانان قطبیان دي او کله چي اسرائیل له بیت المقدس نه مصر ته ولاړل، دغه خلک هندوستان ته راغلل ...." (ابوالفضل، آئین اکبري، انګرېزي ژباړه، دوهم ټوک، ۷ -

۴ مخونه.)

او يا دا چې فرشته بيا د يوه بل اثر په حواله دوی قطبيان ګڼي او وايي چې افغانان فرعون الاصله قطبيان دي. کله چې موسی پيغمبر هغه کافر فرعون ته ماته ورکړه او په سره بحيره کې غرق شو، ډېر قطبيانو د يهوديانو دين ومانه او له خپل ملکه هندوستان ته ولاړل. په نهايت کې د سليمان په غرونو کې مېشته او د افغانانو په نامه ياد شول. (فرشته، محمد قاسم، تاريخ فرشته، د برګزژباړه، ۱- ۴ مخونه)

ډرون بيا افغانان او جرمايان د ترکانو سره ګډ کړي دي. دی ليکي: "امير مبارزالدين مظهر ... په دې فکر کې ؤ چې ښايي اوغانان او جرمای او ترک به د هغه مظفرانه بيرغ لاندې راټول شي چې د بم په لاره ولاړل او د جيرف په دښته کې ئې واړول." (ډورن، د افغانانو د تاريخ ياداښتونه، ۶۶ مخ انګريزي)

خو کرنسکي چې اصلاً پولنډی دئ او ۱۷۲۰-۱۷۲۵ پوري په اصفهان کې اوسېدی، افغانان له اصله ارمنيان بولي او ارمنيان له ډېري پخوا څخه د (اغوانانو) په نامه ياد سوي دي. دی وايي چې ګوډ تېمور (افغانان) له شيروان څخه داسي يو ملک ته وشړل چې د فارس او هندوستان تر منځ پروت دئ چې وروسته د فارس په انقلابي تاريخ کې په صراحت ويل شوي دي چې دا ځای همدا د افغانستان کندهار دئ.

دغه راز بيليو هم افغانان د اصل او نسب په لحاظ د ارمنيانو سره تړي او حتی د (افغان) کلمه هم د ارمنيانو د (اغوان) يو نوی شکل ګڼي. دی په خپل يوه (د افغانستان د قوم پيژندني مطالعه) نومي اثر کې چې پخوا مو ئې هم يادونه کړې ده، د پښتنو د اصل او نسب په هکله د اوږده بحث په ترځ کې وايي: "پښتانه د هغوی د خپلي عنعنې پر اساس له لرغوني يوناني مؤرخ هيرودتس څخه تقريباً يوه نيمه پېړۍ او له لرغوني يوناني جغرافيه پوه سترابونه کابو څلور نيمي پېړۍ پخوا په غور کې اوسېدل.

په داسي حال کې چې په خپله پښتنو هم په خپله قومي شجره کې د افغان په نامه کوم قوم يا اولس نه دئ ياد کړی. بيليو زياتوي چې عربان دمخه تر دې چې د خپلو فتوحاتو په لړ کې افغانستان ته ورسيږي د (اغوان) يا (اوغان) له نامه سره د ارمنستانو د غرنيو خلکو په مفهوم، بلد وو نو کله چې د پښتنو غرني ملک (غور) ته ورسېدل، پښتانه ئې هم د (اوغان) يا (افغان) يعني غرنيو خلکو په نامه ياد کړل.

بیلیو وايي چي دا امکان هم شته چي د غور پښتانه خپلو ګاونډیانو د عربو له ور رسېدلو نه مخکي (افغانان) بللي وي او بیا وروسته عربانو هم په همدې نامه یاد کړي وي. نو دی وايي چي که دا خبره درسته وي نو دې نتیجې ته رسیږو چي د غور اوسېدونکي اصلاً له ارمنستان څخه راغلي (اغوانان) وو او له یهودانو او د غور له ځایي اوسېدونکو سره ئې یوه ګډه او واحده ټولنه جوړه کړې وه." (بیلیو، د افغانستان د قوم پېژندني مطالعه، ۲۰۴ مخ)

# دوهم څپرکی

**د پښتنو نسب د ژبنيو څېړنو په رڼا کې:**

د ژبي او نسب تر منځ نه شلېدونکي اړيکي موجودي دي. ژبه تل د يوه قوم د شجرې او نسب په بحث کي د سيکې د دوهم مخ په څېر څېړل کيږي. نو موږ چي په دې کتاب کي زياتره د پښتنو د نسب په تېره بيا د بي اسرائيليت په اړوند خبري کوو نو خامخا له دې پوښتني سره مخامخ کيږو چي د قيس قوم ولې پښتو ويله؟

نو دا به داسي وه چي په دغو سيمو کي د پښتنو پراخي پرګنې موجودي وې چي د قيس نيکونه ئې پښتانه کړي وه، نو بيا له دې څخه دا نتيجه اخيستل کيږي چي اوسني پښتانه د قيس اولاده نه بلکي د خپلو نورو نيکونو اولاده ده چي قيس ته ئې پښتو ورزده کړې ده.

برسېره پر دې، د ا پوښتنه هم رامنځته کيږي چي خالد بن ولد قيس ته په کومه ژبه داسي ليک ولېږی چي قيس ئې د خپلو ټولو خپلوانو سره د اسلام دين منلو ته وهڅوی ځکه چي د خالد بن وليد پښتو نه وه زده او هم قيس په عربي نه پوهېدی؟

دغه راز په تاريخونو کي راغلي دي کله چي قيس د حضرت محمد (ص) په ليدلو مشرف سو نو حضرت محمد (ص) ورته وفرمايل چي ستا نوم (قيس) عبراني نوم دئ دا بايد عربي نوم ته راواړوو نو ئې د عبدالرشيد نوم ورباندي کښېښودی چي وروسته د قيس عبدالرشيد په نوم ياد سوی دئ. که څه هم په ځينو تاريخي ليکنو کي موږ لولو چي پښتو ژبه ئې هم په عبراني ژبي پوري تړلې ده خو لوی استاد حبيبي صاحب د دی نظر په خلاف ليکي چي: "د دې ژبي نوم پښتو دئ چي د افغان ملت ژبه ګڼل کيږي، مګر د (افغان ) نوم ايرانيانو پر دوی ايښی دئ اصلاً دوی هغه پکهت Pakhts قوم دئ چي په ريګويدا کښي ئې نوم راغلی او وروسته هيرودوت د پکتويس Paktves په نامه ذکر سوی

دئ.

د افغان نوم هم په پخوانیو اثارو کښې ریښه لري، مثلاً د هند په پورانا کتاب کښې چې اسواکاس راغلی دئ یا ستراترابون Strabon یوناني مؤرخ چې په لومړۍ میلادي پېړۍ کې او ټکنوای ذکر کړی دئ. دا هغه اوګانا Avagana یا آوګانا دئ چې د هندوستان مشهور منجم وراهمیرا Varhamihirai په شپږمه میلادي پېړۍ کښې او ټکنوای ذکر کړی دئ. په هر صورت خو د دوی اصلي نوم پښتون او د ژبې نوم ئې پښتو ده دا ژبه لکه پخوا چې خلقو په عبراني Hbrew پوري نښلوله، اوس سوچه آریایي ژبه ثابته سوه او لکه د پامیر غلچه او بلوڅي ژبې چې آریایي ژبو په پاړسو او شرقي کورنۍ یعني زند Zend پوري اړه لري دغسې پښتو هم اساساً د دغې کورنۍ څخه ده." (هماغه اثر: ۳۷ مخ)

دا هغه پوښتنې دي چې تاریخ پوهان به د څېړنو په نتیجه کې جواب ورته وایي خو موږ به اوس د پښتو ژبې او د هغې تاریخي ریښې چې ښایی د دغه راز پوښتنو سره څه ناڅه مرسته وکړي وڅېړو:

د ژبو د لرغوني تاریخ پر بنسټ ویلای سو چې آریایي اقوام په خپل زړه آریانا ویجه Aryana Vaeje یعني د آمو دریاب له سرچینو څخه خپاره سول او په بخدي او باختر کې ئې مدنیت جوړ کړ، وروسته نو له دغه ځایه یا د هند او یا هم د ایران خوا ته ولاړل. دوی ځیني مشهوري قبیلې لرلې چې له هغو څخه یوه نامتو قبیله پکهت یا پښتون وه، د دې نامه تاریخی څېړنه او لرغونتوب د پښتو ژبې اصالت او قدامت هم څرګندوي.

پښتون چې د باختري آریائیانو یوه ډله ده، تر اباسین پوري ولاړل او د دوی یو نامتو دیني کتاب ریګویدا تر اوسه پاته دئ. دا کتاب د آریایي قومونو په تاریخ کې ډېر اهمیت لري. د هغه عصر ډېري پېښې څرګندوي ځکه چې ډېري برخې ئې زموږ د وطن په غرونو، دریابونو او مځکو پوري اړه لري نو څېړونکي دا تاریخ زموږ د هیواد پخوانی کتاب ګڼي.

دا لرغونی کتاب ریګویدا چې زموږ د پخواني تاریخ زیاتي تاریکي برخي روښانه کوي. د لیکلو نېټه ئې (۱۴۰۰ ق م) ته رسیږي. که موږ وغواړو چې د پښتو ژبې تاریخ وڅېړو نو باید څرګندہ کړو چې دا قوم له کومه وخته په تاریخ کې ځای نیولی دئ؟

یعني د پښتون نوم او مدنیت د ویدا همزولی دئ او پرته له دې نومونو څخه نور نومونه هم په ریګویدا کې راغلي دي. خو برسېره پر ریګویدا د اوستا کتاب چې د بلخ په

ورشوګانو کي کابو (۱۰۰۰ ق م) کي لیکل سوی دئ، هم د پښتو ژبي د لرغوني ريښي څرک په لاس را کوي. استاد عبدالحی حبیبي لیکي:

"تر ویدا وروسته زموږ د هیواد یو مهم تاریخي سند د (اوستا) کتاب دئ چي د میلاد څخه زر کاله وړاندي د بلخ په شاوخوا کي کښل سوی دئ او زموږ د هیواد تاریخی وثیقه ده. په دې کتاب کښي صراحتاً د پښتون یا پکهت نوم نه دئ راغلی خو موږ ویلای سو، چي دغه کتاب هم د دې اولس له نومه خالي نه دئ. په دې ډول دمخه وویل سوه چي د آریا د توکم مرکزي هیواد بخدي یا باختر، بلخ دئ لکه چي ښکاره ده ویدا پکهت، د هیروډوت پکتي یا پکتس سره یو دي چي دغه نومونه بخد او بخت او بیا هم وروسته پخت، پکت او پښت سول او د بخدي د زاړه نامه ريښه اوس هم په پښتون کي سته. دا نوم په وروستي ویدي ادب کښي بلهیکا Balhika راغلی دئ، چي د ویدا په یوه برخه اتروا ویدا Atharva veda کښي کټ مټ دغسي ضبط دئ او په پهلوي ادب کښي هم بخلی، بخل، باخل راغلی دئ (آریانا ص ۹۴- ۱۱۵- ۱۱۷). په مها بهارت کښي بهیلکا کښل سوی دی. (اردو مهابارت) او پانیني Panini د سانسکریت د نامه مؤسس او د صرف نحو عالم هم تر میلاد دمخه څلورمه پیړۍ کښي په بهیکه قبیلو کي ډېر قبایل راوړي او هغه ټول بلخیان بولي. په خپله په اویستا کي د ارایانو د هیواد شپاړس نومونه راغلي دي. څلورم ئې بخدي دئ (وندیداد – لومړی فرګرد) چي په اوستا کي بخدیم سریرام (ښکلی بلخ) هم بیا ذکر سوی دئ او لکه د اوستا فرهنګ (ص ۱۱) چي لیکي د دې نامه عنصري توري (ب، الف، خ، د، ي) یا (ب، الف، خ، د، ر، ي) دي چي باخدي یا باختري ځني جوړیږي." (حبیبی، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، ۳۰ مخ)

دا خو تر اوسه یوه منل سوې خبره ده چي آریایي قومونو په خپل لومړني ټاټوبي یعني (آریانا ویجه) کي ځانته یوه ځانګړې ژبه درلوده چي له هغې ژبي څخه وروسته ایراني، بخدي ژبي راوتلي دي. په لومړنۍ آریایي ژبي کي تر اوسه څه معلومات د پوهانو لاسته نه دي ورغلي او نه هم چا څه پکښي ویلي دي، خو دومره ویل کیږي، لکه دوی چي مذهب، ملي دودونه او رسومات درلودل نو ښایي چي بیله ژبه به ئې هم درلوده. خو دا نه معلومیږي چي اصلي آریایي ژبه کومه او څنګه ژبه وه او څومره زمانه ژوندۍ پاته سوې ده؟

د ډاکټر ګوستاولوبون په حواله ویلای سو چي: "مخکي له دې چي آریایان تیت او خپاره سي دوی یوه ژبه درلوده چي نوم ئې (آریک) وو، چي دا ژبه اوس ورکه ده، خو سنسګریټ ژبه له هغې ژبي څخه راوتلې ده. (تمدن هندی: ۱۸۴مخ).

اصلي آریایي ژبه چي د ټولو آریایي ژبو مور یا انا بلل کیږي، لږ تر لږه د میلاد څخه درې زره کاله مخکي ویل کېده او د دوی ګډه ژبه وه خو اوس ئې هیڅ نښه او نښانه نه ده پاته، له دې امله چي د آریایانو تاریخ او لیکني تر (۱۴۰۰ق م) پوري رسیږي. خو دومره ویلای سو چي سنسکریت، اوستا، زړه پاړسو درې سره له دغي اصلي آریایي ژبي څخه زېږېدلي دي. (هماغه اثر: ۱۰۸ مخ)

نو په نتیجه کي ویلای سو چي پښتو د هندو اروپایي ژبو څخه ده، ځکه چي د آریایي پښت زانګو دغه زموږ د هیواد سیمي دي، نو اصلي آریایي ژبه هم دلته ویله کېده او همدلته پاته ده او لور ئې (پښتو) تر اوسه په دغو غرو کي ژوندی ده. خو د آریایي اقوامو نوري ژبي لکه د ویدا ژبه (سنسکریټ) د اوستا ژبه (زند) د پښتو خوندي دي لکه لوی استاد حبیبي چي وایي: پښتو ژبه تر دې دواړو نورو ژبو خپلي آریایي مور ته نژدې ده، او تر اوسه هم په پښتو کښې زاړه آریایي کلمات له اصلي آریایي ژبي څخه پاته او ژوندي دي. (حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ: ۲۴ مخ)

که د ژبو تکاملي سیر ته وګورو نو موږ وینو چي په عمومي ډول ژبپوهانو ژبي پر درو غټو ښاخونو وېشلي دي چي د جرمانیک، سلاویکي او رومي ژبو څخه عبارت دي. خو د ژبو دغه درې ګروپونه یو په بل پوري تړلي نه دي او په ډېرو برخو کي ورته والی سره لري. ژبپوهان وایي چي دغه درې ګروپونه په یوه بل غټ ګروپ پوري اړه لري چي د (هندو اروپایي ژبي) په نامه یادیږي.

په لنډ ډول ویلای سو چي د هندو اروپایي ژبي ګروپ له درو مخکي ویل سوو ګروپونو څخه جوړ سوی دئ. د اروپا ځیني نوري ژبي لکه یوناني ژبه، بالتیکي ژبه او الباني ژبه هم په هندو اروپایي ژبو کي شاملي دي. د ایران ځیني ژبي لکه فارسی او د هندوستان د ځینو مهمو ژبو څخه هندي ژبه هم په دې ګروپ کي راځي او همدارنګه هغه پخوانۍ ژبي چي متنونه ئې تر اوسه هم پاته دي، پکښې شاملي دي. د بېلګي په توګه د سانسکریت ژبه چي په هند کي ویل کیږي.

ژبپوه توري يانسن ليکي: "ژبي يو له بله سره توپير لري موږ سويډنيان په هندو اروپايي ژبه خبري کوو مګر موږ د فارسي ژبی يا هندی ژبي په يوه لغات هم ښايي پوه نه سو په داسي حال کي چي دا دواړي ژبي هندو اروپايي ژبي دي. علت ئې دا هم دئ چي دا ژبي ډېره زمانه سره جلا وې. هري ژبي د خپلي طريقې سره پرمختګ کړی دئ. مګر بيا هم څوک بايد په دې ډاډه واوسي چي دا ژبي په يوه ګروپ پوري اړه لري. د دې خبري اثبات سړی په هغو پخوانيو سندونو کي پيدا کولای سي، کوم چي دا ژبي ئې سره پرتله کړي دي. دا ژبی عبارت دي له: سانسکريت ژبه، انتيکه يوناني ژبه او لاتينی ژبه. دا ژبي له لرغوني جرمانيک او سلاواکي ژبو څخه جوړي سوي او بيا اصلاح سوي دي. ځکه چي موږ په لومړي ګام کي هغه مهم ټکي ليدلای سو او په دوهم ګام کي ئې هغه توپير چي د دوی د آوازونو د سيستم او ګرامر تر منځ چي اکثره په منظم ډول موجود دئ، ليدلای سو." (يانسون، توري، د ژبو تاريخ، د داود هوتک پښتو ژباړه: ۴۶ مخ).

که څه هم د دې کتاب په ليکلو کي زموږ د بحث موضوع ژبه او د هغې تاريخي ريښې نه دي بلکي زه تر وسه وسه زيار باسم چي د پښتنو د اصل او نسب په تېره بيا د اسرائيليت په اړوند چي د کورنيو او بهرنيو څېړونکو له خوا بېلابېلي او کله کله متضاد اندونه ښودل سوي دي، په هکله وږغېږم. نو دلته نه غواړم چي په تفصيل سره د ژبي پر ريښه او تاريخچه زياتي خبري وسي. يوازي غواړم چي لږ تر لږه دا وښودل سي چي کله قيس عبدالرشيد د غور سيمو ته راغلی آيا دلته پښتانه او پښتو ژبه موجوده وه؟ ځکه چي اسرائيلو خو په عبراني ژبه خبري کولې. او يا دا چي ويل کيږي چي افغانان د اسرائيلو د لسو ورکو سوو قبيلو څخه يوه قبيله ده چي د مهاجرت وروسته دلته مېشته سويده او همدارنګه پښتو دارياني (ايراني) ژبو د کورنۍ د ختيځې څانګي يوه ژبه ګڼي نو که دلته سړی پښتانه اسرائيل وګڼي نو بيا دا پوښتنه پيدا کيږي چي ژبه ئې څنګهارياني سوه؟ او همدارنګه هغه خلک څوک وه او څه سول چي د اسرائيلو څخه رابېلي سوي قبيلې مخکي ئې، پښتو ژبه ويله او کله چي دوی راغله نو دوی هم دا ژبه زده کړه او په هغو کي حل سول؟

او يا دا چي خالد د قيس عبدالرشيد سره په کومه ژبه ږغېدی چي قيص ئې د حضرت محمد (ص) حضور ته وروستی او داسي نوري پوښتني موږ دې ته اړ باسي چي

په دغو سیمو کې د ژبې تاریخي ریښه څه ناڅه وڅېړو.

موږ دا منو چې کله یو قوم یا قبیله له یوې سیمې څخه بلې ته کوچ وکړي نو په نوې سیمه او شرایطو کې د وخت په تېرېدو سره خپله ژبه او کلتور له لاسه ورکوي خو جنتیکي بدلون ئې امکان نه لري. غوره بېلګه ئې د هزاره قوم دئ، چې ویل کېږي د چنګېز د پاته سوو خلکو له جملې څخه دئ، موږ وینو چې په ژبني او کلتوري مسایلو کې ئې بدلون راغلی خو د جنتیکی پلوه د سوونو کلونو په اوږدو کې د هغوی په فزیکي جوړښت کې څرګند بدلون نه دئ راغلی. ځکه نو دا د حیرانتیا خبره ده چې د یوې بلې ژبې او نژاد خلک دي دلته راسي او د بومي او ځایي خلکو سره یو شان سي؟

که څه هم څېړونکي (سر اولف کارو) غوریان تاجکان بللي دي خو د غوریانو د دورې له لاسته راوړل سوو اثارو څخه په ډاګه ښکاري چې غوریان پښتانه او ژبه ئې پښتو وه. د دې خبرې د ثبوت د نورو دلایلو تر څنګ یو دا هم کېدای سي چې سلطان محمود غزنوي کله چې پر غور یرغل کاوه نو ترجمانان ئې له ځانه سره بوتلل چې د غور د خلکو په ژبه پوه سي. نو څرنګه چې ویل کېږي سلطان محمود د نژاد له مخې ترک وو نو ترکي خو ئې زده وه او فارسي ئې هم د دربار ژبه وه نو طبعاً په غور کې د پښتو ژباړن ته اړتیا موجوده وه.

کارو په دې عقیده دئ چې افغان او پټان له یوه نسله نه دي او پښتانه ئې پر افغان او پټان سره بېل کړي دي. خو زیاتره څېړونکي له دې جملې څخه مرحوم اکادمیسن عبدالشکور رشاد د ده د نظر پر خلاف پښتون او پټان د یوه قوم بېلابېل نومونه ګڼي او په هغه سیمینار کې چې په ۱۹۷۵ کال کې د افغان – هند د کلتوري اړیکو تر سرلیک لاندي د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په نوښت جوړ سوی وو د یوې څېړنیزې مقالې په ترځ کې د ځینو نورو انګریزانو د نظرونو تر څنګ د سر اولف کارو دا نظر چې پښتانه ئې پر افغان او پټان سره بېل کړي دي په کلکه توګه په علمي دلایلو رد کړی دئ. (رشاد، پوهاند عبدالشکور، پښتانه - پټان، وږمه، کابل پوهنتون، ۱۳۵۴ هـ ش، ۳ کڼه ۲۱-۱۹ مخونه.)

د دې بحث په اړوند دا پوښتنه هم رامنځته کېږي چې مرکزي  افغانستان ته د اسرائیلو د دې ورکې سوي قبیلې تر راتګ مخکي په دې سیمو کې څوک اوسېدل او ژبه

ئې څه شي وه؟

د تاریخي څېړنو په لړ کي موږ ته روښانه سوې ده چي حتی د هخامنشیانو په زمانه کي د هندوکش د غره په شمال کي په دې ټولو سیمو کي  ایرانیان اوسېدل او په ایراني ژبو ئې خبري کولې او ټول د ساکانو په شمول د هخامنشیانو اتباع ګڼل کېدل. د ګندهارا د محلي ژبي په هکله په دې وخت کي زموږ سره معلومات نسته خو دا هم د منلو وړ نه ده چي دا سیمه دي د هخامنشیانو یو ولایت وي او دوه سوه کاله دي هغوی حکومت وربандي کړی وي او په ایراني ژبه دي خلک نه وي رږغېدلي. دې کي هم شک نسته چي هندوستان ته نژدی سیمه ده نو ښایي د هندي ژبي نښي نښانې به هم موندل سوي وي خو هونیان او ترکان لا تر اوسه صحنې ته نه وه راوتلي.  کله چي سکندر مړ سو نو د ځواک د نیولو پر سر ئې د جنرالانو تر منځ شخړي پیل سوې او په نتیجه کي د داریوش د امپراتورۍ ټوله اسیایي برخه د سیلیوکس تر واک لاندي راغله څو چي مقدونی جنرالان ډېر ژر له سیمي څخه وشړل سول. بیلوکیس په ۳۰۵ ق م کي د لښکرو مشر سو غوښتل ئې چي دا سیمي تر خپلي ولکې لاندي راولي خو په هند کي ئې د نوي ځواک له خوا ماته وخوړه  اراکوزیا، ګندهارا او ګندوزیا ئې هند ته پرېښودل. دا نوی ځواک چندراګوپتا په یوناني ژبه کي دئ چي د ساندرا اکوش په نامه یادیږي او په ۲۳۲ق م کي ئې د موریا کورنۍ بنسټ کښېښود. چندرا ګوپتا د اشوکا پاچا نیکه وو تر اشوکا وروسته د موریا پاچهي هم ونړېده، لاکن د موریا کورنۍ پر پېښور، صوبه سرحد، احتمالاً تر لغمان او کابل وادي پوري کابو سل کاله حکومت وکړ.

اشوکا بودایي مذهبه او پر بودیزم مین وو. مردان ته نژدې په شهبازګړ کي د ډبرو مجسمې او په ټکسیلا او لغمان کي د تیږو پر مخ لیکني د ده د مذهبي علاقې نښي نښانې موجودي دي. د هندوکش په لمنو، د بامیان په غره کي کیندل سوي مجسمې او نوري نښي نښانې تر بخارا پوري موجودي دي. موږ وینو چي بودیزم  له هندوستان څخه پیل او تر ختیځ ایران پوري ئې ټوله سیمه ونیوله.

خو د کرلاني قبیله په هغو وخت کي موجوده وه او لکه سر اولف کارو چي لیکي: "یوازینی انعکاس چي له هغه وخت څخه پښتنو ته پاته دئ هغه دا چي کرلاني قبیله پر دوو برخو وېشل سوې وه چي د کړ- غر او ساحل په نومونو یادیږي  خلک د دې دلیل

نه سي ويلای چي ولی دوې ډلي سوې خو نن ورځ چنداني ارزښت هم نه لري ... د موريا ليکني او رسم الخط د قبيلو په هکله څه نه وايي خو دا بايد هېر نه کړو چي دا قبيلې کابو يوه پېړۍ د هندي امپراتورۍ تر ولکې لاندي وې." (کارو، سراولف، پښتانه (پټان) ژباړه الحاج شېرمحمد کريمي، ۱۰۳ مخ)

دی زياتوي چي: "که د پښتو په هکله وړغيږو په اساسي ډول د ايراني ژبو څخه ده او د هندو – آرين څخه ئې زياتي کلمې را اخيستي دي او په گندهارا کي د چندرا گوپتا او اشوکا د تسلط له امله ئې د دوی کلتور هم تعقيب کړی دئ." (همدغه اثر: ۱۰۴ مخ)

د تاريخي او علمي څېړنو پر بنسټ موږ دا منو چي پښتو د آريک ژبي لور ده، او د اريايي توکم پخوانۍ کلمې اوس هم په دغه ژبه کي ژوندۍ پاته سويدي.

خو د تاريخ په اوږد کي د ارين توکم يوې او بلي سيمي ته کوچېدلی دئ په دې ډول نو د ژبو بېلابېلي څانگي څني رامنځته سوي دي لکه لوی استاد عبدالحی حبيبي چي وايي: "آرين ټُکم له بخدي څخه يا د هند خوا ته ولاړ چه ژبه ئې سنسکريټ سوه او د ويدا کتاب هم په دغه ژبه دئ، يا هغه قبايل دي چي ايران ته ولاړل، ژبه ئې قديم پهلوي او بيا اوسنۍ پاړسو سوه، اما هغه قبايل چي په خپله په بخدي کي پاته سول، کومه ژبه ئې ويل؟

زما په عقيده چي دوی پښتو ويله، ځکه چي وروسته دغه قبايل تر هندوکش راتېر سول دوی د بخدي په نامه (بخت/پکهت/پښتون) بلل کېدل او هغه تاريخي نوم دوی تر اوسه ساتلی دئ او هغه پخوانۍ ژبه هم دوی تر اوسه خوندي کړې ده. دی زياتوی چي پښتانه يعني د پښتو ژبي ويونکي هغه پخواني بخدي يا باختري آريائيان دي چي نورو ورونو ئې د ايراني يا توراني يا مغلو يا هندي اقوامو په تماس خپله ژبه هېره کړه، مگر فقط ښاغليو پښتنو تر اوسه ساتلې ده. په دې کي هيڅ شک نسته چي بخدی آريائيان (۱۴۰۰ ق م) يعني هغه وخت چي د هندي آريائيانو ديني کتاب ويدا ليکل کېدی، د پکهت په نامه مشهور وه په خپله په ريگويدا کښي هم د دوی نوم ذکر کيږي، نو چه دغه ملت په دغه نامه موجود وي د دوی ژبه هم بايد موجوده وي. له تاريخي اسنادو څخه ښکاره کيږي چي آريائي بخدي يا د پکهت اقوام پسله (۱۴۰۰ ق م) د هيواد شرقي غرونو او د اباسين غاړو ته تللي او دلې مېشته سوي وه. ځکه چي ريگويدا د دوی نوم د

هند په یوه مشهوره جنګ کښي ذکر کوي او هم وروسته (۱۰۰۰ ق م) په بخدي يا باختر کښي یوه بله ژبه پیدا کيږي چي زند ئې نوم دئ او د اوستا مشهور ديني کتاب په دغه ژبه دئ او بيا هغه وخت چي هيرودوت یونانی مؤرخ د پکهت او پاکتویس ذکر کوي، نو د (۵۲۰ ق م) په حدودو کي هم دوی د اندوس (اباسين) په غاړو کي ښيي.

ځکه نو لوی استاد وايي چي پښتانه آريائيان لومړی په بخدي کښي اوسېدل له هغه لومړني ټاټوبي څخه دوی د هغه ځای په نامه (بخت . پکهت) د خپلي زړي ژبي سره د (۱۴۰۰ تر ۱۰۰۰ ق م) پوري د اباسين غاړو او د هيواد شرقي غرو ته ولاړل، دوی خپل د بخدي پکهت نوم سره له خپلي ژبي وساته او تر اوسه هم  په دغه نامه ژبه مشهوره ده." (حبيبی، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ: ۱۹ مخ)

د دې لنډو او پر استدلال ولاړو څرګندونو څخه دا نتيجه اخستل کيږي چي پښتو له هندو اروپايي ژبو څخه ده ځکه چي د آريائي  پښت زانکو دغه زموږ د هيواد سيمي دي، نو اصلي آريائي ژبه هم دلته ويل کېده او همدلته پخپله پاته ده يا ئې لور پښتو  تر اوسه په دغو غرو کښي ژوندی ده.

د اريائي اقوامو نوري ژبي لکه د ويدا ژبه (سانسکريټ)، د اويستا ژبه (زند) د پښتو خوندي او تر دغو دواړو ژبو پښتو اصلي آريائي مور ته نژدې ده او تر ا وسه هم په پښتو کښي زاړه آريائي کلمات له اصلي آريائي ژبي څخه  پاته او ژوندي دي.

دغه راز زموږ وتلی تاريخ پوه مير غلام محمد غبار (افغانستان در مسير تاريخ کي) په دغه اړوند څرګندوي چي اويستا د خپل څو زره کلن تاريخ په اوږدو کي نه سوای کولای چي  په خپله اصلی بڼه  ثابته پاته سي. دی ليکي:

"البته اوستا در طول چند هزار سال در زير حوادث مختلف تاريخی، نميتوانست په ترتيب و تدوين اصليت خود، خالص و کامل باقی بماند. تفسيريکه در پهلوی بر اويستا نوشته شد (زند) ناميده شد و تفسير را (پازند) گفتند. امروز قسمت کوچک (گتها) از اويستا به رسم الخط (دين دبيره) در کوپنهاگن دنمارک موجود و تاريخ کتابت آن متعلق به قرن چهارده ميلادی است. رسم الخط (دين دبيره) در قرن ششم ميلادی برای نوشتن اويستای عهد ساسانی په ميان آمد، زيرا الفبای معمولی، اعراب نداشت و قرائت کلمات مذهبی شکل صحی مشکل بود لهذا در آن تصرفات نموه، حروف علت را

در حروف صحیح داخل کردند و دین دبیره نامیدند. از گاتهای اویستا معلوم میشود که دیانت زردشتی بر مبنی توحید و یگانه پرستی قرار داشت، از بهیشت، دوزخ ، برزخ، صراط، میزان و حسات سخن میزند. همچنان بر ضد قربانی و کشنت گا، دروغ، رهزنی، بیابان گردی، چپاول و شر، شعار میدهد، و بشهر نشینی، زراعت، مالداری و راستی تشویق مینماید. عالی ترین اوامر اویستا در این کلمات خلاصه شده: پندار نیک، گفتار نیک، کردار نیک." (غبار، میر غلام محمد، افغانستان در مسیر تاریخ، لومړی ټوک: ۳۶ مخ)

ډورن چي د نعمت الله هروی تاریخ ئې په انګریزي ژبه ژباړلی او یو شمېر زیاتي ارزښتناکي یادوني ئې له کتاب سره ضمیمه کړي دي، د هغه روایت په اړوند چي پښتانه بني اسرائیل ګڼي، لیکي: "دا چي د فارسي ژبي مؤرخین پښتانه د یهودو له نسله ګڼي دا لیکوالان روایات، پرته له دې چي د حقایقو ماهیت راوسپړي، د خپل دود له مخي ئې د مسلمو حقایقو په توګه ثاتبوي.

او دا چي د افغانانو او یهودیانو نومونه سره یو شی دي. د دې دلیل دا دئ چي افغانان مسلمانان دي. د مسلمانانو او یهودیانو نومونه مشترکه تاریخي او قومي منبع لري. دا چي د افغانانو ځېرې بیخي یهودانو ته ورته دي. دا هم د دې دلیل نه شي کېدای چي پښتانه د یهودانو له نسله دي. ډورن د دې خبري د تائید له پاره د جان ملکم دا عبارت را اخلي "چي که د دوو ولسونو د ځېرو سره ورته والی د دې دلیل کېدای شي چي هغوی دي له عیني نسله څخه وي، هلته نو بیا کېدای شي چي کشمیریان هم د خپلو ځېرو له امله د یهودانو له نسله وګڼو، ځکه چي یو شمېر لوېدیځ کشمیریان هم، کټ مټ یهودانو ته ورته بولي."

ډورن د هغه روایت په ردولو کي چي وایي پښتانه له کوم بل ملک نه افغانستان ته نه دي تللي، بلکي څرنګه چي سرویلیم جونز وایي د لرغوني پارو پامیرزاد (مرکزي افغانستان او شاوخوا سیمي) اصلي او ځایي اوسېدونکي دي. دی زیاتوي چي: تاریخ ثابته کړې ده چي د غزنوي سلطان محمود د واکدارۍ په وخت کي او د هغه نه ډېر پخوا دوی (افغانان) په هغو کلاوو کي آباد وه چي تر اوسه پکښي مېشت دي. ډورن هغه روایات او اندونه هم ردوي چي پښتانه ارمنیان بولي او وایي چي سړی د ارمنی اوغانانو تاریخي

سوابق د سینټ مارټن په هغه اثر کي ولولي چي د ارمنستان خاطرات نومېږي نو سمدستي په دې قانع کېږي چي ارمني اغوانان او پښتانه یا افغانان یو شی نه، بلکي دوی بېخی سره جلا اولسونه دي.

ډورن په پای کي پښتانه د هند او اروپايي اولسونو د ستري کورنۍ غړي بولي مګر په عین حال کي ئې ځانته یو لرغونی اولس ګڼي. او وايي چي زه دا خبره منم چي افغانان به د هغي ستري کورنۍ غړي وي چي جرمنیان، هندیان، سلوانیان او یونانیان ور پوري تړلي دي خو لکه څنګه چي مور د دې له پاره هیڅ تاریخي ثبوت نه لرو چي وښیو چي یونانیان یا جرمنیان د هندیانو اولاده ده، دغه راز دا هم په یقین سره نه شو ویلای چي افغانان د لرغونو فارسیانو یا هندیانو اولاده ده." (ډورن، د افغانانو تاریخ، یاداشتونه: ۵۱- ۵۴ مخونه)

لکه څنګه چي پوهاند عبدالحي حبیبي څرګنده کړې ده، پښتو ژبه د سانسکریت او اویستا خور ده څومره لرغونتوب چي سانسکریت او اویستا لرلی، پښتو هم همدومره پخوانۍ او لرغونې ژبه ده. په دې درو واړو ژبو کي دومره توپیر سته چي اویسا او سانسکریت اوس مهال ویونکي نه لري یوازي په لرغونو اثارو کي موندل کېږي خو پښتو په خپل لرغوني ټاټوبي کي فعاله او ژوندۍ ده چي بله هیڅ سیمیزه ژبه ورسره سیالي نه لري. دا ژبه ځکه د خپلو نورو خویندو په څېر ورکه نه سوه چي د دي ژبي ټاټوبی غرنی دئ.

له یوی خوا د دې سیمو اوسېدونکي پښتانه خپلو سیمو ته بد سترګي نه پرېږدي او له بله پلوه هغه پټي شتنمۍ چي په دې سیمو کي خوندي دي نو دا شتمنۍ کېدای سي چي د ساینس او تخنیک په مرسته تر لاسه سي چي له بده مرغه پښتانه دا نیمګړتیا لرلې ده او د پردیو سره هم دومره پوهه او علم نه وو چي هڅه ئې کړې وای چي د ځان په ګټه ئې دغه شتمنۍ را سپړلي او خپلي کړي وای. که بهرنیانو کله کومه هڅه هم کړې ده خو د پښتنو د سخت مقاومت سره مخامخ سوي دي چي یا په خپل تصمیم پښتانه سوي او یا هم ناکامه تښتېدلي دي.

نو د همدغو علتونو پر بنسټ پښتو ژبه لا تر اوسه پوري پاته سوې او پټه شتمني ئې لا تر اوسه خوندي ده.

لکه چي وویل سوه کله چي د اسرائیلو ورځ خرابه سوه او د بابل پاچا بخت النصر وربانديي مسلط سو نو بخت النصر ډېر اسرائیل ووژل او یو شمېر زیات ئې بندیان بابل ته بوتلل، یو شمېر نور ئې وتښتېدل چي د دغو تښتېدلو یوه برخه د غور غرونو ته پناه یووړه او بله برخه ئې د مکې شریفي په شاوخوا کي مېشته سول خو د غور په سیمو کي پخوا هم پښتانه اوسېدل چي دغو راتښتېدلو اسرائیلو د غور پښتنو ته پناه راوړل نو بن اسرائیل په پښتنو ګډ سول او له هغوی سره پښتانه سول خپله اسرائیلي ژبه (عبراني) ورځخه پاته سوه او خپله ژبه ئې پښتو سوه.

د پښتنو د نسلي اساس په لړ کي د بني اسرائیلیت نظریه تر ټولو زړه او لومړۍ ژبنۍ نظریه ده. دا په لومړي ځل د مغل پاچا جهانګیر (۱۶۱۲ز) د یوه سپهسالار خان جهان لودهي په لارښوونه د مغل دربار یو منشي نعمت الله هروي د هیبت خان کاکړ په مرسته په مخزن افغاني نومي کتاب کي وړاندي کړه.

د دې نظرېي په ځایي پلویانو کي قاضي عطاءالله، حافظ رحمت خان، زرداد خان، افضل خان ختک او روشن خان او په مستشرقینو کي سرویلیم جونز، الیکزینډر برنس او راورټي د یادوني وړ دي. د خوشحال خان ختک له یو شعر ځخه داسي برېښي چي هغه هم د دې نظرېي پلوی وو.

بیلو هنري هم د پښتنو د تاریخي ریښې په هکله زیاتي ځرګندوني کړي او لیکي چي "... هېرودوتس چي د تاریخ د پلار په نامه یادیږي، د اندوس سیند د پولو او یا هم د افغانستان د ختیځو سیمو په اړوند د پکتیا، پکتیکا د لرغوني پارس د امپراطورۍ د ختیځو پولو په نامه یادي کړي دي چي اوس هم په دغو نومونو یادیږي. د دغو سیمو اوسېدونکي په هم هغه لرغونو ختونو کي د هېرودوت په قول د بختو، پختون Pkhtun چي د بېلابېلو قبیلو علاقه او سیمه وه او وروسته بیا د پښتون د هیواد په نوم نومول سوی دئ. د هغه ځای اوسېدونکو ځانونه پښتانه بلل چي دغه پښتانه په هندوستان کي د پټان په نامه یاد سوي دي." (د بیلیو هم دغه کتاب: ۱۹۸ مخ)

موږ وینو چي د افغانستان په ختیځو سیمو کي ځومره زیاتي ژبي او لهجې رامنځته سوي چي د لوړو او غرنیو سیمو سره ئې اړیکي لرلي. د هېرودوت پختا او پټان نومونه د دغو غرنیو سیمو اوسېدونکو ته ویل سوي دي دا هم هغه وخت چي دغه برخه د پارس

د امپراتورۍ یوه برخه وه. په دې ډول موږ وینو چې د افغانستان د ختیځو سیمو ټول نومونه لکه بختون، پټان، روهیلا Rohle کوهستانی، یا روهي یا باروهاوي داراډا Darada او ډاراډو Daradu ټوله تقریباً د غره او غرني په مفهوم دي.

دغه راز هنري راورتي چې پښتانه اصلاً د یهودو د لسو ورکو شوو قبیلو څخه ګڼي نو پښتو هم یوه عبراني ژبه بولي. لیکي چې: "د پښتو ژبې د افعالو او ضمایرو له خصوصیاتو او ځینو نورو مشخصاتو نه داسي ښکاري چې دا یوه عجیبه او لرغونې ژبه او له هري بلې ژبې نه متفاوته ده." (راورتي، پښتو ډکشنري، سریزه ۱۲ مخ)

د پښتنو دا دومره لوی قوم او د هغو د استوګني دا پراخه ساحه ښیي چې دا قوم د همدې سیمې زېږنده دئ او د کوم بل ځای څخه نه دئ راغلی. د امیر کروړ جهان پهلوان شعر چې په هغه زمانه کې ویل سوی دئ هم د ترکیب او هم د معنا له پلوه یو پوخ شعر دئ. د دې شعر پوخوالی دا ښیي چې پښتو په همدغه سیمه کې پیدا سوې، وده ئې کړې او پخه سوېده.

یو شمېر ژبپوهان په دې عقیده دي چې پښتو د سانسکریت او اوستا مشره خور ده. موږ وینو چې په پښتو او هندي ژبو کې د متعدي ماضي فعل ورته والی لري چې دا ښیي د سانسکریت ژبي ویونکي په پښتو ویونکي تېر سوي او هند ته تللي دي ځکه چې هندي ژبه د سانسکریت ژبي زېږنده ده او دا د متعدي ماضي ورته والی به د پښتونخوا څخه سانسکریت ژبي وړی وي او بیا به ئې خپلي هندي ژبي ته په میراث پرې ایښی وي. موږ ګورو چې په پښتو کې په متعدي ماضي کې فعل د مفعول مطابق بدلیږي، که مفعول مفرد وي فعل ورسره مفرد راځي او که جمع وي فعل ورسره جمع راځي که نارینه وي فعل نارینه راځي او که مفعول ښځینه وي فعل ورسره ښځینه راځي لکه:

ما انار وخوړل - ما مڼه وخوړله یا وخوړه.

په هندي کي همدا ډول فعل د مفعول مطابق بدلون مومي.

لکه چې مخکي یادونه سوې ده ارواښاد اکادمیسن رشاد پر دې ټینګار کوي چې پښتانه اریایي نژاده او ژبه ئې هم د هندو اروپایي ژبو له جملې څخه ده چې که د ژبني پلوه دا موضوع وڅېړو نو په ډاګه داسي ښکاري چې د پښتنو پښت او نسب له یهودو او اسرائیلو څخه نه دي. استاد عبدالشکور رشاد د څو ژبنیو بېلګو په ښودلو سره داسي

وايي:

"پښتانه اريايان دي حتی په موږ کي کله کله ويل کيږي چي دا سپين پښتون دئ. له دې کلمې څخه دا معنی اخيستل کيږي چي سامي النسله داسي گندم رنگه سياهي ته مايل خلک وه او دې ته چي سپين پښتون وايي معنی ئې دا ده چي دا اريايی الاصله خلک دي او بل د ژبي له لحاظه تاسي ورته وگورئ چي په پښتو ژبه کي داسي کلمات سته چي هغه اوس هم په انگليسي کي په دغه معنی باندي مستعمل دي. په روسي کي، په سلاوي ژبو کي په دغه معنی مستعمل دي. په لاتيني ژبو کي په دغه معنی مستعمل دي، او دا د ژبي د اشتراک له پاره يو لوی سند دئ او داسي فکر کيږي چي غرب ته تللي اروپايي اريايان او شرق ته راغلي شرقي او اسيايي اريايان يو ځای اوسېدل. دوی مشترک تهذيب او تمدن درلودی او د هغوی له پاره ئې هغه لغات ساتلي دي چي په هغه وخت کي ويل کېدل اوس ئې هم د اروپا په غرب کي او د افغانستان په شرق کي په هغه ډول وايي. زه به لږ مثالونه درته ووايم تاسو وينی چي غوا، غوايی. عوسی چي اوس ئې خوسی بولي په ژبه کي لرو او زما په فکر د دې پخوانی شکل چي دی گوا ، گويی او گوسی دئ، ځکه (غ) پخوانی تلفظ (گ) دئ او موږ گوروان، گورم او گوهر کي هغه (گ) ساتلی دئ او تاسو وينی چي فارسی کي (گاو) ورته وايي او په اردو کي (گای) ورته وايي او په انگليسي کي غوا ته (کاو) وايي. خوسي ته (کاف) وايي او په هالنډي ژبه کي (کو) ورته وايي او په جرمني ژبه کي هم (کو) ورته وايي. نو تاسي چي سلاوي ژبي ته راسی که څه هم په سلاوي ژبه غوا ته (کروه) وايي او غوايي ته (بويک) وايي.

مگر د غوښي بحث چي راځي او د غوا غوښي ته (گوياژينه) وايي هلته (گو) کلمه پکښي موجوده ده تاسي د حيواناتو په سلسله کي دا مثال واورېدی، تاسو سماوي اجرامو يا اسماني موجوداتو ته ولاړ سئ او هلته وگورئ چي موږ (ستوری) وايو په پاړسی کي (ستاره) ورته وايي په سنسکريت کي (ستارا) بلل او (س) ئې ولوېدی اوس ئې په اردو کي (تارا) بولي او په انگليسي کي ئې (ستار) بولي او په جرمني کي ئې هم دغسي و دغه تلفظ ته نژدي لري او په يونانی کي ئې (ايستير) باله. دا مثال مي د اسماني اجرامو په باب ووايه او هغه تېر مثال د حيواناتو په باب وو. د کورنۍ غړی تاسي وگورئ د کورنۍ په غړو کي پخواني نومونه اوس پاته دي تاسو وينی چي موږ د کورنۍ تشکيلوونکي ته

(مور) وایو او د پکتیا خلک (میر) ورته وایي او دا یو (د) ئې په مخ کي درلودی چي هغه اوس لوېدلی دئ، مګر اوس هم په سکانډېنوي ژبو کي (مور) ته مور وایي او په لاتیني ژبو کي (میر) ورته وایي. په انګلیسي ژبو کي (مودر) ورته وایي په پاړسی کي (مادر) ورته وایي په سلاوي ژبه کي ورته (مات) وایي د (مات) پخوانی شکل (ماتیر) دئ یعني هغه (ر) درلوده دا متل د روسي ژبي تر اوسه زما په ذهن کي دئ چه وایي (نیپلچ ماتیری پو تیرېو ده تیاتیری) (ای موري مه ژاړه پر پردیو وړو باندي) نو دلته (ماتیري) په ندایي حالت کي واقع سوی دئ تاسو وینی چي (مات) کلمه اوس په بلوڅي کي په دغه معنی ده او (ماتا) په اردو کي (مات) ورته وایی هغه (ت) ئې هم لوېدلې ده خو دا مي څو مثالونه درته وویل چي تاسي ژبي ته وګورئ زموږ ژبه له هندو اروپایي ژبو سره مشترکات لري او حتی هغه کورنی تشکیلېدله او د کورنۍ د تشکیل په وخت کی چي نومونه ایښوول سوي دي هغه په ټولو هندواروپایي ژبو کي مشترک دئ او پښتو هم په دغه اشتراک کي خپله برخه لري. تاسو وینی چي پلار کلمه چي په پکتیا کي ئې (پلور) تلفظ کوي او په پاړسي کي ئې (پدر) تلفظ کوي په انګلیسی کي (فادر) تلفظ کوي او په ځینو لهجاتو کي د پاړسي ئې (پیرن) تلفظ کوي او د (پیر) تلفظ عیناً په سکانډېنوي ژبو کي نژدی و دغه تلفظ ته موجود دئ، نو په دې بناء باندي زه داسي فکر نه کوم چي پښتو په باب دي د بني اسرائیلیت دعوا صحیح وی." (نوموړی ماخذ)

خو راورټي په دې اند دئ چي پښتانه اصلاً د یهودو د دوولسو ورکو سوو قبیلو بقایا دي او کوم وخت چي دا قبیلې د فلسطین په یهودیه کي اوسېدلې هلته ئې ژبه د یو شمېر نورو قبایلو له لهجو سره ګډه سوه. کله چي دا قبیلې له خپل اصلي ملک څخه د هغوی د اوسني ملک څخه افغانستان ته رواني وې، په لاره کي ئې ژبه د نورو ملکونو له ژبو سره هم ګډه سوه. څرنګه چي دغه د لاري پر سر ملکونه زیاتره غرني وه نو خلک ئې په بېلابېلو درو کي په داسي وړو وړو قومونو وېشل سوي وه، چي د بهره سره ئې اړیکي او مخابره نه لرله. ځکه ئې نو د هر قوم ژبه د نورو قومونو د ژبو سره توپیر درلودی. راورټي په پای کي لیکي څرنګه چي د پښتو ژبي اساس همدغه ګډه وډه ژبه جوړوي نو له دی امله دا یوه عجیبه او د نورو ژبو څخه متفاوته ژبه ده.

راورټي پښتو ژبه یوه اریایي ژبه نه بولي او پر دې ټینګار کوي چي پښتو ژبه اصلاً په

سامي ژبو پوري تړلې ګڼي او هڅه کوي چې وښيي پښتو ژبه هم د صوتي، هم د صرفي او هم د نحوي له پلوه په عربي او عبراني ژبو پوري تړلې ده.

راورټي چې يو څيړک او له معلوماتو ډک څېړونکی وو د زړې ايرانی ژبي او زند سره ئې د پښتو اړيکي درک کړي وې، ليکي: "نن له اباسيند نه سمدستي لوېديځ پلو ته داسي يوه ژبه ويل کيږي چي د عباراتو او جوړښت له پلوه د هري معاصري ژبي نه بيخي توپير لري او په غالب ګومان له زند، پهلوي او عبري نه راوتلې ده او دا ژبه پښتو ده." (راورټي، پښتو ډکشنري، سريزه ۲۲ - ۲۳مخونه)

څرنګه چې د راورټي څېړني د زړې فارسي او پښتو په برخه کي ډيري پراخي وې او په دغو اثارو کي ده پښتانه په وارو وارو بني اسرائيل بللي دي او خپله پښتنو هم دا روايت منلی وو، نو له دې امله دی تر پايه د سامي ژبو په تېره بيا عبري ژبي سره د پښتو د اصل او ريښې پر نژدی اړيکو کلک ودرېدی.

دغه راز سروېليم جونز، والتر بيليو، نعمت الله هروي او نور هم پر دې ټينګار کوی چي پښتانه بني اسرائيل دي او لکه مؤرخ نعمت الله چي وايي: د حضرت سليمان (۹۶۵-۹۲۸ ) د مړيني وروسته د اسرائيلو ورځ خرابه سوه. بخت نصر شام (اوسنی سوريه) ونيوی، بيت المقدس ئې وران کی او د آصف او افغنه د اولادې د سر خلک، عزيز او دانيال ئې ووژل او پاته ئې له آصف او افغنه سره غور، غزني، کابل و فيروزکوه او د کندهار شاوخوا سيمو ته فراري کړل او د افغانه اولاده په دغو سيمو کي مېشته سول.

موږ په تاريخي اسنادو کي وينو چي د پښتني قبيلو نومونه له يفتليانو څخه په سلګونو کلونو دمخه وو او همدارنګه دا راته څرګنده سوې ده چي نامتو ژبپوهانو د پښتو ژبي نيکه ګان له يفتليانو څخه څلور پېړۍ دمخه لږ تر لږه د ساکا د زمانې خلک بولي.

حتی سر اولف کارو په دې عقيده دئ چي په افغانانو کی د يفتليانو وينه سته دی ليکي: "ما ته داسي برېښي چي د پښتنو اصل هر څه چي وي خو سپين هونيان هم د پښتنو په ترکيب کي يو څه نقش لري لکه څرنګه چي په زرګونو ګوجر د سپينو هونيانو نوکران، نن ورځ د دې سيمي په کليو کي موجود دي، هرومرو به د دوی د خانانو په ډله کي يفتليان هم وي. زما خو دا عقيده ده چي ډېر خان خيل لکه يوسفزي دا ادعا

کولای سي چي يفتليان دي د هموارو سيمو افغانانو لکه يوسفزيو کي د يفتليانو وينه وي او د غرو په اوسېدونکو کي دا احتمال کم ليدل کيږي. په بل عبارت د دغو نښو او علامو پلټنه د جنيولوژۍ له مخي د سړبن په اولاده کي کېدای سي او په کرلاني کي نه ښکاري، دلته د بيليو نظريې ته پاملرنه کيږي چي سړبن جنيولوژي دا ښيي چي د راجپوټ سر ه ئې اړيکي سته. د مثال په توګه ويلای سو چي سړبن د سوريابان Suryaban څخه شارجون له سورجان څخه او کريشون د کريشن څخه اخيستل سوی دئ.

دا د خيرانتيا وړ نه ده چي د پښتو ژبه له څو کلمو څخه پرته له ترکي ژبو سره هيڅ اړيکي نه لري او شرقي ايراني ژبو له ګروپ څخه يوه ژبه ده، يوازي ځيني کلمې ئې له هندي ګروپ څخه اخيستي دي. په کلتوري چارو کي، د ژبي په شمول هوني فاتحانو د خپلو فتح سوو سيمو خلکو لاره نيولې ده او د سلګونو کلونو را په دې خوا ئې ايرانی تمدن په ميراث پری ايښی دئ.

دا چي يفتليانو د افغانانو په ترکيب کي رول درلودلی دئ نور ډېر دلايل سته چي د غور وړ دي. موږ او تاسو د جينولوژۍ له مخي وخېږل چي غلجي د بېټني زامن او د قيس لمسيان دي خو دا يوازي د ده د لور بي بي متو له لاري حسابل کيږي او بي بي متو د يوه بهرني شهزاده ښځه وه او هغه حسين نوميدی. پخوانيو يرغلګرو تل ښځې په زور او چال سره نيولې او نکاح کولې. داسي نظريه هم سته چي دا شهزاده ترکی وو په هر حال دا څرګنده خبره وه چي دا شهزاده افغانی نه وو.

دا چي غلجي د ترکي نسب ريښې لري، ډېره مناقشه پر سوې ده. د يوولسمي پېړۍ د بغداد اوسېدونکی محمود قاشغري د نظريې له مخي چي په بغداد کي ئې ليکلې ده روسی ختيځ پېژندونکی بارت هولډ غلجي ترکانو ته منسوبوي او ترکي خلجي بولی چی د ترکو د (اوغز) او يا غز څلېرويشتو قبيلو څخه دوې قبيلې دوی جوړوي، چي د دوی لومړۍ څپه په لسمه پېړۍ کي له آمو څخه د جنوب پر لور پوري وتله او د محمود غزنوي د قواوو لومړۍ برخه ئې تشکيل کړه.

داسي منل سوې ده چي د وخت په تېرېدو سره دوی د افغانانو ژبه او کلتور خپل کړل، يو بل روسی ختيځ پوه (رېز) دا نظريه تاييدوي او په خپل کتاب Cambridge History of

India کي د هند په هکله د کامبریج تاریخ کي ئې څېړي. ما په خپله هم د ده ملاتړ کړی دئ." (سراولف کارو، پټان، ص ۱۴۶ د شېرمحمد کریمي ژباړه)

که چیري خلجیان په رښتیا ترکان وي او بیا ئې د غزنویانو په زمانه کي د افغانانو دود او دستور غوره کړی وي (لسمه او یوولسمه پېړۍ) او دا هغه زمانه ده چي د هغې په اړوند معاصر او محلي لیکل سوي رسالې په عربي ژبه بېخي ډېري دي، نو زه د انعکاساتو له مخي ویلای سم چي دا څرگندوني د غزنویانو په اثارو کي سته، موږ باید نور هم شا ته نظر واچوو او د خلج اصل ته وگورو. آیا دا امکان سته چي دوی به د (غز) ترکو څخه لا تر مخه د یفتلیانو اولاده وي؟ د نظریې احتمالي حقیقت له پاره کوم سند یا گرافیک، لیکنه، کیندنه، شواهد نسته، ځکه تر کومه ځایه چي روښانه سوې ده یفتلیانو لیکلي آثار یا ځلي نه درلودل.

کارو په پای کي داسي حدث وهي چي خلج په غلجي اوښتی دي چي موږ ئې خلجی بولو.

دی زیاتوي چي "کله چي موږ ته معلومه شوې ده چي د لرغوني تاریخ سپین هونیان او د کلاسیکو لیکنو یوتلیان Euth alites د ارمني لیکوالو له خوا اهپتلیان بلل شوي دي، موږ ویلای شو چي ابدالیان یا درانیان د هم هغو غښتلو خلکو اولاده کېدای شي. سافروش کافران داسي یادونه کوي چي د دوی پلرونه د (اوډال) له خوا غروته تښتول شوي وو او سیمه ئې ورڅخه نیولې وه دا اصطلاح اوس هم د سمرقند خلکو ته استعمالیږي. د فونیټک له مخي یفتالیتس او ډال دواړه په مناسب شکل مشابه ښکاري مگر د دې اړیکي له پاره زیاتي څېړني ته اړتیا شته. هر ډول چي د ابدالیانو اصل مجهول ښکاري، خو له توري تیارې څخه نه راوزي او د لوی شاه عباس په زمانه کي د اووه لسمي پېړۍ په پیل کي رامنځته شول.

په هر حال هر ډول چي وي، الله پاک ښه پوهیږي خو د شپږمي پېړۍ په پای کي د څو قبیلو گروپ چي ایرانۍ سابقه لري او په ایرانۍ ژبه خبري کوي او یو په بل پسې ئې یرغلونه او ډلیزي لیږدوني کړي دي او وروستۍ ئې د هونیانو فتحي دي او د ټولو تاریخي مرکز گندهارا او د پېښور وادي وه، سپین هونیان حتی د هند هوارو سیمو ته ورکښته شول او هسکي غرنۍ سیمي ئې بومي خلکو ته ورپرېښودلې، په ټولو جنیولوجیکي

پېژندګلویو کې باید دا ډول شکل او فورم له یاده و نه باسو. دا نقشه په ګډه سره رسموو او په پای کې د هجرت دورې ته رسیږو او د محمد (ص) ځلانده لمر راخیژي او پر افغانانو ځلیږي." (همدغه اثر: ۱۴۸مخ)

موږ د تاریخي څېړنو په لړ کې د دې نظر سره هم مخامخ کیږو چې پر دې خبره ټینګار کوي چې په دغو سیمو کې پخوا عبراني ژبه ویل کېده او کېدای سي چې د زمانې په تېرېدو سره له منځه تللې وي لکه  جورج روزي چې لیکلي: "دا کومه عجبه خبره نه ده چې پښتنو دي خپله اصلي عبرانی ژبه بایللې وي. دی زیاتوی کله چې د یوه اولس یو څو قبیلې د خپل ملک او خلکو څخه جلا او په یوه بل هیواد کې د یوه غښتلي او ګڼ اولس په منځ کې مېشته شي، هلته نو بیا دا څه د حیرانتیا خبره نه ده چې دغه قبیلې خپله ژبه بایلوي. دی وایي چې حتی یو غښتلی او فاتح قوم هم خپله ژبه په ډېره اساني د لاسه ورکولای سی. (روزی جورج، افغانان، لس قبیلې او د شرق سلطانان: ۳۵ مخ)

# دریم څپرکی

**د پښتني قبايلو مهاجرتونه او لېږدوني:**

څرنګه چي د پښتنو د اصل او نسب او په تېره بيا د اسرائيليت په اړوند رږغېږو نو خامخا دا پوښتنه را منځته کيږي چي که دا ادعا درسته وي چي پښتانه د اسرائيلو د ورکو سوو قبيلو څخه دي او د دوی نسب هم د قيس د کيسې پر بنسټ بني اسرائيليت سره اړيکي ولري نو بيا دا پوښتنه منځته راځي چي د يهوديانو تر راتګ مخکي په دغو سيمو کي څوک اوسېدل او کومه ژبه ئې ويل؟ ځکه نو د پښتو ژبي او پښتني قبيلو موجوديت او د هغوی و مهاجرتونو ته يو ځغلنده نظر ضرور ګڼم.

يعني د اکسوس يا امو او سيردريا له سرچشمو Aryana Vaeje تاريخ موږ ته وايي چي آريايي اقوام چي د خپلي زړې آريانه ويجه څخه خپاره سول او په بخدي او باختر کښي مدنيت جوړ کړ وروسته نو له دغه ځايه څخه پر درو برخو وېشل کيږي چي يوه برخه ئې د هند او بله ئې ايران خوا ته کوچېدلي دي چي بله برخه ئې په همدغو خپلو سيمو کي پاته سوي او د بخدي او باختر مدنيت ئې جوړ کړی دئ. دوی ځينی مشهوره قبايل درلودل چي له هغو څخه يوه مشهوره قبيله پکهت (پښتون) وه د دې نامه تاريخي څېړنه او قدامت د پښتو ژبي اصالت او قدامت هم څرګندوي. پوهاند استاد حبيبي ليکي:

"هغه وخت چي آريايي اقوام زموږ د وطن په غرو او دښتو او د هند په ځنګلو او ورشوګانو کي سره خپاره سول، د دې تېرو تر منځ يو خورا لوی او مشهور جنګ پېښ سو چي د ويدا په زاړه کتاب کښي بيان په Baharata کي په خورا ښه ډول راغلی دئ چي کيفيت ئې دا دئ: د آريايي اقوامو څخه د بهارته د کوپها يعني کابل او ارغنداو له ورشوګانو کښته سول او په هند او پنجاب کښي سر ه خپاره سول دلته بهرته د پېر پاچا

(سوداس) نومېده، چي د (دايو داسا) زوی يا لمسی وو، د دې پاچا سره د کوزيکا له علمي او ادبي کورنی څخه يو ريشي (د آريائيانو شاعر او روحانی ؤ) او مذهبی مشاور ؤ چي ويسرا ميترا نومېدی دې ريشي روحاني قوه او نفوذ او پوهه درلوده. د سواس پاچا سره ئې د ستردو او ويپاشا په نيولو او فتوحاتو کې ډېر کومکونه کړي وه، خو وروسته سوداس پاچا دا خپل مذهبي مشاور ويوست او په عوض کې ئې بل سړی چي واسيستا نومېدی مقرر کړ. د دغو دوو تنو ريشيانو تر منځ مخالفت او جګړه ونښته، د ويسوا ميترا ډېر قبايل پر خوا وه او خلقو ئې په خوله کوله، نور ډېر آريائي قبايل ئې سره را ټول کړل، او د سوداس سره ئې جګړه وکړه، خو پاچا بريالی سو او د انوس او دريوهو د قبيلو ملکان ووژل سول." (حبيبي، عبدالحی، د پښتو ادبياتو تاريخ، ۲۶مخ)

د پښتنو د کوچ او مهاجرت په هکله د نورو بېلابېلو څېړونکو نظرونه هم له پام څخه نه سو غورځولای ځيني ئې په دې عقيده دي چي پښتانه په خپلو مېشته سيمو کي له يوه ځای څخه بل ته کوچېدلي دي او ځيني بيا وايي چي د نورو ليري سيمو څخه ئې دغو اوسنيو د افغانستان او پښتونخوا سيمو ته مهاجرتونه کړي دي.

په دغه هکله چي پښتانه پخوا چيري اوسېدل؟ د تاريخ پاني ډکي دي خو دغه مسئله تر زياته بريده د لسمي او شپاړسمي ميلادي پېړيو په شاوخوا کې په يو لړ اسلامي آثارو او اسنادو کي يادونه سوې ده او په دغو سيمو کي چي له آمو نه تر اټکه، له هراته تر کشميره، له کرمانه تر ملتانه او له چتراله د عربو بحيرې تر حدودو پوري يادونه کوي.
په دغه لړ کي حدودالعالم من المشرق الی المغرب چي په ۳۷۲ هجري کي په فارسي ليکل سوی او د ليکوال نوم ئې هم نه دئ معلوم، د اسلامي دوران هغه لومړنی اثر دئ چي په دې سيمو کي د افغانانو د استوګني يادونه کوي. په دې اثر کي د پکتيا د سيمي يو کلی داسي معرفي سوی دئ:

"په غره کي يو آباد کلی دئ او افغانان په کي مېشته دي له دی ځايه تر حسينانه پوري لاره د دوو غرونو تر منځ پرته ده چي د خطر او وېري ډکه ده." (حدودالعالم من المشرق الی المغرب، ۳۷۲ مخ)

يو بل معتبر اثر چي په دې سيمو کي د پښتنو د موجوديت او استوګني يادونه کوي هغه ظفرنامه ده چي مولانا شرف الدين يزيدي د ګوډ تېمور د جګړو او فتوحاتو په

اړوند په ۸۲۸ هجري کي لیکلې ده. په دغه اثر کي د تېمور او د ده د جنرالانو هغه یرغلونه هم یاد سوي دي چي په ۸۰۰ او ۸۰۱ کلونو کي ئې په پکتیا، بنو او کوهاټ سیمو کي تر سره کړي دي.

دغه راز په تاریخي اسنادو کي په غزني کي له ډېري پخوا زمانې راهیسي د پښتنو د اوسېدو یادونه سوې، د بیلګي په توګه عبدالحی ضحاک ګردیزی چي د ګردېز تاریخ ئې په ۴۴۳ هجري کال کي لیکلی دئ د غزني په غرونو کي د پښتنو د استوګني په هکله څرګندوني کړي دي. په بابرنامه کي هم په تېره بیا د ننګرهار د شاوخوا سیمو چي د آباسیند تر غاړو پوري رسيږي، د پښتنو او د هغو د ژوندانه د حالاتو په هکله ډېر څه ویل سوي دي.

پوهاند دکتور حبیب الله تږی لیکي: "لومړنی معلوم تحریري سند چي د دې پراخو سیمو په ځینو برخو کي د پښتنو د سکونت یادوني پکی شوي هغه د فردوسي د شهنامې ملحقات دي چي د لیکلو وخت ئې د شپږمې هجري پېړۍ په حدودو کي اټکل شوی او د ناظم نوم ئې نه دئ معلوم. ناظم د افغانانو او د هغو د مشر، کک کهزاد په باره کي په ښایسته تفصیل غږېدلی دئ." (تږی، دوکتور حبیب الله، پښتانه، ۹۳ مخ)

افغان یا پختانه، پشتانه، پښتانه په نومونو هم یادیږي (باید هېره نه کړو چي د افغان نوم په افغانستان کي د ټولو اوسیدونکو او خلکو له پاره استعمالیږي) چي د ډیورند د کرښي دواړو خواوو ته پراته دي او په اریایي وګړو پوري اړه لري.

د پښتنو نفوس د ډول ډول علتونو له مخي په سمه توګه  نه دئ شمېرل سوی خو د اټکل له مخي له شپېتو څخه تر اویا ملیونو پوري رسیږي چي د ډیورند د پولي دواړو خواوو ته پراته دي او د تاریخ په اوږدو کي ئې زیات مهاجرتونه کړي دي.

لکه چي وویل سوه، د پښتني قبیلو د مهاجرتونو په اړوند په عمومي ډول دوه ډوله نظرونه موجود دي، یو شمېر څېړونکي پر دې ټینګار کوي چي پښتني قبیلې د نورو ځایونو څخه راغلي دي خو یو شمېر زیات محققین بیا په دې اند دي چي پښتانه اصلاً له نورو ځایونو څخه نه بلکي په همدغو سیمو کي له یوه ځای څخه بل ځای او سیمي ته کوچېدلي دي.

هغه روایتونه چي پر دې ټینګار کوي چي افغانان له نورو لیرو سیمو څخه راغلي او

په دې اوسنيو سيمو کي تيت سوي دي په مخزن افغاني، مطلع الانوار او د کروسنسکي په خاطراتو او داسي نورو کي راغلي دي. دا روايتونه پښتانه بني اسرائيل، قبطيان يا ارمنيان بولي او وايي چي له منځني ختيځ، شمالي افريقا، اروپا د قفقاز له سيمو څخه افغانستان او پښتونخوا ته لېږدېدلي دي.

اريائيان تر خپرېدو مخکي په يوه ځای کي اوسېدل چي دوی خپله پخوانۍ مېنه (اريانا ويجه) بلل يعني د اريا مځکه يا د اصيلانو او نجيبانو هيواد.

لوی استاد عبدالحی حبيبي ليکي: "ځيني پوهان دا هم وايي چي د آريائيانو د توکم اصلي ځای د پامير لوړي مځکي او د آمو سرچينې دي په هر صورت د آريائي توکم اصلي ځای هر چيري چي وو خو پر دوی هغه ځای تنګ سو او لکه په اوستا کښي چي راوړي دي هغه مځکه يو په يوه سړه شوه، چي د خلقو د خوړلو له پاره څه نه پکښي موندل کېده، نو ځکه اريائي توکم له هغه ځايه څخه ليږدنه او هجرت وکړ د دغه لېږد زمانه څلور زره کاله د ميلاد څخه مخکي اټکل سوې ده." (ايران قديم نهم مخ، تمدن ايرانيان خاوری، ۶۴ مخ). دی د کمبرج د پوهنتون د مقايسوی فيلالوژۍ پروفيسور (ډاکټر پي ګلس) په حواله ليکي: د هندو آريايي نوم پر آريائي اقوامو تر ټولو مخکي ډاکټر تهماس نيک اينښی دئ. (ده لومړی وار يو مضمون په دې خصوص کي په ۱۸۱۳ع کال کي د کوارټري ريويو په خپرونه کي وکيښ)

خو د هندوژرمنيک اصطلاح تر ټولو دمخه په ۱۸۲۳ع کي يوه جرمني ژبپوهاند (کليپروټ) باب کړه. دې علماوو د ژبو رغونه، قواعد، عمومي ريې، ستې او ټول خصوصيات وليکل، او يوه ډله ژبي ئې په دغو نومونو د يوې کورنۍ څخه وبللې، اما تر ټولو دمخه سر ويليم جونز د هند د آشيايي ټولني مشر په ۱۷۸۶ع کال کي دغه ژبي يوه کورنۍ ګڼلي وې، خو دغه نومونه وروسته پر کښېښودل سوه.

دا خلق چه هندو اروپايي ژبي ئې ويلي د انسانانو د سپين توکم څخه وه، دوی ځيي حيوانات او بوټي پېژندل، ښايي چي لاسي صنايع ئې هم درلودل د اوسنيو ژبو سره ورته والی ئې موږ ته دا راښيي چي دغه خلق به يو وخت په يوه ځای کي سره اوسېدل، مګر چي د آمو غاړو او باختر ته راورسېدل خورا دمخه وخت (۲۵۰۰ ق م) ئې تخمين کيږي. دې خلقو ځانونه ارين بلل (کامريج هستوري آف انډيا ۷۲-۷۶ مخونه). د علمي پلټنو

ځخه دا خبره روښانه سوې ده چه دغو اريائي اقوامو د خپرېدو لا دمخه يوه ژبه او يو مذهب درلود. د آسيا صغير په کوی بوغاز کي چي د پخوانيو هيتانو پايتخت وو هلته يوه کتيبه پيدا سوه چي نېټه ئې (۱۴۰۰ ق م) ده دلته يو اريايي قوم اوسېده، چي ميتاني نومېده او دغه زړه کتيبه هم په دوی کي ټيل ال امرانا ته منسوبه ده، دغه زوړ ليک چي پوهانو وکوت دا ئې ومنله چي په شمال غربي بين النهرين يا آسيا صغير کي هم د ۱۴۰۰(ق م) په شاوخوا کي آريائي قومونه اوسېدل. په دې کتيبه کي د دوی د شهزادګانو نومونه راغلي دي چي سوچه آريايي نومونه دي لکه: آرتاما، تسراتا، ستړانا، دغه راز په همدغه کتيبه کي د هغو ارباب الانواع نومونه اخستل سوي دي چي د هند د آريايانو په کتابونو کي هم سته لکه (اندره، ورانا) يا دوه هسک غبرګولي ورونه." (حبيبي، عبدالحی، د پښتو د ادبياتو تاريخ، ۱۶ مخ)

په دوهم ډول کي هغه روايتونه او فرضيې راځي چي وايي پښتانه دننه په افغانستان او پښتونخوا کي له يوې سيمې ځخه بلې ته انتقال سوي دي. تر کومه حده چي څرګنده ده، هنري والټر بيلو لومړنی معاصر ليکوال دئ چي دننه په پښتونخوا او افغانستان کي، احتمالاً د پښتنو په يوه لوی مهاجرت غږېدلی دئ. بيلو وايي چي دا مهاجرت د پخواني قندهار يا ګندهارا يا نني پېښور له شاوخوا نه اوسنی قندهار ته شوی دئ. دی وايي چي (په پنځمه يا شپږمه عيسوي پېړۍ کي د يو شمېر سترو ډلو د ظهور له امله د ګندهار يا ګندهارا اوسېدونکو، يو عام مهاجرت پيل شو. د اباسيند په غاړه کي ئې خپلي مېني پرېښودې او د لوېديځ پر لور ولېږدېدل. هلته له خپلو نورو عزيزانو سره يو ځای شول او د هلمند په غاړو کي د يوې ځانته ټولني په توګه دېره ول. داسي ښکاري چي هلته ئې يو ښار جوړ کړ او د خپل اصلي پايتخت - ګندهار - په نامه ئې ياد کړ. دا نوم تر اوسه هم د نني کندهار ښار او ولايت ژوندی ساتلی دئ.

په هغه وخت کي دا خلک د ګندهاريانو يا ګندهاري په نامه يادېدل. مذهب ئې بودايي و او د خپل اوږده او ربړوونکي سفر په وخت کي ئې د خپل مذهب تر ټولو نه سپېڅلی يادګار هم ورسره يووړ او هغه دبودا د اوبو لوښی و.

"دغه غټ لوښی چي تقريباً ځلور سوه ګرامه وزن لري اوس هم د کابل په موزيم کي د نندارچيانو د ليدني کتني له پاره ايښودل سوی دئ. د هندوستان لرغون

پېژندونکي په دې اند دي چې دا تاریخي اثر (د بودا د خیرات کاسه) په بودایي مذهب کې د زیات تبرک او اهمیت وړ ده. د هند پارلمان د دې کاسې د څېړني له پاره د هندي لرغون پېژندونکو د لېږلو غوښتنه کړې او د هندستان د تاریخي اثارو د څېړلو مربوط مرکز وایي چې دا کاسه اصلاً په هندوستان پوري اړه لري او هغه باید بیرته هندوستان ته وسپارل سي.

دغه مرکز ادعا کوي چې دا کاسه بودا د بهار د ایالت اړوند ویشال د سیمې اوسېدونکو ته د سوغات په توګه ورکړې وه او زیاتوي چې یو پاچا چې په هغه وخت کې د هندوستان پر شمالي سیمو باندي حکومت کاوه، دغه کاسه ئې د اوسني پاکستان سیمو ته او وروسته بیا کندهار ته وړې ده.

بودایي دین د راهبانو له پاره یو اصل دا دئ چې دوی به په خپل لاس د چا نه شی نه اخلي او دوی د پیسو اخستو حق هم نه لري. یوازي هغه کاسه یا لوښي چې دی پکی څه خوري او څښلی شي د ده ملکیت وي.

د چین راهب فاهیان کله چې په پنځمه میلادي پېړۍ کي پېښور ته ولاړ، نو د دې په یو معبد کي ئې د بودا کچکول هم ولیدو. د فاهیان د سفر نه سمدلاسه وروسته، په دې سیمه کي د کوشان واک پای ته ورسیدو او یفتلیانو پرې حمله وکړه او ډېر څه ئې وران کړل. د پېښور نه ډېرو خلکو کندهار ته کډه وکړه او د ارغنداو په غاړه میشت سول. ښایي په دې وخت کي هغه ډېرینه کاسه د ځان سره وړې وي. هم دا وه چې له ده وروسته ورتلونکو چینایي راهبانو سونګ یون او خوان زانګ د دې  ذکر نه دئ کړی.

دوه سوه کاله وروسته یو بل چینایي راهب خوان زانګ پېښور ته ورغلو نو د هغه معبد لیدو ته ولاړو چې کاسه پکې ایښې وه. وایي چې هغه کاسه د تیږي نه جوړه وه او د کرامت په اړه هم یوه کیسه بیانوي چې فیلانو نه شوه وړلی. دی لیکي چې هغه وخت د اوو سوو نه زیاتو راهبانو به د غرمې د ډوډۍ نه وړاندي دا کاسه په دعاګانو او مناجاتو ویلو له خانقاه راویستله، عامو خلکو به ورباندې ګلونه شیندل او نذرونه به ئې ورکول. دا کاسه به په لمر کي ځلېده او رنګونه به ئې بدلول خو په اصل کي د توربخنې تیږي نه جوړه وه. دی وایي چې اوس دا کاسه د پارس د پاچا سره ده.

نامتو لرغونپوه الیګزانډر کننګهم وایي چې هغه وخت کندهار د پارس یوه برخه وه.

نو ممکن د بودا ډېرينه کاسه په کندهار کې وي. خو د دغسې کاسې د شته والي په اړه د بېلابېلو ملکونو نومونه اخستل کيږي. يوه دا چې په سري لنکا کې وه، بله دا چې بيرته هند ته وړل سوې وه. په شلمه پېړۍ کې ځينو لرغون پوهانو په کندهار کې د دې لټون وکړو او د سلطان ويس په زيارت کې ايښې يوه لويه ډبرينه کاسه ئې په نښه کړه چې ممکن دا د پېښور هغه کاسه وه چې د يفتليانو د حملو پر وخت د پېښور خلکو له ځانه سره راوړې وه.

د ګندهاريانو د دې مهاجرت نظريه په اسلامي دائرة المعارف کې هم تايد سوېده:

قندهار د ګندهارا هغه شکل دئ چې عربي واقعه نګارانو استعمالاوه خو په هيڅ صورت ننۍ کندهار نه دئ.

د بيلو دا نظريه د منلو ده چې دا نوم [پخوانۍ] آراکوزيا [يا ننۍ کندهار] ته د ګندهارا مهاجرو وړی وو. لکه څنګه چې چيني زاير سونګ يون، چې په تقريباً ۵۲۰ ميلادي کال کې ګندهارا ته تللی او ويلي ئې دي چې د دغه مهاجرت تاريخ په بيخي غالب ګومان پنځمه [عيسوی] پېړۍ يعنې هغه وخت دئ چې هفتاليانو ګندهارا له ښار نه بهر د سلطان ويس په زيارت کې ايښې ده، هغه په غالب ګومان مهاجرو بودايي مذهبه مشرانو هلته وړې ده.

بيلو دا د بودا کاسه خپله ليدلې او وايي: "دا يوه ډېره لويه کاسه ده چې له يوې تربخونې ډبري شنې ډبرې نه جوړه سوې ده. کله چې ما دا کاسه په کال ۱۸۷۲ کې وليده په يوه واړه زيارت کې چې د کندهار له زاړه ښار نه فقط يو څو سوه ګامه ليري واقع دئ، پرته وه او ډېر احتمال لري چې تر اوسه هم هلته وي."

سر اولف کارو په کال ۱۹۵۷ کې ليکي: چې دا کاسه چې قطر ئې څه باندي دوه متره دئ، اوس د کابل په موزيم کې ده. خو کارو د ګندهاريانو د لرغوني مهاجرت په باره کې د بيلو نظرېې ته د شک او ترديد په نظر ګوري او ليکي چې (د بيلو دغه له تاوه ډکې خبري چې د يوه تاريخي حقيقت په توګه ئې بيان کړې دي، د واقعی تاريخ په حيث نه سي منل کېدلای، ځکه اسناد، سکې او کتيبې دا لرغونی مهاجرت نه تائيدوي. دا نظريه په حقيقت کې فقط د دوو قندهارونو د نومونو په مطابقت بنا سوې ده."

اما بايد وويل سي چې تاريخی اسناد هم په دې باره کې بېخي ګونګ نه دي. په ځينو

پخوانو آثارو کې هم د داسې يوه مهاجرت يادونه کوي چې له اسلام نه پخوا د لرغوني قندهار (گندهارا) له سيمې څخه د کابل، غور او هرات پر لور سوی دئ.

د طهمورث د واکدارۍ په وروستيو وختو کې له (قندهار) څخه پنځه زره تنه د کابل شاوخوا سيمو ته ولاړل. مګر هلته ئې تېک و نه سو، غور ته ولاړل. په غور کې ئې هم د هستوګنې مخه و نه ليده يوه بل ځای ته ولاړل چه (اوبه) نومېږي. هلته ښايسته زياته موده پاته او ښه آباد ول. خو وروسته بدي پکښې پيدا سوه او په جګړو اخته ول. کوم قوم چې په جګړه کې ماته وکړه هغه له (اوبه) څخه شميران ته ولاړ او له هغه ځای څخه بيا يو بل ځای ته ولاړ او هلته ئې د قندز به نامه يو ښار جوړ کړ. ډېره موده په همدې ښار کې پاته شول او بيا ئې د هرات ښار جوړ کړ او ټول وروکوچېدل.

څرنګه چې سيفي دا مطالب د ده په خپل قول د عبدالرحمن فامي د هرات د تاريخنامې محشی، محمدزبير صديقي د فامي د ژوند وخت له کال ۴۷۲ نه تر کال ۵۴۶ پوري اټکل کړی دئ، نو سړی ويلای شي چې د ننني افغانستان په لور د (ګندهاريانو) يا (قندهاريانو) د مهاجرت پېښه د تاريخنامې له تأليف نه تخمين دوه سوه کاله پخوا ليکل شوې ده.

د هرات د ښار د جوړېدلو روايت مؤرخينو يو له بل څخه اخيستی دئ او محمدزبير صديقي په خپله مقدمه کې وايي چې د هرات تر ټولو پخوانی معلوم تاريخ د ياسين الحداد (د هرات تاريخ) دئ چې په ۳۴۳ هجري کې ليکل سوی دئ، نو که فامي او سيفي خپل روايت د حداد له تاريخ څخه اخيستی وي هلته بيا د ګندهاريانو د مهاجرت د ليکل کېدلو وخت د څلورمې هجري پېړۍ لومړۍ نيمايي برخې ته رسېږي او مهاجرت به تر هغه نه ډېر پخوا سوی وي.

لنډه دا چې د ننني افغانستان پر لور د (ګندهاريانو) د يوه لرغوني مهاجرت خبره يوازې بيلو نه کوي، بلکې ځينو پخوانو اسنادو کې هم ذکر سوې ده.

دلته دا خبره هم د کولو ده چې نه سيفي په صراحت وايي چې دا مهاجر پښتانه وو او نه بيلو. خو کومې سيمې چې د مهاجرت پېښه پکښې واقع وه، معتبرو زړو آثارو له ډېر پخوا څخه پښتانه مېشته ګڼلي دي. ځکه نو سړی ويلای سي چې که دا مهاجرت وي، وي به غالب ګومان به د پښتنو وي.

په دې سيمو کې د يوه بل ډېر پخواني مهاجرت يادونه د تاريخ فرشته مؤلف محمد قاسم فرشته کړې ده. هغه دا مهاجرت په صراحت د پښتنو بولي او ليکي چې افغانان په ۶۳ هجري کال کې له خپلو غرونو مخ ښکرمان، شيووران او پېښور ورشېوه شول.

د لاهور راجا ئې زر تنه سپاره ځپلو ته ورولېږل او هغه ئې تباه کړل. راجا خپل وراره له دوو زرو سپرو او پنځو زرو پياده وو سره ورولېږه چې بيا ډغري ورسره ووهي. د افغانانو او هنديانو جنګي مېړونه پنځه مياشتې سره وجنګېدل. خو ژمی راغی او هنديان مجبور سول چې لاهور ته په شا لاړ سي. په سر کې افغانانو او هنديانو بيا يو شمېر جګړې سره وکړې. په پای کې هنديان له نيلاب نه پوري وتل افغانان هم پر شا ولاړل او خپلو سرحداتو ته ستانه شول. خو وروسته افغانان بيا مخ پر پېښور وړاندي ولاړل. هلته ئې په غره کې د خيبر په نامه يوه کلا جوړه کړه او د روه ولايت ئې لاندي کړ.

نواب محبت خان هم په رياض المحبت کې چې په کال ۱۸۰۶م کې ئې تکمېل کړی دئ، د پښتنو د همداسي يوه مهاجرت يادونه کوي. د رياض المحبت دا روايت راورتي د خپل يوه مضمون په حاشيه کې راوړی او هغه دا دئ:

کله چې د خراسان والي حجاج سقفي د خپل وراره قاسم سقفي په مشري هندوستان ته لښکرکشي وکړه په دې عملياتو کې د افغانانو يو غښتلی لښکر ورسره ملګری وو. دوی په روه کې وړاندي ولاړل او د روه له نيولو نه وروسته ملتان ته ورسېدل. روه افغانانو ته ورکړل سو او هدايت ورته وسو چې سرکښه هندوان لړايي ته پرې نه ږدي.

کله چې افغانانو د روه سيمه ونيوله او په کې مېشت سول د روهيله په نامه ياد سول.

نعمت الله هروی بيا په تاريخ خانجهاني و مخزن افغاني کې ليکي، چې پښتانه له غور نه نورو سيمو ته لېږدېدلي دي. دی ليکي:

کله چې سلطان شهاب الدين غوري د غزني پر تخت کښېناست، نو د هندوستان د نيولو نيت ئې وکړ خو واري له غزني څخه هندوستان ته راغی. لومړی ځل له لاهور څخه بېرته وګرځېد. دوهم ځل له نهر واله نه نامراده بيرته ولاړ. دريم ځل ئې د افغانانو د قبايلو ديارلس زرو توريالي سپاره او جنګي مېړونه له پوځ سره راوستل حق تعالی بری ور

په برخه کړ او د هندوستان راجا پتهورا ئې وواژه... سلطان شهاب الدین د بیرته تګ په وخت کې دغه [افغانان] د روه او سلیمان په غرونو، اشنغر او سوات او باجوړ کې د کابل له حدودو څخه د نیلاب تر سینده او د قندهار له اطراف څخه د ملتان تر سرحده پوري آباد کړل.

دغه راز موږ وینو چي د پښتنو ځیني قبیلې د سلیمان له غره څخه کندهار ته لېږدول سوي دي. ډاکتر لطیف یاد هم په دغه هکله لیکي:

"... د اسلامي دورې په تاریخ کې لومړی سړی (ابدال یا اودل) په نامه یاد شوی دئ چي د خپل نامتو کهول سره د سلیمان په غره کې اوسېدی. دی د ترین زوی د شرخبون لمسی او د سړبن کړوسی دئ. د ده په نوم په پښتو ادبیاتو او پخوانیو زړو نسخو کي اودل او د جمع نسوب په بڼه (اودالی ابدالی) ضبط دئ چې د ۴۴ هجری یا ٤٦٥ میلادي په شاوخوا کې ئې پښتانه قبایل پر ځان راټول کړي وه او د ده له توکمه ملک سلیمان د عیسی زوی چي په زیرک سره مشهور ۇ پښتني قبیلې د سلیمان له غره نه کندهار ته بوتلی او هلته ئې میشته کړه او د ژوند په پای کې ئې خپل زوی ملک بارک په مشري وټاکه او تر بارک وروسته د زیرک بل زوی ملک  پوپل د خپل نفوذ ساحه د اوسني بلوچستان تر شال او ژوبه وغزول او د ۶۵ کالو تر مشرتوب وروسته د ۸۹ کالو په عمر ومړ." (یاد، ډاکتر لطیف، پښتانه وپېژنئ، نهم مخ)

څرنګه چي د پښتني قومي شجرو څېړنه زموږ موضوع نه ده نو د قومونو پر ریښو باندي نه ږغیږو راځو د پښتنو د انتقال موضوع ته چي په دغو وختونو او یاد سوو سیمو کي پښتانه چیرته او څنګه جغرافیایي حالت درلودی. په دغه هکله یو لړ زیاتو څېړونکو څرګندوني کړي دي چي د هغې جملې څخه حافظ رحمت خان په خلاصة‌الانساب کي (چي په کال ۱۱۸۴ هجري کي ئې لیکلی دئ) وایي چي سلطان محمود په زرهاوو پښتانه په خپل پوځ کي هندوستان ته بوتلل او ډېر ئې هلته دېره کړل. دی لیکي چي: "سلطان محمود پاچا څو واري د سند او هندوستان د نیولو په غرض راغی خو بې ګټي او بې فتحي بیرته ولاړ. په پای کي ئې د غزني او کندهار د افغانانو لمن ونیوله. وایي چي د دغو سیمو د افغانانو دوولس زره سپاره او دوولس زره پیاده ورسره ملګري سول او په ګډه ورسره وکوچېدل او د پوځ په سر کي په هندوستان ورشېوه سول او ټول هندوستان ئې

تر دکنه پورې ونیو .... سلطان محمود دا وروستی ځل د هند اکثره کافران قتل کړل او بیرته ولایت ته ولاړ. افغانان ئې په ځینو ځایونو کې خصوصاً د لاهور په شاوخوا کې د اسلام د دین د احکامو د ترویج له پاره ځای پر ځای او دېره کړل. خو ځیني اسناد وایي چې پښتانه د سلطان محمود له واکدارۍ نه پخوا هم په دغو سیمو کې ځای پر ځای شوي وو.

آخوند درویزه هم په تذکرة الابرار والاشرار کې له شرق نه د غرب پر لور د پښتنو د لېږدېدو دوې ستري پېښې یادوي او وایي چې یوه ئې د سلطان محمود غزنوي د لښکرکشۍ په وخت کې شوې ده او بله ئې د الغ بیگ د واکدارۍ په موده کې. (۱۴۹۶-۱۵۰۱). درویزه د اولې پېښې په باره کې لیکي چې یو مسلمان چې هند ته تللی و، سلطان محمود ته ورغی او هغه ته ئې په هند کې د مسلمانانو او اسلام د حقارت حال بیان کړ. سلطان محمود چې خبر سو نو د هند نیول ئې پر ځان فرض وګاڼه. همدا وو چې د کابل له لاري ئې پر هند حمله وکړه. یو شمېر ځایونه ئې ونیول خو په پای کې ئې ماته وکړه او بېرته خپل ملک ته ولاړ. هلته د کندهار افغانانو ته ورغی او مرسته ئې ترې وغوښته. څوارلس زره افغاني مېړونه چې له هر یوه سره ئې یوه ښځه هم ملګرې وه. له سلطان سره ملګری سول. د ملتان له لاري ئې پر هند حمله وکړه. هند ئې ونیو او ډېر افغانان هم هلته پاته سول. د کندهار پاته افغانان هم څوک هند ته ولاړل، څوک ئې نورو ملکونو ته وکوچېدل او څوک ئې په کندهار کې پاته ول. افغانانو به چې هر ځای ونیو هلته به دېره سول او د هغه ځای اصلی اوسېدونکي به ئې ورک کړل څوک به ئې ووژل او څوک به ئې خپل غلامان او رعیت کړل.

درویزه د پښتنو د مهاجرت د بلې پېښې په باره کې داسې لیکي چې افغانانو چې کندهار سره ووېشه، د ترینو برخه د کند او زمند تر منځ واقع وه. د کند د خلکو له جملې نه شخي ترین ته زیاتره ور نژدې وو. ځکه د شخي برخه د ارغسان ویاله وه چې د ترینو حدودو ته ډېر ور نژدې وه. یو وخت د ترینو او شخي تر منځ بدي پیدا شوه او سره ونښتل. ترینو شخي څوک ووژل او څوک ئې وشړل. کوم شخي چې د ارغسان له ویالې نه ولېږدېدل، غوریاخېلو ته په جرګه ورغلل او یو څه ځمکه ئې ترې وغوښته. غوریاخېلو یو څه خرابه ځمکه ورکړه. وروسته د غوریاخېلو ځمکې د برشکال بارانونو او سېلابونو

ببخي خرابې کړې. کومه ځمکه ئې چې خښې ته ورکړې وه هغه يې په زور او جنګونو بېرته ترې واخيسته.

(وروسته دا خلک له دې ځای نه د کابل ولايت ته ولاړل. اتمان خېل هم د تک (امکان لري چې دا نوم تل وي) او ګومل له حدودو څخه کابل ته ولېږدېدل او غورياخېلو سره يو ځای ول. مهمندزي هم چې له اصل هزمند دي، د ځينو پېښو له امله له خښې سره يو ځای شول.

يوسفزي او منور ډېر زيات کابل ته راغلل او د هغه ځای مسلمان خلک ئې ځورول، مالونه ئې په ناحقه ورنه اخيستل او نامناسب کارونه ئې کول. يوسفزو په نورو افغانانو کې ری نه واهه او له ميرزا قلي بيګ څخه ئې احتراز نه کاوه او د پردې او حجاب پروا ئې نه ساتله. په پای کې خبره دې ته ورسېده چې ميرزا قلي جنګ ورسره وکړ يو شمېر ئې ورنه ووژل او يو شمېر ئې چور او تالا کړل. يوسفزي له ميرزا څخه وتښتېدل او د کابل د غرونو يوې درې ته ننوتل. وروسته له دې درې نه بېرته راکوز شول او خلک به يې ځورول او مالونه به ئې ورنه تالا کول. ميرزا قلي د مصلحت پر اساس ښه سلوک ورسره پيل کړ.

يوه ورځ ميرزا د يوسفزو سرداران خپل دربار ته ور وبلل او ښې جامې او ميلمستياوي ئې ورکړې. بيا ئې ورته وويل چې دا د هغوی خپل ځای دئ او هر وخت ئې چې جامه ، اوبه او يا طعام په کار وي، همدلته ورته تيار دي. پس له دې به د يوسفزو سرداران تل د ميرزا دربار ته ور تلل. يوه ورځ ئې نهه سوه تنه دربار ته ورغلل او ميرزا ټول ووژل. کله چې ميرزا د يوسفزو مشران وژل، د هغوی ستر مشر ملک سلطانشاه خدمت ته ورغی او دوې غوښتنې ئې ځنې وکړې: يو دا چې احمد، وراره ئې، و نه وژني او آزاد ئې کړي او بل دا چې د يوسفزو عورتې او ماشومان بندي نه کړي او اجازه ورکړي چې پر هره خوا ئې زړه کېږی ولاړ شي.

ميرزا قلي ئې عرضونه ومنل. احمد له مرګه خلاص او وروسته د خپل قوم لوی مشر وو او يوسفزي ئې د سوات، بنېر، باجوړ او د سمې يا خپله د دروېزه په قول د همواري د ملک خاوندان کړل.

يوسفزي د خپلو مشرانو له قتل عام څخه وروسته ننګرهار ته ولېږدېدل او د

لغمان له ترکلانو سره ولوېدل. څه موده وروسته د یوسفزو او مهمندزو تر منځ په حصارک کي ډېر سخت جنګ وشه. جګړه یوسفزو وګټله. خو د پښتنو له دود سره سم ئې دا ځای د وژلو مېړونو پاته کسانو ته ور پرېښود.

ګګیاني په باسول کې پاتي ول او ځیني وایي چي یوسفزو باجوړ ته مخه کړه او د باجوړ څه برخي ئې ونیولې خو یوسفزو یا باجوړ ساتلی نه شو او یا ئې خوښ نه و. همدا وو چي په سفید سنګ کي له دلزاکو سره جرګه شول او ځمکه ئې ورنه وغوښته. مګر دلزاکو ځمکه ورنه کړه او په پای کې ئې جرګه په جګړه بدله شوه. دا جګړه هم یوسفزو وګټله. وروسته له دې یوسفزي د تاترې او شلمان غرونو ته ولاړل. له هغه ځای نه ئې له دلازاکو سره روغه وکړه او د پېښور سیمي ته ورننوتل. دلزاکو مېړانه ورسره وکړه او ځمکه ئې ورکړه. وروسته یوسفزي له دلزاکو نه جلا شول او دوآبې ته ولاړل. یوسفزي له شلمانو سره هم چي په اشنغر کي پراته وو وجنګېدل د شلمانو مشر چي جلو نومېده ووژل شو او جګړه یوسفزو وګټله. شلماني ئې وشړل او سوات ته ولاړل. د سوات سلطان دوی ته ځای ورکړ او د ډنډ تر سرحده سیمه ئې وروبښله.

کله چي یوسفزی په اشنغر کي دېره وو دلزاکو بیا بدي ورسره را واخیسته. څرنګه چي دا سیمي د دلزاک وې، نو هر وخت به چي یوسفزي ورنه تېرېدل، دلزاکو به وژل او تالا کول به ئې. کله به چې د یوسفزو کاروان له سمي نه تېرېده نو د دلزاکو داړه ماران به پرې ورلوېدل او تاراج کول به ئې. ملک احمد د خښي خلکو ته رجوع وکړه او مرسته ئې ترې وغوښته، مهمنزو سره له دې چي له یوسفزو سره ئې مړي کړي وو، د ملک احمد مخ ومانه او او یو ځای ورسره راغلل. خو یو شرط ئې دا و چي اشنغز به د همدوی وي. ګګیاني هم ورسره ملګري شول او شرط ئې دا ؤ چي دوتبه، به د هغوی وي.

وروسته د یوسفزو او دلزاکو تر منځ سختي جګړې وشوې. دلزاکو ماته وکړه او هزارې ته واوښتل او هغه دې پسې یوسفزو د سوات د ملک د نیولو قصد وکړ او په دوولس کاله کي ئې ټول سوات ونیو. بیا د باجوړ د تلاش په جنګ لګیا شول او تلاش ئې هم ونیو. په دې ډول د یوسفزو ملک تر ارهنده پوري پراخ شو او په کلونو کلونو پکي آباد وو.

د یوسفزو د مهاجرت دا پېښه چې د درویزه په تذکرة الابرار کي په لنډ ډول ذکر سوې او په تواریخ حافظ رحمت خاني کي په پوره تفصیل راغلې ده. څرنګه چې د دې مهاجرت او مربوطو پېښو په باره کي د معاصرو لیکوالو منبع همدا تواریخ حافظ رحمت خاني دئ او ځینو معروفو غربي لیکوالو لکه مونستوارټ، الفنستن او اولف کارو هم دا مهاجرت په خپلو آثارو کي د تواریخ په استناد په پوره تفصیل ثبت کړی دئ او په عین وخت کي تواریخ د درویزه د تذکرة الابرار له روایت څخه هم په تفصیل او هم په یو شمېر اساسي ټکو کي توپیر لري، نو له دې امله موږ د تواریخ لنډیز هم دلته را اخلو چې لوستونکو ته ئې مطالعه او د تذکرې له روایت سره مقایسه اسانه سي.

تواریخ حافظ رحمت خاني د هغه اثر یو ساده نکل دئ چې خواجو ملېزي د (تواریخ افاغنه) په نامه لیکلی او نواز طائر ئې د تألیف وخت د تواریخ حافظ رحمت خاني په مقدمه کي له کال ۱۶۲۲ څخه تر کال ۱۶۲۳ پوري اټکل کړی دئ. پیر معظم شاه د خواجو ملیزي تواریخ افاغنه، د حافظ رحمت خان په هدایت په کال ۱۷۷۲ کي په ډېرو ساده او روانو عباراتو انشاء کړ او د تواریخ حافظ رحمت خاني نوم ئې پرې ایښی دئ. د تواریخ د بابونو عناوین فارسي دي، خو متن ئې اکثره پښتو او یو څه په پښتو او فارسي ګډ لیکل شوی دئ. تواریخ لیکي وایي چې یوسفزي په ګاره، په نوشکي، غوریه خېل، ترنک، په مقر او قره باغ کي پراته وو. په یوه سبب ئې جنګ سره وشه، خشي ئې درست مات کړل. هغه ملک ئې ترې ونیو درست خشي چنانچه یوسفزي او ګګياني او ترکلاني ورسره محمدزي هم دربست له قبایلو سره راوکوچېدل. مخ په ښکته کابل ته راغلل ساکن شوو. الغرض یوسفزي د کابل په سیمو کي د زیات حشمت او شوکت خاوندان شول. د کابل شاوخوا سیمي ئې ټولې تر خپل تصرف لاندي راوستې.

په دې پسې تواریخ د یوسفزو د مهاجرت کیسه او مربوط حوادث تر درویزه په ډېرې زیات تفصیل بیان کړي او وایي چې دوی د کابل په شاوخوا سیمو کي مېشته سول او دلته د دوی د سر سړی ملک سلیمان شاه ولد ملک تاج الدین ولد ملک رځړ وو.

کله چې ملک سلیمانشاه د کابل په دغو سیمو باندي مسلط شو، په دې وخت کي شهزاده الغ بېګ ولد سلطان ابو سعید چې وړوکی هلک ؤ، له ډېر لړ شمېر مغولو سره له ماوراء النهر نه کابل ته راغی. کله چې ملک سلیمانشاه هغه ولید ډېره مینه ئې ورسره

پیدا شوه. دومره چې (خپله لور ئې ورته منسوبه کړه.) هغې به دی تل د زوی په څېر په غېږ کې ساته او لویاوه کله چې تربیه او لوی سو، ملک سلیمانشاه بادشاه کړ. خو د کابل د سیمو واقعي اقتدار بیا هم د یوسفزو او ملک سلیمانشاه په لاس کې و. الغ بیګ په دې خبره خوښ نه و او غوښتل ئې چې ځان د ملک سلیمانشاه او د هغه د قوم له تسلط نه خلاص کړي. مګر یوسفزي ډېر غښتلي وو او ده ئې د ځپلو بندوبست و نه کړ. یو وخت یوسفزو او ګګیانو تر منځ د یوې پېغلې پر سر ډېره سخته دښمنی پیدا شوه. دا پېغله چې فاطمه نومېده د ملک سلیمانشاه وربره، د سلطانشاه لور او ملک احمد خور وه او یو ګګیانی ته ئې په نامه کړې وه. خو ابراهیم د ګدای زوی یوسفزی له کابل څخه کرمې ته وتښتول. ګګیاني په دې خبره له یوسفزو څخه ډېر زیات خوابدي ول او په پای کې ئې جګړې سره پیل کړې. الغ بیګ فکر وکړ چې اوس نو پښتانه ځپلای شي. اول ئې د ګګیانو د ځپلو اراده وکړه او ملک سلیمانشاه ئې هم خبر کړ، خو سلیمانشاه ګګیانو ته سړی ورولېږه او دالغ بیګ په نیت ئې خبر کړل . ګګیاني سمدستی وتښتېدل، الغ بیګ ئې چې مېنې ته ورغلی وو، کتل ئې چې (جای شته، جولا نشته).

نو ګګیانو الغ بیګ ته خبر ورکړ چې د هغه د حملی په بندوبست ملک سلیمانشاه خبر کړل . الغ بیګ یوسفزو ته له غوسې وخوټېد. د ګګیانو مشران ئې دربار ته وروغوښتل. ښه ئې ونازول او بیا ئې ورته وویل چې (یوسفزي ستاسو هم دښمن دي زما هم ... زه نور له یوسفزو نه بېزاره او ستاسې پر خوا یم. باید خپل جنګي مېړونه راټول کړئ او ورباندې ور ودانګئ. زه به هم له خپل ټول لښکر او قوت سره درووزم او درسره ملګری به شم. (ګګیانو چې دا ورځ له خدایه غوښته دستي خپل مېړونه راټول کړل. الغ بیګ هم له خپل لشکر سره وروووت او د یوسفزو جګړې ته ور روان شول. د کابل ښار ته نژدې د غوړي مرغې په سیمه کې د یوسفزو لښکر سره مخامخ ول. ګګیانو او مغولو ماته وکړه او په نتیجه کې په دې پوه شول چې یوسفزي په زور نه شي ماتولی. نو الغ بیګ د یوسفزو مشرانو ته ډېري پېسې ورولېږلې او ټول ئې کابل ته وروغوښتل. د یوسفزو مشرانو پیسې واخیستې او بیا کابل ته وروخوځېدل. د الغ بیګ سړي مخې ته ورغلل او ورته وېې ویل چې پاچا ټول بې وسلې دربار ته ور بللي دي. دربار ته تش لاس ورغلل. پاچا په ټولو مهرباني وکړه او خپلو امیرانو ته ئې امر وکړ چې څو څو تنه ئې

ډوډۍ ته بوزي. اميرانو دا کار وکړ خو وروسته ئې ټول يوسفزي لاس تړلي الغ بيګ ته وروستل. الغ بيګ پرته د ملک سليمانشاه له يوه ځلمي وراره او پنځو تنو راښيزو نه د يوسفزو ټول اوه سوه مشران ووژل او امر ئې وکړ چي د سياه سنګ په سيمه کې دي ښخ شي. تواريخ وايي چي د دوی هديره (تر اوسه هم د يوسفزو د شهيدانو هديره بلل کيږي.)

د ملک سليمانشاه دا ځلمی وراره چي احمد نومېده او د يوسفزو د مشرانو له قتل عام څخه ژوندی پاته شو، خپل قوم ته ورغی او په حال ئې خبر کړل. قوم ئې فيصله وکړه چي زياتي ئې په کابل کي ګوزاره نه کيږي او بايد چي په کومه بله خوا ولاړ شي. ټول پيښور ته وخوځېدل. په دې وخت کي د پيښور او شاوخوا سيمو اوسېدونکي دلزاک پښتانه وو او (پيښور، دوآبه، باجوړ، ننګرهار، کاله پاني، تر هزارې سينده پوري دا واړه ملکونه) د دوی وو. (٢٠) يوسفزو څه ځمکه تري وغوښته. دلزاکو دوآبه وروښله او بيا ئې د ملک احمد په غوښتنه دانشکول، عنبر او باجوړ هم ورکړل. دا ئې هم ورته وويل چي اشنغر له دوآبې سره دئ هغه دي په خپله توره وګټي. يوسفزي په دوآبه کي مېشته شول او په کابل کي پاتي کونډي يتيمان هم پسي ورغلل. کوچي يوسفزي پورته دانشکول او عنبر ته ولاړل. يو شمېر زيات امان زي، کمال زي، ماموزي او ډېر زيات خواجوزي بيا پورته باجوړ ته ولاړل او په لاشړه کي دېره شول. (پښتانه، پوهاند دوکتور حبيب الله تږي).

# څلورم څپرکی

**پښتانه او اسلام:**

**زموږ د اوسني هیواد په لرغونو سیمو کي اسلام څه وخت او څنګه خپور سو؟**

اوس چي مو د پښتني قبیلو پر اړوندو سیمو او تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کي د هغوی پر مهاجرتونو او د اوسېدو ځایونو باندي څه نه څه وړغېدو نو به د افغانانو د اصل او نسب په تېره بیا د بن اسرائیلیت د موضوع په اړوند د پښتنو او اسلام اړیکو ته یوه لنډه کتنه وکړو. څو چي د قیس عبدالرشید د اړیکو کیسه، د حضرت محمد (ص) او خالد بن ولید سره، څه نا څه روښانه سي.

شک نسته چي د پښتنانه او مسلمانی تر منځ ارګانیکي اړیکي موجودي دي. موږ تل وایو چي د مسلمان او پښتون په توګه مي داسي وکړه .... د تاریخي شواهدو پر بنسټ موږ وینو چي براهمنیان، ګبریان او بودایان ټوله په یوه وخت کي د اسلام عظمت ته تسلیم سوي دي خو په افغانانو کي مسلماني په سیستماتیک ډول د شاه محمود غزنوي په زمانه کي چي په دې سیمه کي لومړنی ترکی پاچا وو د یوولسمي پېړۍ د سر په کلونو کي رامنځته سوې ده. خو داسي ښکاري چي د زور مسلمانی ډېر دوام و نه کړ خلک تش په خوله مسلمانان وه خو د محمود د اخلافو په دوران کي ډېر ژر خپلو پخوانیو ادیانو ته مخ ورواړوي. څو چي د شهاب الدین غوري په زمانه کي هڅه وسوه چي په ټوله هندوستان کي د مسلمانی د پیاوړتیا له پاره هڅه او تلاښ وسي. هغه وو چي د پښتونخوا په ټولو سیمو کي عربي مبلغانو د سیدانو په نوم او هندي اسلامي غټان د شیخانو په نوم د اسلام د خپرولو له پاره لستوني راونغښتل. خو بیا هم د مسلمانی پروسه په ختیځه پښتونخوا کي ناتمامه پاته سوه. د پنځلسمي پېړۍ په لومړۍ نیمایي کي چي د پښتونخوا دغه د پخوا زماني (ګندهاریان) په افغانانو بدل سول نو د یو لړ

طبيعي او ټولنيزو عواملو په تنيجه کي دې ته اړ سول چي د يوسفزو د کانفدراسيون په څېر بيرته د لرغوني تاريخ پخواني ټاټوبي ته راستانه سي.

هغه ختيځ پېژندونکي چي پښتونخوا سيمي ته ئې له لوېديځي خوا څخه د مسلمانانو د راتګ جريانونه څېړلي دي نو د لومړي ځل له پاره په غور کي د هغه قيبلوي واحد پر اسلامي رسالت باندي رڼا اچوي چي له سامي سيمو څخه په پخوا کي دلته راغلي او د «بن اسرائيل» يا د «افغنه» د اولادې او يا خو د افغان په نامه يادېږي.

مرحوم کانديد اکادميسن نوميالی د بيليو د يو شمېر نقل قولونو په حواله ليکي:

"دغه افغنه يا افغان چي وروسته د پښتنو په لويه ايتنيکي پرګنه کي منحل سوه، واردواره ئې د خپلي هغې مشترکي تاريخي رابطې په حکم چي د دې سيمي او سامي کلتور تر منځ ئې درلوده، د مسلمانی د رسالت مخکښي پر غاړه واخيسته. بيليو وايي: دوی چي کله د کندهار لوري ته مخه کړه نو دا پرمختک ئې په غالب احتمال د عربي خليفه تر بيرغ لاندي د نظامي کالونيوالو په څېر. ګمان کيږي چي په لومړي سر کي ئې خپل ځانونه د وسلې په زور خوندي ساتله. خو ورو ورو چي د شمېر له پلوه په اقليت کي راتله نو د فتحه سوو خلکو سره ګډېده او د هيواد په عمومي وګړو کي جذبېدل اما د فاتحانو په څېر ئې خپل نوم (افغان) ژوندی وساتی او د زمانې په جريان کي دا نوم پر هغه چا باندي هم کښېښودل سو چي د ازدواجي خپښيو له لاري په يوه واحد هويت کي يو د بل سره ګډېدله (۱۶ ش-۵۲ م) بيليو په يو بل ځای کي داسي ليکي: "داسي احتمال سته چي افغان ولس (چي د ګندهاريانو ګاونډی او په وختي کي ئې اسلام منلی ؤ) له عربي فتوحاتو سره ئې په دې کار کي لارښوونکی نقش پر غاړه واخيستی چي د جنوبي افغانستان هغه اوسېدونکي چي لا نه وه مسلمانان سوي، تر تابعيت لاندي راولي او اسلام ته ئې راواړوي. سربېره پر دې دا هم احتمال لري چي د دی توکم (افغان) له غلبې سره دوی نه يوازي د ځان ملي نوم خپلو تابعانو ته ور انتقال کړ بلکي تر ډېري اندازې له دوی سر ه د خپل منځي ازدواج په سلسله او د همدې تابعانو د ژبي او زياترو دودونو د غوره کولو په وسيله هم له هغو سره ګډ سول." ( ۱۶ش ۱۰۵ م)

داسي ښکاري چي په زور د مسلمانی نتيجې ښې پايلي نه درلودې، خلک تش په نامه مسلمانان سوي وه او د محمود د اخلافو په زمانه کي ئې ډېر ژر خپلو پخوانيو اديانو ته

مخ وروګرځوی او غوښتل ئې چې زاړه عقاید او کلتورونه له سره را ژوندي کړي، هغه وو چې د شهاب الدين غوري په زمانه  يعني په دوولسمه پېړۍ کي دا هڅه را پيدا سوه چې په ټول هند کي د مسلمانۍ د پياوړي کېدو له پاره هلي ځلي وسي. په همدغه وخت کي د پښتونخوا په ټوله سيمه کي هغه عربي مبلغان چې سيدان وبلل سوه او هغه هندي اسلامي غټان چې شيخان وبلل سوه د مسلمانۍ د تبليغي فعاليتونو ته ئې ټينګه ملا وتړله.

د مسلمانۍ پروسه تر ډېره پوري د ختيځي پښتونخوا په ليري سيمو کي تر ډېره وخته پوري، ناتمامه پاته سوه. د پنځلسمي پېړۍ په لومړۍ نيمايي کي چې د پښتونخوا په لوېديځو سيمو کي د لرغوني بودايي هنديانو ستره پرګنه مسلمانۍ ته اوښتې وه او دغه د پخوا زمانې (ګندهاريان) په افغانانو باندي بدل سوي وه نو د يو شمېر ټولنيزو عواملو په نتيجه کي دې ته اړ سوه چې د يوسفزيو د قبيلوي کانفدريسي په څېر بيرته د خپل لرغوني تاريخ ټاټوبي ته راستانه سي.

يوسفزو چې د مسلمانۍ په نوم خپلي مځکنۍ پراختيا او هجوم سر ته رسول نو ئې بومي (دلازاک) اوسېدونکي او هم نوري قبيلې، د کافرانو په نوم يادولې. د شل کلني دورې په اوږدو کي دوی د بومي وکړو ټولګی پوپنا کړ، ځيني ئې د آباسين ها پلو (چچ) او بکلي ته وشړلې.

ځيني ئې د کنړ تر سنيد ها پلو چترال او کټار ته چې کافرستان نوميږي، پسي واخستل. هغه خلک چې مسلمانۍ ته ئې را اړولي وه د دی له پاره چې د نورو سره ئې توپير وسي د (هندکي) په نوم يادول. دغه هندکي د لرغوني تاريخ په حساب د دوی رښتيني قوميان وه (۱۱۰ م کال)." [نوميالی، محمد انور (د اکادميسن کانديد)، د پښتنو د ټولنيز تاريخ مبادي، ۷۰ مخ)

له دغه راز تاريخي شواهدو څخه داسي ښکاري چې د قيس عبدالرشيد د زمانې څخه لا کابو پنځه شپږ پېړۍ مخکي هم په دغو سيمو کي اسلام او د اسلام له پاره جګړې موجودي وې.

له دغو جګړو څخه تښتيدلي بوميان چې د کونړ تر غرونو واوښتل او د هغو خلکو په منځ کي ئې پناه وموندله چې په ښکاره د دوی ملګري وه نو د کام او کټار په مورچلونو او

هم هغو ناوو کې ئې يو ځاى ورسره واړول چې ليرې لوېديځ پلو ته د تګاو په برخه کې د کابل پر رود باندې راوزي. دغه را تښتېدلي مهاجر چې د ښه ډېر وخت له پاره ئې خپل اصلي پخوانى دين پاله او خپل لرغوني دودونه ئې ساتل، د مسلمانانو له خوا د کافر يا بې دينه په نامه يادېدل خو مسلماني چې د مسلمانانو له خوا ورو ورو پراخېدله نو د دوى غټو پرګنو چې د مسلمانانو سره ئې اړيکي پيدا کولې، د اسلام دين ومانه او په نيمچه مسلمان يعني نيم کافر او نيم مسلمان په څېر ئې د انتقالي پړاو له لارې د خپل عقيدوي هويت، د بدلون پروسه بشپړه کړه. خو دوى چې يوې خوا ته ئې کافران او بلې خوا ته ئې مسلمانان وه نو به د کافرانو سره کافران او د مسلمانانو سره مسلمانان وه. خو کله چې د اسلام دين هلته ټينګ سو نو نيمچه مسلمانان د مسلمانانو له ويرې پوره مسلمانى ته را واوښتل. تر هغو چې دوى په بشپړه توګه نه وه مسلمانان سوي په همدغو (نيمچه) او (کافر) په نومونو يادېدل. خو هغه ګندهاري اوسېدونکي چې لا تر اوسه نه دي مسلمانان سوي، د کافر په نامه ياديږي. او د خپلو سيمو په اړوند ئې (کټاري کافر) او يا (کامي کافر) په نومونو يادوى. (۱۱۴-۱۱۳ م)

دا د پښتانه او مسلمان تر منځ هغه اوږده تاريخي پروسه ده چې له لوېديځې پښتونخوا څخه تر ختيځې پورې د اسلام د خپرېدو په هکله ئې څو پيړۍ پرله پسې دوام موندلى دئ او د پښتنو د عقيدوي هويت ئې له ويدايي، زردشتي حالت څخه په مسلماني باندى اړوى. (نوميالى، محمد انور کانديد اکادمسن، همدغه اثر: ۶۸ مخ)

**د اسلام مبارک دين په زور او که په خوښه خپور سوى دئ؟**

که څه هم ځيني مؤرخين عقيده لري چې افغانانو په خپله خوښه د اسلام دين قبول کړى دئ خو د تاريخي اسنادو او شوهدو له مخې ويلاى سو چې په دغو سيمو کې اسلام د توري او شمشېر په زور راغلى او په تدريج سره خلکو منلى دئ.

يو له هغو مؤرخينو څخه چې وايي اسلام په خپله خوښه افغانانو منلى دئ، بيليو دئ چې وايي: "افغانان د خپلې عنعنې په اساس د هغو اقوامو په جمله کې راځي چې اسلام ئې په خپله خوښه منلى دئ او څرنګه چې افغانان په وياړ سره ځانونه بني اسرائيل ګڼي نو دا د دې معنى لري چې د دوى دا ادعا به غالباً رښتيا وي چې اسلام ئې د

دغې سیمې تر نورو اقوامو مخکې منلی دئ. ځکه د دوی اصلي مذهب یعني یهودیت، اسلام ته ډېر ور نژدې دئ." (بیلیو، د افغانستان د قوم پېژندني مطالعه، ۱۹ مخ)

په داسې حال کې چې مورږ د بېلګې په توګه د (شاه دوشمشیره مسجد) په کابل ښار کې اوس هم لرو چې د مسلمانانو د درندو جنګونو او د توري په زور د دې خاوري نیولو او د خلکو د مسلمانولو په هکله حکایت او د لیث بن قیس بن عباس په مشري د سختو او خونړیو جګړو یادونه کوي.

تاریخ شاهد دئ چې د لومړي ځل له پاره د اسلام لښکرو پر لرغوني بست باندې په ۳۶ هجري کال یرغل وکړ. د دوی لښکرو د لیث بن قیس په مشري د کابل پر لور حرکت وکړ، په کابل کې سخته جګړه ومښته، د کابل لوړ او ټینګ دېوال ئې د (منجنیق)[1] په وسله ونړوی او تر سختې جګړې وروسته ورځخه تېر سول چې د دې خونړۍ جګړې په نتیجه کې لیث شهید او په همدغه اوسني (شاه دوشمشیره مسجد) کې ښخ سو، څرنګه چې په دغه جنګ کې لیث په دوو تورو جګړه کوله او د کابل سرتېري او عسکر ئې وژل نو له همدې امله دغه مسجد هم د شاه دوو شمشیره په نوم نومول سوی دئ. په دغه جګړه کې مسلمانان په بشپړه توګه فاتح سول.

دا مسجد څو واره وران سوی دئ خو په ۱۳۰۶ هجري کال کې د امان الله خان د مور په مرسته بیا ترمیم او ورغول سو.

له تاریخي روایاتو څخه دا هم په ډاګه سوې ده چې حتی د اسلام د مقدس دین د پیل په وختونو کې په پنځلسم هجري کال کې مسلمانانو پارسیانو ته د مسلمانۍ احکامو د منلو او سلامي شریعت پر بنسټ د اجراآتو د سر ته رسولو په مقصد، یو اسلامي پلاوی ورولېږی او ورته څرګنده ئې کړه چې په دې درو وړاندیزونو کې له کوم یوه سره موافق یاست: اسلام منۍ، جزیه راکوی او که جګړې ته چمتو یاست.

څرنګه چې هغوی جزیه او اسلام په خپله خوښه قبول نه کړل نو د (معرکة

---

[1] منجنیق: هغه لرغونې وسله ده چې د شیانو په غورځولو کې کار ځني اخستل کېږي خو د منفجره موادو څخه کټه نه پکښې اخستل کېږی. او د محاصرې له ډېرو ښو وسیلو څخه شمېرل کېده. د مؤرخینو په حواله دا وسله له میلاد څخه ۳۹۹ کاله مخکې د یونسیسوس کلیم له خوا د سیراکوز په ښار کې اختراع سوې ده.

القادسية) جګړه پیل سوه او په نتیجه کې پارسیان له یوه ښار څخه بل ښار ته وتښتېدل چې په پای کې د افغانستان اوسنیو سیمو یعني خراسان ته د مجاهدینو په تعقیب راورسېدل چې په تاریخ کې ئې کیسه داسې ثبت سوې ده:

"... حضرت سعد رضي الله عنه امیر المؤمنین ته تفصیلي خط ولېږلو د قادسیې سره خوا کې د ځایونو په اړه، د جنګ د تیاري په اړه او د فارسیانو د لوی لښکر په اړه ئې ورته معلومات ورکړل او ورته ئې ولیکل چې هغوی غواړي چې مونږ له بېخه ورک کړي او مونږ غواړو چې دوی ورک کړو او کار به هغه کیږي چې الله تعالی ئې غواړي.

حضرت عمر رضی الله عنه چې مهربان، ماهر، هوښیار ، تکړه امیر المؤمنین وو حضرت سعد بن ابي وقاص ته ئې مسلسل خطونه لېږل او داسې ئې ساتلی وو لکه دا جنګ چې ټول حضرت عمر رضی الله عنه پخپله اداره کوي او دا چې هغوی لوی لښکر را ویستی په دې اړه ئې ورته ولیکل: هغه څه چې تا ته له دوی څخه رارسیږي وارخطا دې نه کړي زما په زړه کې دا خبره غورځېدلې ده چې کله تاسې له هغوی سره مخامخ شئ تاسې به هغوی ته ماتې ورکړی دا چې تاسې به ماتې وخورئ دا شک مو له زړه څخه لیرې کړئ په زړونو کې یقین واچوئ چې هغوی به ماتې خوري له الله تعالی نه مرسته وغواړئ او په هغه باندې توکل وکوئ چې کله مو له چا سره تعهد کولو ټینګ ورباندې درېږئ او خیانت مه کوئ او په خپلو ملګرو کې ځو په خبرو او بیان کې تکړه کسان را ټول کړه او د فارسیانو مشر ته ئې ورولېږه چې له هغوی سره خبرې وکوي او هغه ته د اسلام مبارک دین لور ته دعوت ورکړي.

حضرت سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه یوه ډله ملګري ورولېږل یزدجرد سره ئې خبرې وکولې او هغه ئې اسلام ته دعوت کړو او حضرت نعمان بن مقرن المزني رضي الله عنه د فارسیانو له مشر یزدجرد سره په نرمې خبرې وکولې او هغه ئې په ډېره خوږه لهجه اسلام ته دعوت کړو او څه خبرې چې هغه ورته وکولې هغه د اسلام فضائل وو ورته بیان ئې کړل او ورته ئې وویل: مونږ راغلی یو تاسې ته مو داسې دین راوړی دئ چې هر ښه ته ښه او بد ته بد وایي که تاسې دا ومنئ مونږ له تاسې سره هیڅ غرض نه لرو د الله تعالی کتاب درته پرېږدو چې نورې فیصلې په همدې باندې کوئ او مونږ بېرته له تاسې څخه ځو تاسې پوه شه، ستاسې وطن او ستاسې واکمني او که تاسې اسلام نه

راوړئ نو بیا به اسلامي دولت ته جزیه ورکوئ او کنه نو بیا جنګ ته تیار شئ.

د دې نرمو خبرو څخه یزدجرد د خپلې کم عقلۍ په بنیاد غلطه استفاده وکوله هغه فکر وکاوه چې دوی نرمې خبرې د دې امله وکولې چې دوی کمزوري دي، او د هغه وخت د ژوند پېغورونه ئې صحابه وو ته ورکړل چې تر اسلام وړاندې د دوی څنګه ژوند وو او په غصه کې ئې خبرې وکولې او دوی ته ئې وویل چې تاسې هېڅ هم نه شی کولی یو څو کسان راغلي یاست اوس د فارس د امپراطورۍ سره ډغره وهل غواړئ د اسلامي وفد نه یوه غړي حضرت مغیرة بن زرارة رضی الله عنه په غصه کې د هغه خبرې ور پرې کړې او ده مبارک هم سختې خبرې ورته وکولې بیا حضرت مغیرة رضی الله عنه ټولې هغه خبرې ور تکرار کړې چې د صحابه وو د ژوند په اړه له اسلام څخه وړاندې وې او ورته ئې وویل د دې خبرو وروسته بیا الله تعالی په مونږ باندې د اسلام انعام وکولو اوس د زمکې په مخ تر هر چا غوره خلک مسلمانان دي، تر هر چا ئې غوره عقیده ده، تر هر چا غوره ورونه دي اوس تا ته راغلي یو مونږ ته زمونږ الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم دا امر کړی چې تا ته دعوت درکړو یا اسلام قبول کړه او ځان وساته، یا د جزیې ورکولو ذلت قبول کړه او یا جنګ ته تیار شه، یزدجرد کم عقل وو، نه ئې خپل عقل درلود او نه ئې د بل چا سره مشوره کوله وفد ته ئې وویل چې ځئ لاړ شئ که تاسې استازي نه وای ټول مې وژلئ.

او امر ئې وکولو چې رستم بن فرخزاد الارمني دي له فوج سره د مسلمانانو مخې ته ورشي هغه له ۱۲۰۰۰۰ (یو لک شل زره) کسانو سره را مخې ته شو او په همدې تعداد کسان ئې په ځان پسې په دفاعي لیکه کې شا ته وساتل معنی دا چې ټول جنګیالي ئې دوه لکه څلوېښت زره وو او جنګ ته یو لک شل زره را مخې ته شوي وو دا چې کله قادسیې ته راغلو او د مسلمانانو په مقابل کې ئې مرکز جوړ کړو چې ښه دمه شو نو حضرت سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه ته ئې احوال ولېږلو چې څه کسان راولېږه چې له ما سره خبرې وکوي.

حضرت سعد رضي الله عنه څه کسان ور ولېږل چې تاسې ورشئ خبرې به هم ورسره وکوئ او اسلام ته به ئې دعوت کړئ په دې ډله کې حضرت ربعي بن عامر رضی الله عنه هم وو دوی چې ورغلل رستم ورته وویل:

تاسې د څه له پاره راغلي یاست؟

حضرت ربعي رضی الله عنه ورته وویل: بېشکه الله تعالی مونږ رالېږلي یو چې چا ته د الله تعالی خوښه شي هغه مونږ د خلکو له بندګي څخه د خلکو د معبود (الله تعالی) بندګي ته وباسو، د دنیا له سختي څخه ئې د دنیا راحت ته وباسو، د باطلو دینونو له ظلم څخه ئې د حق دین عدل ته وباسو، مونږ د الله تعالی دین د هغه مخلوق ته راوړی دئ مونږ د الله تعالی بندګان د هغه دین ته راغواړو.

رستم ورته وویل: ما ستاسې خبرې واورېدې خو په دې کار کې څه صبر تاسې کولی شئ چې مونږ مشوره وکوو؟

حضرت ربعي رضی الله عنه ورته وویل: هو مونږ تاسې ته درې ورځې وخت درکوو یوه خبره خوښه کړه یا اسلام، یا جزیه او یا جنګ خو والله چې دا ستاسې سره څومره مال دئ چې دا ټول مونږ په غنیمت ونیسو تر دې لا زیات مونږ دې ته خوشحالیږو چې تاسې ا سلام قبول کړئ.

په دې دریو ورځو کې رستم ډېر کسان حضرت سعد رضی الله عنه ته را ولېږل، مختلف ډول ستونه ئې ورته وکول، ورته ئې وویل: که قدرت غواړئ، که مال غواړئ ... په هر ډول ئې کوښښ وکولو چې مسلمانان له جنګ څخه تېر کړي لیکن و نه شول او مسلمانانو همدا ویل چې په دریو شیانو کې یو خوښ کړه: اسلام جزیه، جنګ." (تاریخ الطبری البدیهٔ التاریخ الاسلامی ویکیپیډیا)

# پنځم څپرکی

لرغونپوه ښاغلی سوان او زمری محقق په ډنمارک کې د یوه علمي سیمینار په غونډه کې. په ډنمارک کې د افغانستان د فرهنګ ټولنې له خوا نوموړي ته افغاني بګړۍ ډالی سوه.



**د ډنمارکیانو اجداد افغانان دي**

دا چې د ډنمارکیانو اجداد افغانان وه دا په حقیقت کې هغه نوی نظر دئ چې په تاریخونو کې تر اوسه نه دئ منعکس سوی یا لږ تر لږه ما ته په مخه نه دئ راغلی، ځکه نو د افغانانو د تاریخ او نسب د مسئلې سره د څېړلو په ترڅ کې ئې یادونه بې ګټې نه بولم.

په دې وروستیو وختونو کې په ډنمارک کې د افغانستان د فرهنګ ټولنې د ډنمارکي لرغونپوه د دې څرګندونې په هکله چې "د ډ نمارکیانو نیکه ګان له افغانستان څخه

ډنمارک ته راغلي دي."، یوه علمي غونډه جوړه کړې وه.

**Søren Nancke- krogh** په دغه غونډه کې برسېره پر دې چې د نوموړي مقالې لیکوال ډنمارکی لرغونپوه او نورو ډنمارکي پوهانو برخه اخیستې وه په ډنمارک کې مېشتو فرهنګیانو، پوهانو او مینه والو هم ګډون کړی وو.

نوموړي لرغونپوه د خپلې دې ادعا د ثبوت له پاره چې د ډنمارکیانو نیکه ګان له افغانستان څخه راغلی دي، یو لړ مستند عکسونه، اسناد او تاریخي شواهد وړاندی کړل او د ګډون کوونکو پوښتنو ته ئې جوابونه وویل. د بېلګې په توګه ده ته دا ډېره په زړه پوري ښکاره سوه کله چې ئې د ګډون کوونکو څخه واورېده چې په دغه هکله کابو اته کاله مخکې دلته په ډنمارک کې مېشت افغان لیکوال او څېړونکي محمدعلم بځرکي هم په یوه اوږده څېړنیزه مقاله کې چې د آمو په جریده کې تر دې عنوان لاندي چې (ډنمارکي د پښتو ترله ده) یوه مقاله خپره کړې ده چې ستاسو د پورتني اند او برسېروني سره نژدې اړیکي لري.

د (سوان نینک کغو) د چاپ سوي مقالې محتوی په لاندي ډول وړاندي کېږي: دی د یو لړ علمي، تاریخي او څېړنیزو اسنادو پر بنسټ دې نتیجې ته رسېدلی دئ چې د ډنمارکیانو پلرونه او نیکه ګان د آسونو په وسیله د افغانستان له شمالي سیمو څخه ډنمارک ته راغلي دي. سوان د دې ادعا د ثبوت له پاره لاندیني دلایل وړاندي کوي:

"د افغانستان په شمال کې یو شمېر لرغوني اثار او فیګورونه چې پر آسونو سوارو خلکو وړ مجسمو په بڼه دي، موندل سوي چې لرغونتوب ئې څلورو زرو کلونو ته رسیږي. دغه اثار په ډنمارک کې د موندل سوو لرغونو اثارو سره زیات ورته والی لري.

دی زیاتوی چې موږ په حقیقت کې د هندو اروپایي ژبې سره له افغانستان څخه ډنمارک ته راغلي یو چه په وروسته وروسته کې مو ژبې اوسنی ډنمارکي ژبې ته وده کړې ده. دی وایي د بېلګې په توګه د آس (هست) او ووان (Vogn) کلمې اوس هم په دغه لویه وچه کې استعمالیږي.

د افغانستان شمالي سیمي د نړۍ تر ټولو هغه زړې سیمي دي چې د آسونو سواری پکښې مروجه وه او په زرهاوو کیلومتره فاصله به ئې د آسونو په وسیله وهله یعني د وربښمو د لرغوني لاري به چین ته تلل او همدارنګه د شمال پر لور سکاندنویایي

هیوادونو ته راتلل. سوان زیاتوي چي د ورېښمو د لارى نیټه د میلاد څخه سل کاله مخکي تعین سوې ده دا هم ځکه چي په دغه وخت کي لیکنه رامینځ ته سوې ده.

د افغانستان لرغوني سیمي لکه څنګه چي لازمه ده د لرغون پېژندني له پلوه تر څېړني لاندي نه دي نیول سوي.

لومړنۍ منظمي کیندني ئې د پخواني شوروي اتحاد تر یرغل لږ موده مخکي پیل سوي دي او تر هغه راوروسته زیاتي سیمي د جګړې له امله وراني سوي دي.

د یونسکو په حواله چي د افغانستا ن زیاتره تاریخي او لرغوني سیمي، کلتوري زېرمي او میراثونه د جګړې له امله دومره وراني سوي دي چي یوه کلتوري فاجعه ئې ګڼلای سو او حالا ت لا تر اوسه دومره خراب دي چي د دغه هیواد د زیاترو تاریخي سیمو په هکله په سختي سره لیکل سوي منابع موندلای سو.

آس سواري یوازي په افغانستان کي نه بلکي په ډنمارک کي هم له ډېري زمانې راهیسی رواج ده سوان ننک چي د ډنمار ک د سمندري غلو د دوران (۸۰۰ څخه تر ۱۰۵۰م کال پوري زمانه په غبږ کي نیسي) او د لرغوني برونز د زمانې متخصص او د افغانستان او ډنمارک تر منځ ئې ګډ تاریخي اړیکي موندلي دي، د یو لړ لرغونو اسکلیټونو په هکله ئې څېړنه کړې ده، د مړو دغه هډوکي او اسکلیټونه چي لرغونتوب ئې کابو ۱۰۰۰ کالونو ته رسیږي، د هغو سلو اسکلیټونو له جملې څخه دي چي د (غوسکیلدي) ښار ته نژدې د کونګه مارکن په سیمه کي ئې موندلي او څېړلي دي.

کله چي ئې له هغې جملې څخه د نهو اسکلیټونو په هکله د (ډي ان اې) څېړنیز میتود څخه ګټه واخستل سوه نو ئې یو حیرانوونکی کشف (برسیرونه) تر لاسه کړ. یعني څرګنده سوه چي یو د نومړو هډوکو په هغه چا پوري اړه درلودله کوم چي د اورال د غرو له ختیځې برخي څخه راغلی وو.

که څه هم موږ پخوا لا په دی پوهیدو چی ویکینګانو vikinger (سمندری غلو) د سپینو زرو سیکې او شنه رنګه پیروزې او ارزښتناکي ډبري، د افغانستان له شمال څخه راوړي دي.

د همدغو اړیکو له مخي سوان دې نتیجې ته رسېدلی دئ چي په واقعیت کي د ډنمارکیانو پلرونه او نیکه ګان له افغانستان څخه د آسونو پر شا باندي تر ډنمارکه

رارسېدلي دي.

باید وویل سي چي هغوی یوازي یو وار د لیدو کتو له پاره ډنمارک ته نه دي راغلي بلکي دا سلسله ئې همېشه روانه ساتلې او زموږ پر کلتور ئې اغېزه ښندلې ده چي د هندو اروپایي Indoeuropæiske ژبې اغېزې پر ډنمارکي ژبه باندي ئې څلانده بېلګه ګڼل کېږي.

څکه چي د ژبي او ایتیمولوګي (د ژبي د منشاء او ریښې پېژندني علم) له مخي د خلکود ډلو تر منځ د نژدې والي او اړیکو مسئله روښانه کېدای سي. دغه راز د استیتیک (هنر - ښکلا) له پلوه هم د خلکو تر منځ د اړیکو نژدې والی د پورتنی ادعا د ثبوت عمده دلیل ګڼل کېدای سي."

د ډنمارک د لرغونپوه سوان نیک **Søren Nancke- krogh** د دې نظر په اړوند مرحوم محمد علم بڅرکي چي په ډنمارک کي اوسېدلی او څه ناڅه ئې له ډنمارکي ژبي سره اشنایي پیدا کړې وه په دغه هکله د یوې څېړنیزي مقالې په ترڅ کي یو شمېر لغتونه را ټول کړي چي د پښتو او ډنمارکي ژبو ورته والی ښیي. دی تر دې عنوان لاندي (ډنمارکي د پښتو ژبي ترله ده) لیکي: "کله چي موږ پر نژادي مسایلو رغېږو یعني دا چي نژادونه څنګه او ولي سره بېل سوه نو موږ ته د بشر تاریخ ټوله بنه را په سترګو کېږي. موږ باید نه یوازی بشري تاریخ وپلټو بلکي جغرافیایي تاریخ هم په پام کي ولرو.

ډېر پخوا یعني هغه وخت چي مځکي خپل پوست له مایع حالت څخه کلک حالت ته راواړوی د ترتانیکا انسایکلو پیدیا په قول ۴۶۰۰ ملیارډه کاله مخکي زمانه ده یعني د (کامبرین[2]) دوران پوري مځکه خپل پوستکی جوړوي او د مځکی پر مخ یو حجروي ژوی یا حشره منځته راځي یا په بله ژبه د بشر تاریخ او جغرافیه هم له همدغه ځایه څخه پیلېږي چي وروسته له دې په تکاملي سیر کي «ښاغلی انسان» او بېلابېلي لويي وچي منځته راځي خو هغه وخت چي دا حجرې د انسان بنه غوره کړه ۱۵۰ زره کاله مخکي زمانه ده. په دغه وخت کي انسان له حیوان څخه رابېلېږي او تاریخ ورته انسان نما حیوان وایي خو کله چي ئې انساني بڼه غوره موندلېده سل زره کاله وړاندي وخت دئ. تر دې وروسته نژادونه منځته راغلي دي .... د پوهان ژرسکي په قول کله چي نندرتال

---

[2] comrian

انسان د اوسني انسان بنه غوره کوله (سل زره کاله مخکي) د لومړي انسان استوګنه د اروپا او افریقا هغه سیمي وې چي یو او بل ته سره نژدې وې. یوه ئې د جنوب لوېدیځ ډله بله ئې شمال شرقي ډله وه. دا دوې ډلي د افغانستان د هندوکش، همالیا او د هند و چین د غرونو په ذریعه سره بېلي سوي چي له جنوب غربي ډلي څخه اروپایي تور او سپین نژادونه منځته راغلل او وروسته ورڅخه واړه واړه نژادونه راوزېږېدل چي په مختلفو ځایونو کي مېشته سول

او بله ډله د شمال ختیځ ډله ده چي موږ ئې د مغولو په نامه یادوو دې ته ژړ نژاد هم وایي.

د دې نژاد یوه برخه خلک د آبنایي بېرنګ له لاري امریکا ته هم تللي دي. د انسان پېژندني د پوهانو د څېړنو له مخي هغه وخت چي امریکا او آسیا د آبنایي بېرنګ په وسیله سره مښتي وي دغه آبنایي بېرنګ یا موجوده نه وه او یا هم د دوو وچو تر منځ ډېره لږ فاصله وه او دا چي د نژادونو کړه وړه توپیر سره لري، د مختلفو طبعي شرایطو اغیزې ورباندي لوېدلي دي. (بځرکی، محمدعلم، آمو جریده، څلورم کال، لومړی ګنه، ۲۹/ ۳/ ۱۹۹۸ ډنمارک د هالبیک ښار).

مرحوم محمد علم بځرکی د نژادونو د تکامل او د ژبو د پیدایښت د تاریخي ریښو د څېړلو په ترځ کي زیاتوي چي: "... کله چي نژادونه له یوې سیمي څخه بلي ته انتقالیږي نو د ځان سره رواجونه او عادات هم نقلوي په دغه ډول ئې د ژبي الفاظ هم وړي او په پېړیو پېړیو ئې له ځانه سره ساتلي دي. مؤرخین د دغو الفاظو په مرسته د دوی نژادي لرغونتوب ښیي.

د ژبي او نژاد توپیر سته نژاد تل د شخصیت د ودي ښکارندوی دئ خو ژبه بې وفا ده د چاپېریال په بدلون، د قدرت په تسلط او داسي نورو حالاتو کي ډېر ژر بدلون مومي، خپل اصل پرېږدي او د شرایطو تابع کېږي."

مرحوم بځرکی د هندو اروپایي ژبو د بېلابېلو څانګو او ریښې په تفصیل سره څېړلي دي د تحلیل او څرنګه چي زموږ د بحث له موضوع څخه لیري ده نو ئې له یادولو څخه ډډه کوم.

دی په نتیجه کي وایي: "... له پورتني وېش څخه داسي ښکاري چي پښتو او ډنمارکي

ژبي سره ترلې ګاني دي خو د زرو کلونو په اوږدو کې ئې اړيکي سره شلېدلي دي. د چاپېرېال اړيکو د ډنمارکيانو پر وېښتانو او سترګو باندي اغېزې ښندلي دي. خو قد، اندام او د پزي جګوالی ئې اوس هم ارين نژاد ته ورته دئ.

په ډنمارکي ژبه کي اوس هم داسي توري او لغتونه سته چي پښتو ته ورته والی لري. زه که څه هم ژبپوه نه يم او نه مي ډنمارکي ژبه لکه څنګه چي ښايي زده ده خو بيا مي هم داسي توري موندلي دي چي پښتو ته ډېر ورته دي، لکه:

| پښتو ژبه | ډنمارکي ژبه | پښتو ژبه | ډنمارکي ژبه |
|---|---|---|---|
| دا | Det | ګو، ګورم | Kø |
| اته | otte | نهه | Ni |
| پلار | far | اکا | Ankle |
| مور | Mor | مياشت | Månde |
| ورور<br>مېږی | Bror<br>Myre | لږ څه<br>سهېل يا جنوب | Lidt<br>Syde |
| شکره | Sukker | درې | Tre |

د شکري لغت پوهاند حبيبي صاحب (د افغانستان مؤرخ) له سنسکريټ څخه بولي او وايي چي په پخوانی پښتو پوري اړه لري. حبيبي صاحب د کيو کلمه هم سنسکريټ ګڼي چي په پښتو کي غوا او ګلې ته وايي چي اصلي ريښه ئې هم هغه (کيو) ده.

دغه راز په ډنمارکي حساب کي لکه د پښتو حساب لومړی عدد او بيا لسيز ياديږي لکه (ان او څيوه) چي په پښتو کي (يوويشت) لوستل کيږي. يعني لومړی يو او بيا ويشت ويل کيږي په ډنمارکي ژبه کي هم لومړی ان او بيا څيوه ويل کيږي.

لوی استاد پوهاند حبيبي وايي چي د انګريزي هوس او د پښتو اوسېدل د ويدا او اوستا د ويس سره يوه ريښه لري، چي همدغه د اوسېدو معنا لري.

د استاد حبیبی په حواله ستو[3] په اوستا او سنسکریټ ژبو کې هم د ډنمارکي ژبي په توګه درېدو ته وايي.

دغه راز په ډنمارکي ژبه کې هم د پښتو ژبي په شان په جمله کې د قید او اسم مخته صفت راځي لکه ښایسته سړی[4].

او دغه راز نور د ژبي او کلمو ورته والی د دې دوو ژبو (پښتو او ډنمارکي) د نژدې اړیکو څرګندوی دي. دا هم څو نوري بېلګې:

| ډنمارکی ژبه DANSK | پښتو ژبه | ډنمارکی ژبه DANSK | پښتو ژبه |
|---|---|---|---|
| NAVN | نوم | HEST | آس |
| STJERNE | ستوری | STOR | ستر (غټ) |
| NEJ | نه | NY | نوی |
| MIG | ما / زما | MUDDER | مټ |
| DAM<br>LØB<br>TORDNER | ډم (د اوبو)<br>لوبي<br>تالنده | KARWAN<br>DYB<br>PENGE | کاروان<br>ډوب<br>پانګه |

محمد علم بڅرکی د ژبي او نژاد د اړیکو په اړوند او د هغو ځانګړیو بدلونونو ته په اشاري سره وايي:

"د شمالی اروپا قومونه دغو سیمو ته کابو دوولس یا دیرلس زره کاله پخوا راغلي دي، تر دې دمخه دا مځکه واوری پوښلې وه او د خلکو د ګذارې نه وه. په دغه زمانه کې د دوی د بدن په جوړښت کې د چاپېریال له امله خورا ستر توپیر پیدا سو چې د پخوانیو قومونو سره ئې فرق ومونډی. په تېره بیا د وېښتانو او سترګو په رنګ کې ئې ښکاره بدلون رامنځته سو، څرنګه چې لمر په دغو سیمو کي نسبتاً لږ دئ نو ئې د پوستکي رنګ سپین سوی دئ.

---

Stå [3]

smuk mand [4]

دا چې نژاد او ژبه څه اړه سره لري د معاصرو علماوو تر منځ اختلاف نظر موجود دئ، ځيني پوهان ژبه د نژاد زېږنده ګڼي او ځيني بيا فکر کوي چې دا څه ضرور نه ده چې مشخص نژاد ټاکلې ژبه ولري، خو زه فکر کوم چې دا موضوع په تاريخي لحاظ فرق کوي. هغه وخت يعني د تاريخ نه مخکي دوران کي چې ترانسپورټ او کمونيکېشن لا ډېره پراختيا او پرمختيا نه وه موندلې، خلک تقريباً ساکن وه او په دې وخت کي موږ نه سواى کولاى چې ژبه دي له نژاد څخه رابېله کړو ځکه چې هر نژاد په ټاکلې سيمه او ټاکلي کلتور کي محصور وو نو طبعاً د دوى ژبه هم هغه وه، په کوم باندي چې به د دوى نژاد خبري کولې.

مګر کله چې په معاصر وخت کي ترانسپورټي فعاليتونو پراختيا وموندل ويديو، تلوېزيون، تليفون، الوتکه او داسي نور انکشافات رامنځته سول نو موږ په دې وخت کي ژبه له ټاکلي نژاد څخه نه سو بللاى، او نه ئې بولو، بلکي په معاصر وخت کي ژبه له نژاد څخه چاپېريال ته را انتقالېږي په هر هغه محيط کي چې نژاد اوسېږي مجبور دئ چې د هغې سيمي په ژبه خبري وکړي." (بځرکى، محمد علم هم هغه اثر، نهم مخ)

**د پاى خبري:**

په دې کتاب کي چې د ليکني اصلي موضوع ئې د پښتنو د نسب او شجرې څېړلو ته په تېره بيا د اسرائيليت په اړوند وقف سوې ده، د مؤرخينو د زړو او نوو روايتونو او اندونو څه ناڅه په فشرده او لنډه توګه، را ټول او لوستونکو ته وړاندي سوي دي څو چې هغو پښتنو ته تر يو حده ځواب ويل سوى وي چې د کلونو کلونو راهيسي لاځوابه او د مشکوکو تاريخي افسانو په ډول ئې نسل پر نسل زموږ تاريخونو کي ځاى نيولى او له بده مرغه لا تر اوسه هم دا شکونه په بشپړه توګه له منځه نه دي تللي.

دا ځکه چې د پښتون قوم د اصلي ريښې په هکله به دا ډېره ګرانه وي چې په دغه اړوند نکلونه او کيسې دي د پخو دلايلو په توګه ومنل سي او دوى دي د بابليانو د زمانې په يوې واحدى ايرانى سرچينې پوري وتړل سي. د تاريخي شواهدو له مخي افغانستان او د پاکستان سوبه سرحد هغه سيمي دي چې ډېر زيات خارجي ځواکونه دلته راغلي او پر

دې سيمو ئې يرغلونه کړي دي. هره ډله چې پر دې سيمو تېره سوې ده هرومرو ئې خپلې نښې نښانې پرې ايښې دي. نو دې سيمو چې ډول ډول تمدنونه زغملي دي، زموږ د هيواد او بهرنيو مؤرخينو او لرغونپوهانو دنده دا ده چې د هغې سيمې او خاورې په هکله چې پښتانه پکښې اوسېدلي يا اوسيږي څېړنه وکړي. که څه هم په سرحدي سيمه کې پښتنو (پټان) پخپله کوم معاصر ادبيات له ځانه څخه نه دي پرې ايښي، دوی يادګاري ځلي نه دي جوړ کړي، او لرغوني سيکې او مروجه پيسې ئې هم بايد له ګاونډيو سيمو څخه راوسپړو څو چې د نورو برخو د ورته سيکو سره د پرتلې له مخې، د پښتنو د تاريخ تاريکې برخې روښانه کړو.

دا څېړنه او ليکنه مې په داسې حال کې پيل کړې ده چې په دې ښه پوهېدم چې زموږ په جنګ ځپلي هيواد کې سره له دې چې دا ډول تحقيقاتو ته جدي اړتيا احساس ده خو بيا هم افغانان په تېره بيا پښتانه د کتاب پلورلو او لوستلو سره مينه نه ښيي.

لکه يو کتاب پلورونکی چې وايي: "زياتو پښتنو ليکوالانو خپل ټول ژوند پښتو ته وقف کړی وي. د خپل دغه شوق يا مکلفيت يا خدمت د احساس له کبله د اکثرو دغو کسانو شخصي اقتصادي ژوند ډېر کمزوره هم وي. اکثره وخت د هغوی خپلې کورنۍ هم ورڅخه ناراضه وي ځکه چې د دغو ليکوالو زياته توجه د کورنۍ د اړتياوو د پوره کولو پر ځای د ليکوالۍ پر سمت وي. دغه ليکوالان عموما د آل و اولاد د برخې وخت او امکانات هم د پښتو کتابونو ليکلو ته ورکوي. خو کله چې دغه ليکوالان وفات سي، نو په کور کې ئې په لسهاوو ناچاپ سوي کتابونه پاته سي. زيات وختونه د هغوی کورنۍ د دغو کتابونو له معنوي ارزښت څخه بېخبره وي او يا ورڅخه په عذاب وي او دغه کتابونه پر ډېران وغورځوي او يا ئې د کاغذ د تول په حساب خرڅ کړي. اکثره دغه ليکوالان نه په ژوند او نه هم له مرګ وروسته د خپلو زحمتونو له پاره کورودانی واوري او نه کومه بله معنوي يا مادي ګټه ئې په برخه سي."

دی زياتوي چې: "زموږ کورنۍ له ۱۳۶۰ کال راهيسې د کتابفروشۍ کار کوي. په کندهار، هلمند او کابل کې کتاب پلورنځي لرو او زما تر څنګ زما ټول ورونه په دغه کار اخته دي. زه له خپلې تجربې درته ويلای سم چې د پښتو کتابونو ليکل، چاپول او خرڅول د ښکيلو ټولو اړخونو له پاره لوی اقتصادي تاوان وي. په افغانستان کې بعضې

هغه مطبعې چي ورڅخه بعضو ئې پخوا په پاکستان کي کتابونه چاپول او اوس افغانستان ته راغلي دي، هغوی هم په تاوان کي روان دي. د ... خپرندويه شرکت صرف په دې خاطر يو څو زياتي افغانۍ پيدا کړي چي يو څو لويي پروژې په لاس ورغلې. خو اوس د دغي مطبعې هم خوند نسته او د کندهار په شان لوی ولايت کي لا د شلو زرو افغانيو کلنی فروخت نه لري."

برسيره پر دې موږ وينو چي د پښتو ليکوالان کتابونه په خپل شخصي لګښت او يا کله کله د مؤسسو يا سوداګرو په مرسته چاپوی. پښتو کتاب چي له هر طريق څخه هم چاپ سي ليکوال ته ئې هيڅ مالي ګټه نه رسيږي. حتی په غربي هيوادونو کي چي د پښتنو ليکوالانو کوم کتابونه د مشهورو مطبعو له خوا چاپ سوي دي، نو دغو ليکوالانو ته هيڅ پيسې نه ورکوي. د بېلګي په توګه د لازياتيک مشهوري فرانسوۍ مطبعې د ډاکټر صاحب محمد اکبر وردګ څو پښتو فرانسوي قاموسونه چاپ کړي، خو دغه ليکوال ته ئې په بدل کي يوه افغانۍ هم نه ده ورکړې. په آلمان کي د ډاکټر صاحب محمد اکرم ملکزي د مشهور آلماني پښتو قاموس په هکله مي هم دغه اورېدلي چي بوسکه شرکت ورته پيسې او ګټه نه ده ورکړې. يعني پښتو دومره بې قدره او بې ارزښته سوې ده چي حتی غربي مطبوعاتي شرکتونه ئې هم مسلکي او په نړیوال ستندرد ليکل سوي کتابونه صرف په دې شرط چاپوي چي ليکوال به ورڅخه پيسې نه غواړي.

د دی ټولو نيمګړتياوو او ناخوالو سره سره مي د دې څو پاڼو په ليکلو پيل وکړ څو چي دغه کوچنی اثر، چي بېله شکه به له نيمګړتياوو خالي نه وي، هيوادوالو ته د ادبي اوفرهنګي چوپړ په مقصد وړاندي کړم.

په کتاب کي د بني اسرائيليت د اند د پيروانو او د هغوی د نظرونو د مخالفو مؤرخينو او څېړونکو نظرونه د ماخذونو په ښودلو سره کټ مټ را اخيستل سوي او د دواړو خواوو تحليلونه د لوستونکو د قضاوت ډګر ته په پوره امانت داري سره وړاندي سوي دي.

زما هيله دا ده چي زموږ ځوان ليکوالان او څېړونکي دا مسئله د يوويشتمي پېړۍ د نوو علمي او تخنيکی ايجاباتو او امکاناتو (**کاربن ۱۴ او ډي ان اې**) په مرسته او رڼا کي،

نوره هم پسي وشني څو چي وچ له لندو څخه او رښتيني له کاذبو څخه رابېل او د افغانستان د لرغوني تاريخ او د پښتنو د شجرې د اصلي ريښو او ژبنۍ ترمينالوژۍ په هکله يو واحد او د منلو وړ معلومات د نوي نسل د پوهاوي په مقصد وړاندي او د ښوونځيو په تعليمي نصاب کي شامل کړي.

ومن الله توفيق



**د زمري محقق لنډه پېژندنه**

څېړونکی زمری محقق د محمدعلم بځرکي مشر زوی د کندهار د بي بي حوا په کوځه کي په ۱۹۵۰ میلادي کال زېږېدلی دئ. لومړنۍ زدکړې ئې د کندهار د میرویس نیکه په لېسه کي پای ته رسولې او وروسته بیا د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي د ژورنالیزم له څانګي څخه په ۱۳۵۲ هجري شمسي (۱۹۷۳م) کي فارغ سوی دئ.

د احتیاط د ضابط په توګه د عسکري خدمت د تر سره کولو وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزارت اړوند د مستظرفه صنایعو په ریاست کي ئې خپله لومړنۍ رسمي دنده پیل کړې ده. وروسته بیا د هیواد ورځپاڼي د راپورتر په توګه او بیا هم د ثور انقلاب ورځپانه کي د راپورتاژونو د مدیر په حیث په دنده ګمارل سوی دئ. څه دپاسه د یوه کال له پاره د سیاسي دلایلو پر اساس جبراً له دندې ګوښه او بېکاره سوی دئ.

او بیا وروسته په ۱۳۶۰ کال کي د علومو اکاډمۍ د څېړونکی د مرستیال د علمي رتبې په لرلو سره د افغانستان د علومو اکاډمۍ اړوند د لرغون پېژندني د انستیتوت مربوط د لرغون پېژندني مجلې د مرستیال په توګه په دنده ګمارل سوی او د محقق یا څېړونکي علمي رتبې ته د راپورته کېدو سره سم په ۱۳۶۲ کال کي د افغانستان د علومو اکاډمۍ د خپرونو د رئیس په توګه ئې کابو پنځه کاله دنده سر ته رسولې ده.

زمری محقق د هیواد په دننه کې وروستۍ رسمی وظیفه، په ۱۳۶۷ کال کې د یونسکو په دفتر کې د ټولنیزو چارو (ډیپارتمنټ) د رئیس او د کوریر (courier) د مجلې د مسؤل مدیر په توګه، تر سره کړېده.

په ۱۳۶۹ کال کې د هیواد پرېښودلو ته اړ سوی، لومړی پاکستان او بیا ئې ډنمارک ته پناه وړې ده. د پاکستان د کویټې په ښار کې د مین پاکۍ یا ډیماینینګ په مؤسسه کې د انګلیسي ژبې د ترجمان په توګه هم دنده سر ته رسولې او په ۱۹۹۱ م کال کې، د ډنمارک کوپنهاګن ښار ته کډوال سوی دئ.

په ډنمارک کې ئې د دوډۍ پیدا کولو له پاره له ټکسي چلولو څخه نیولې تر ترجمانۍ پوري ببلابېلې دندې تر سره کړي دي.

د پردېسۍ په دې دوران کې ئې هم علمي او فرهنګي هڅې کړي دي، د بېلګې په توګه لومړی ئې د هالبیک په ښار کې د افغانانو د اتحادیې د یوه فعال په توګه د لومړي ځل له پاره د یو شمېر نورو فرهنګپالو په مرسته یوه جریده د (آمو) په نوم تاسیس کړه چې د مسؤل مدیر دنده ئې د ده (زمري محقق) پر غاړه وه.

دغه راز د کوپنهاګن په ښار کې ئې هم په ۲۰۰۰ میلادي کال کې د یو لړ فعاله فرهنګیانو په مرسته وکولای سوای چې د یو زیات شمېر افغانانو په راټولولو سره (په ډنمارک کې د افغانستان د فرهنګ ټولني) په نوم یوه اتحادیه تاسیس کړي چې د ریاست چاري ئې زمري محقق ته وسپارل سوې. له نېکه مرغه دغه اتحادیه چې اوس کابو شل کلنه سوه، د یوه ژوندي او فعال ارګان په توګه، افغانانو ته د خدمت په چوپړ کې ده.

زمری محقق برسېره پر دې چې د هیواد په دننه کې ئې د شپاړس کالو رسمي او ژورنالیستیکی دندو تر څنګ د افغانستان د علومو اکاډمۍ مربوطو خپرونو او د هغه وخت ورځپاڼو (هیواد، انیس، د ثور انقلاب ورځپاڼه، ژوندون مجله ...) او داسي نورو جریدو او مجلو کې په سوونو مقالې او ژباړې خپرې کړي دي. دغه لاندي اثار هم لري:

**اثار:**

- منډیګک او د هغه اړیکي د سند او بین النهرین سره. (دا کتاب چې د محقق د علمي رتبې له پاره د افغانستان د علومو اکاډمۍ د علمي پروژې په توګه لیکلی سوی او د

علومو اکاډمۍ د مسلکی بورډ څخه د تائېد او تصديق تر لاسه کولو وروسته د هيواد دولتي مطبعې ته د چاپ له پاره لېږل سوی، خو د تنظيمي جګړو په وخت کي د يو شمېر زياتو نورو اثارو په شان په سرو لمبو کي سوځول سوی دئ. له نېکه مرغه چي يوه کاپي ئې د ليکوال لاسته ورغلې او بيا د نوي کتني او نوو معلوماتو په زياتوالي سره، دوباره په ۲۰۱۰م کال کي په کويټه کي د پښتو ادبي غورځنګ په مرسته چاپ سوی دئ.)

- افغانستان (Afghnistan) دغه کتاب له ډنمارکي ژبي څخه د څېړونکي زمري محقق ژباړه ده چي يوه ډنمارکي ليکوال (څغولس اوګو) ليکلی دئ چي په ۱۳۸۰ (۲۰۰۰م ) کال کی د زرو ټکو په تيراژ په پېښور کي چاپ سوی دئ.

- د پښتنو د شجرې تاريخي ريښې (د بني اسرائيليت اند) (همدغه اثر)

- زمونږ ګډه ژبه (vores fælles sporg) د پښتو – ډنمارکي ګرامر کتاب، ناچاپه.

. د ښکاري په نوم په ډنمارکي ژبه خپور سوی اثر دئ:

( Jæger, i krig med eliten, Thomas Rathsack)

پښتو ته ژباړل سوی، ناچاپه.

**يادونه:**

څرنګه چي تخلص ئې (محقق) دئ او د افغانستان د علومو اکاډمۍ د علمي رتبو پر اساس ئې علمي رتبه هم محقق ده نو کېدای سي چي څېړونکی زمری محقق ورته وليکل سي.

## د وخت د سياستوالو سره زما ليدني او خاطرې

يوه ورځ په ځای کي پروت وم خوب مي تښتېدلی وو، نو د فکرونو په نړۍ کي لاهو سوم. د هيواد د تېرو څلويښتو کلونو جريانات مي په ذهن کي را وګرځېدل او په دغه لړ کي د وخت د مطرحو شخصيتونو سره ليدنو کتنو ته مي پام راواوښتی نو سمدستی مي

قلم راواخيستی او دغه څو پاڼي مي توري کړې:

**د مرحوم محمدهاشم میوندوال سره لیدنه:**

کله چي د ويښ ځلميانو او د خپل وخت د منورينو د مبارزو په نتيجه کي د پاچا محمدظاهر خان په وخت کي د بيان د آزادۍ او د ټولنيزو فعاليتونو له پاره زمينه برابره سوه، نو له موقع څخه په ګټه اخستلو سره په هيواد کي د بېلابېلو ګوندونو د بنسټ ډېره کښېښودل سوه.

په۱۳۴۳ هـ ش کال کي د خلک ديموکراتيک ګوند لومړۍ کنګره جوړه سوه. د شعله جاويد، افغان ملت، صدای عوام، جوانان مسلمان او داسي نورو تر څنګ د مترقي ديموکرات يا سوسيال ديموکرات ګوند، د مساوات د جريدی په لرلو سره د ميوندوال په مشري رامنځته سو.

مساوات د ګوند لومړۍ کنګره زموږ يعني د مرحوم محمدعلم بخړکي په کور کي چي د خيرخانې مېني په لومړۍ برخه کي واقع وو، په ۱۳۴۹ کال  د سنبلې په مياشت کي د لاندنيو شخصيتونو په ګډون جوړه سوه:

مرحوم محمدهاشم ميوندوال، مرحوم محمدعلم بخړکی، مرحوم عبدالشکور رشاد، مرحوم خواخوږی، ښاغلی عبدالاحد عارض، مرحوم بېنوا، مرحوم محمدهاشم ترکی، مرحوم عبدالحی حبيبي، مرحوم عطايي، مرحوم غلام جيلاني خان الکوزی، مرحوم عبدالصمد ويسا، مرحوم  فيض محمد انګار او داسي نور چي زما ئې اوس نومونه نه دي په ياد چي کابو زياته برخه ئې د ويښ زلميانو د نهضت مشران او عمده غړي وه.

په ګنګره کي نسبتاً چپ مرام د محکومي طبقی د ګټو پر بنسټ د سوسيال ديموکرات په نوم جوړ سو او په تشکيلاتي برخه کي مرحوم محمدهاشم ميوندوال د عمومي منشي او مرحوم محمدعلم بخړکی د مرستيال او لومړي سکرتر په توګه، د رايو په اتفاق وټاکل سول.

د مترقي ديموکرات ګوند چي وروسته د مساوات د جريدې په چاپولو سره د مساواتيانو په نوم شهرت وموند، د مبارزې تېره څوکه ئې د زاړه فيوډالي نظام ړنګولو او

پر ځای ئې نوی توليدي سيستم رامنځته کولو ته وقف سوې وه.

دا نو هغه وخت دئ چي زه د فاکولټې په لومړي ټولګي کي په زده کړو لګيا او د مبارزې د الفبا سره نوی اشنا سوی او د کيڼ اړخ سياست ته متمايل احساساتي ځوان يم. په همدې کلونو کي د پوهنتون په انګړ او په اړوندو ليليو کي د سياست ډګر دومره تود وو چي د هيواد د ټولو سياستوالو او او سرکاري چارواکو پاملرنه ئې ځانته را اړولې وه.

پر يوه سټيج به ډاکټر نجيب د پرچميانو په استازيتوب، پر بل سټيج به ډاکټر زرغون او کاظم ملوان د خلقيانو په استازيتوب، پر بل ځای به ګلبدين حکمتيار او نيازی د مسلمانان جوان يا اخوانيانو په نمايندګي، لهيب د شعله جاويد په استازيتوب او همدا رنګه ذبيح الله عصمتي د صدای عوام په استازيتوب او مېړني د افغان ملت په استازيتوب ويناوي کولې.

په دغه وخت کي د سياست ډګر ډېر تود او د پراخو مظاهرو، اعتصابونو او د منورينو تر منځ د سياسي عقايدو پر سر د سختو جګړو او مبارزو دواران وو چي د سيدال په شان ځوانان پکښي مړه او زخميان سول.

محمدهاشم ميوندوال د خپل صدراعظمۍ په وخت کي په خپله د پوهنتون ډګر ته ورغلی چي د محصلينو له غوښتنو څخه د نژدې ځان خبر کړي. له هغوی سره د خبرو په ترڅ کي يوه محصل د ده و کميس او نکټايي ته لاس ورواچوی. مرحوم ميوندوال ورته وويل چي ته خبري وکړه تاسو څه شي غواړۍ؟

هغه ورته وويل چي ډيموکراسي، نو مرحوم ميوندوال جواب ورکړ چي تر دې لا هم ښه ډيموکراسي سته چي تا يو صدراعظم تر غاړه نيولی دئ؟

په داسي يوه وخت کي چي د سياست پوهانو ټوله پاملرنه د پوهنتون محصلينو او د ښوونځي زده کوونکو ته را اوښتې د جلب او جذب له پاره هم په دغو برخو کي زياتي هلي ځلي رواني وې. نو طبعي خبره ده چي زما پلار چي ټوله کورنۍ ئې د کلونو کلونو په اوږدو کي د سياست په ډګر کي ولاړه او په دغه لاره کي ئې ستونزي او بندونه ګاللي او د ويښ ځلميانو د سياست او مبارزې راوروسته ئې د مترقي ديموکرات د سياسي فعاليت لار غوره کړې وه د سټېج پر سر د تبليغاتو تر څنګ ئې د جلب او جذب له پاره هلي ځلي

کولې چي په هغه جمله کي ئې زما څخه هم د مرستي غوښتنه کوله خو زه چي د هغه وخت د کيڼ اړخي سياست تر اغېزې لاندي راغلی وم او د مرحوم ظاهر افق تر څنګ مي د نورو کيڼ اړخو يارانو سره اړيکي درلودلې نو مي تل په کور کي د مرحوم بڅرکي سره هم د خپل وخت پر روان سياست او اړوندو مسايلو خبري او مباحثې کولې خو په ځينو برخو کي موږ واحد نظر او توافق نه درلودی ځکه نو په اغلب ګمان ده دا موضوع له مرحوم ميوند وال سره طرحه کړې او دې نتيجې ته سره رسېدلي دي چي زه به د ميوندوال سره مخامخ د هغه وخت پر اړوندو سياسي او ټولنيزو مسايلو خبري وکړم. څو چي يوه ورځ مرحوم بڅرکي راته وويل چي ميوندوال غواړي ستا سره خبري وکړي، نو ئې نېټه، ټاکلی وخت او ځای را وښود.

زه هم له وعدې سره سم د ده کور ته چي د کارته پروان د بهارستان سينما ته ئې نژدې موقعيت درلودی، پر ټاکلي وخت ورغلم. مرحوم ميوندوال زما د ورتګ څخه مخکی په سالون کي منتظر ناست وو.

تقريباً د درو ساعتونو په جريان کي مو د هيواد د هغه وخت پر ناخوالو او حل لارو باندي خبري او تبصرې وکړې. مرحوم ميوندوال صاحب روان حالات په ډېره ساده او فصيحه ژبه راته بيان کړل او د ځوانانو پر ونډه او مسئوليتونو باندي ئې هم کافي خبري وکړې.

څرنګه چي د سوسيال ديموکراټ مرام چي ما پخوا لا هم مطالعه کړی وو د خلک د ډيموکراتيک ګوند له مرام څخه ئې ډېره فاصله نه درلوده دوی هم د کښتي طبقې پر حاکميت او د سوسياليزم پر جوړښت باندي ټينګار کاوه. په واقعيت کي زما د پوښتنو زياته برخه پکښې حل وه خو يوازېنۍ پوښتنه چي ما ته ناحله پاته وه هغه د ګوند بهرنۍ پاليسي وه. ما مرحوم ميوندوال ته دا پوښتنه طرحه کړه چي نن ورځ نړۍ پر درو برخو وېشل سوې ده: امپرياليستي نړۍ، سوسياليستي اردګاه او د دريمي نړۍ د ودي په حال کي هيوادونه (د اسيا، افريقا او لاتيني امريکا هيوادونه). ما دا پوښتنه ځني وکړه چي:

تاسو ته معلومه ده چي د دريمي نړۍ هيوادونه په يوازي ډول نه سي کولای چي په تېره بيا په اقتصادي ډګر کي پرته د نړۍ د نورو پرمختللو صناعتي هيوادونو له مرستي څخه، پر خپلو پښو ودرېږي ځکه نو د افغانستان په شمول پرمختيايي هيوادونه د

پرمختللو صناعتي هيوادو مرستي ته اړ دي. له همدې امله ځيني هيوادونه د شوروي اتحاد سره نژدې اړيکي لري او د هغوی له مرستو څخه ګټه اخلي، ځينو بيا له سرمايه داري هيوادونو سره اړيکي ټينګي کړي دي نور ئې بيا د چين پر مرستو تکيه دي. نو يو ګوند هم داخلي پاليسي او هم بهرنۍ پاليسي لري. ستاسو د سوسيال دموکرات په مرام کي دغه خارجي پاليسي له کومو هيوادونو سره پر نژدې اړيکو تکيه ده او يا مو کوم هيوادونه بايد د هيواد د عام المنفعه پروژو په تطبيق کي مرسته وکړي ما ته واضح معلومه نه سوه؟

مرحوم ميوندوال په ډېره ارامه لهجه په دغه هکله زيات تفصيل راکړ خو د خبرو خلاصه ئې دا وه چي زموږ خارجی پاليسي آزاده او مستقله ده په هيڅ يوه هيواد پوري ځانونه نه تړو. له ټولو شتمنو او پرمختللو هيوادونو څخه د مرستي غوښتونکي يو. څرنګه چي زما په اند په هغه وخت کي په تېره بيا د دريمي نړۍ هيوادونو د يوه ستر اقتصادی ځواک د اغېزې پرته، نه سوای کولای چي د اقتصادي پرمختيا پر لور چټک ګامونه واخلي نو د دريمي نړۍ د ودي په حال کي هيوادونه مجبور وه چي بهرنۍ اقتصادي پاليسي يا د سوسيالستي اردوګاه د مرستو او يا هم د لوېديځو صناعتي هيوادونو سره د اړيکو پر بنسټ رامنځته کړي چی په دغه ځای کي زموږ تر منځ د نظر توپير را منځته سو او په نتيجه کي زه د مساوات پر سياسی لين و نه رغښتم.

**له حفيظ الله امين سره سياسي مناقشه:**

کله چي د هغه وخت له ډيموکراسی څخه په ګټه اخستلو سره په ۱۳۴۳ کال کي د خلک دموکراتيک ګوند لومړۍ کنګره جوړه او سياسي علنی فعاليت پيل سو، د هيواد د ګوټ ګوټ منورينو د هيواد د ناخوالو د له منځه وړلو په مقصد ، په دې ګوند کي د يوه واحد سنګر په توګه، يو په بل پسې سره را ټول سول.

خو ورو ورو په ګوند کي د يو لړ سليقوي توپيرونو پر بنسټ د بېلتون نښي نښانې راڅرګندي او په ۱۳۴۵ کال کي د خلق ګوند عملاً په لومړي سر کي پر دوو او بيا وروسته پر ډېرو نورو ښاخونو وويشل سو.

دا زما د فاکولتې د دريم يا څلورم ټولګي (۱۳۵۱) زمانه ده چي په ګوند کي دننه

مبارزې زور اخیستی او د ګوند غړي د نورو پوښتنو تر څنګ د پرچم د ښاخ سره د توپیرونو علتونه څېړي او د ګوند دواړه انشعابي ښاخونه په دې متهم دي چي پرته د تیوریکي بېلتون څخه نه یوازي دا چي سره بېل دي بلکي یو د بل پر ضد نه پخلا کېدونکې مبارزه کوي.

په همدې اړوند د مرحوم حفیظ الله امین سره زموږ د ګوندي حوزې پنځو تنو چي په راس کي مو خدای بخښلی شامحمود حصین وو، د کوټه سنګي د جادې د یوې څو پوړیزي ودانۍ د لوړ پوړ په یوه کوټه کي، غونډه ونیوله. په غونډه کي تر اوږدو او جنجالي بحثونو وروسته چي د ملی دموکراسۍ او خلقي دموکراسۍ پر سر را پیدا سوي وه، غونډه په تاوتریخوالي واوښته په تیره بیا کله چي مرحوم شاه محمود حصین د حفیظ الله امین کمیس یا نیکټایي ته لاس ورواچوی.

امین غوښتل ثابته کړي چي د خلق او پرچم تیوریک بېلتون دا دئ چي موږ (خلقیان) خلقي دموکراسي د کارګري طبقې په رهبري غواړو په داسي حال کي چي پرچمیان پر ملي دموکراسي ټینګار کوي .... خو په واقعیت کې د خلق په جریده کي له چاپ سوي مرام څخه د خلق او پرچم دواړو خواوو دفاع کول.

باید وویل سي چي حفیظ الله امین د ثور د انقلاب او سیاسي قدرت ته د رسېدو وروسته هم د خپلو سیاسي مخالفینو د له منځه وړلو له پاره لستوني راونغښتل او یو په بل پسې د ګوند دننه او له ګوند څخه بهر خپل مخالفین تهدید، بندیان او یا هم ووژل چي په دې لړ کي ئې پورتنۍ ترخه خاطره هم هېره نه کړه لکه مرحوم شاه محمود حصین چي لیکي: "من از مخالفین امین بودم، اولین ضربه را از او در دورانی یافتم که هنوز نورمحمد تره کی بر سر قدرت بود. مرا به جهت سر به نیست کردن بنام ګروپ تبلیغ به ولایت وردګ فرستاد. افرادی را به ترورم ګماشته بود. در آخرین فرصت پلان ترور توسط رفقایم کشف و خنثی شد. این شب همان روزی بود که نورمحمد تره کی را به شهادت رساند. فردایش مرا به کابل خواستند. نخست خلع سلاح و بعد دستګیر و بحد کافی شکنجه و عذاب دادند. و بالاخره با فرستادن به پلچرخی حکم اعدام مرا دستور داد که فرصت تحقق آنرا نیافت و حوادث از ریشه چیزی دیګری شد." (مثلث بی عیب، ص ۱۳۶ اثر مرحوم شاه محمود حصین)

**له ښاغلي صالح محمد زيري سره لومړی کتنه:**

دا نو هغه وخت دئ چي د خلک دموکراتيک ګوند کي يو لړ نارضايتونه او پوښتني لکه د ګنګرې نه جوړېدل، د اساسنامې نه تطبيق، پرته له تيوريک اختلاف څخه د خلق او پرچم انشعاب او داسي نور يو لړ هغه مسايل چي د ګوند په دننه مبارزه پوري ئې اړه لرل ...، را منځته او د تودو بحثونو سبب سوي وه.

زه چي په دغه وخت کي د ښوونځي د يوولسم ټولګي زده کوونکی وم (۱۳۴۶ کال)، د پلار او نيکه (مرحوم محمدعلم بځرکي او مرحوم محمد انور خان اڅکزي) د مبارزو د سياسی تاريخ او د هغوی د افکارو تر اغېزې لاندي راغلی او د سياست او هيواد ته د خدمت احساس را پيدا سوی وو، پورتنيو پوښتنو ته د ځواب موندلو په لټه کي وم.

که څه هم په دغه هکله ما د مرحوم ظاهر افق او يو شمېر نورو هغو کسانو سره چي په ګوند کي ئې د دنني مبارزې له لاري د اصلاحاتو او ناخوالو د له منځه وړلو له پاره هلي ځلي کولې، بحثونه کړي وه خو په دغه هکله د زيري صاحب د نظر او استدلال د اورېدلو لېوالتيا هم راسره وه ځکه نو يوه ورځ ډاکتر صالح زيري ته چي په هغه وخت کي د کندهار په محبس کي بندی وو، ورغلم.

هغه هم راووتی او دروازی ته نژدې د پيره دار تر نظارت لاندي په يوه ګوښه کي کښېنستلو د روانو حالاتو او عمومي خبرو اترو وروسته مي د ګوند د دننه ستونزو او پورتنيو پوښتنو په اړوند سوالونه طرحه کړل. په نورو خبرو ستاسو وخت نه نيسم خو يوه جمله چي زما هيڅ وخت نه هېرېږي هغه دا وه چي ده راته وويل:

"دغه چي کنګره ولي نه جوړېږي؟ يا ولي ګوند د سليقوي مسايلو له مخي سره بېل دئ او داسي نور انتقادونه چي اوس په ګوند کي د ځوانانو له خوا رامنځته سوي دي ټوله پر ځای دي خو څوک خپل خښتګ په خاده نه ځړوي." چي دا ښايي لږ يا ډېره د کندهار اصطلاح وي. يعني بايد خپل عيبونه د ګوند دباندي رسوايي ته را ونه باسو.

بيا نو کله چي زېری صاحب تر انقلاب وروسته معتبره سو بيا مي نه دئ ليدلی خو کله چي زما پلار مرحوم محمدعلم بځرکی وفات سو له لندن څخه ئې د فاتحې د عذر په مناسبت تليفون راته وکړ او پوښتنه ئې وکړه چي ته د بځرکي صاحب کوم زوی يې؟ ما

بیا د محبس د لیدلو خاطره وریاده کړه ....

**د مرحوم نورمحمد تره کي سره لومړی او وروستی کتنه:**

په پوهنتون کي د ژبو او ادبیاتو فاکولټې د ژورنالیزم څانګي د دوهم ټولګي زده کوونکی (۱۳۴۹ کال) یم. د پوهنتون ګرمه سیاسي فضا او زما ځانګړي علاقه د دې سبب سوه چي د نورمحمد تره کي سره ووینم څو چي د ارتباط د غړي خدای بخښلي کاظم ملوان په مرسته مي د لیدو وخت او ځای تثبیت سو یعني د ماپښین پر څلورو بجو د ده کور ته چي په کارته چار کي واقع وو د مرحوم کاظم ملوان سره یو ځای ورغلم.

چي خبري را لنډي کړم په ډېر ورین تندي ئې د پوهنتون د چاپېریال د اړوندو سیاسي حالاتو په هکله د نظر تر تبادلې وروسته ئې د مبارزې او په تېره بیا د سازماني مبارزې پر ضرورت د ټینګار په ترڅ کي وویل: چي د هیواد د سمسورتیا له پاره هلي ځلي او مبارره ډېر خوند کوي. ما ورته وویل درسته ده خو زه نه غواړم چي د خوند له پاره مبارزه وکړم او دغه لاره مي د خوند په خاطر نه ده غوره کړې بلکي پوهېږم چي په دې لاره کي له تهدید څخه نیولې تر بندي او وژل کېدو پوري، ستونزي موجودي دي. په جواب کي ئې راته وویل چي دا بندیخانه ئې هم خوند کوي.

**د ښاغلي رشید ارین سره:**

د ښاغلی رشید ارین سره مي په تېره بیا د کندهار په پښتونستان هوټل کي چي په هغه وخت کي د منورینو د راټولېدو او بحثونو مرکز وو، ډېر سیاسي بانډارونه کړي دي.

ارین صاحب د سیاسي پوهي تر څنګ د خبرو ظرافت او ټوکي مزاج هم لري. د مثال په توګه یو وخت چا پوښتنه ځني وکړه چي ارین صاحب دا حرکت تعریف کړه. ده جواب ورکړ: "حرکت دا دئ چي پر مخ ځه پر شا راځه کونه کبره وبره کوه."

د ۱۳۴۶- ۱۳۴۷ کلونو را وروسته چي د ګوند په دننه کي انتقادي څپې راپورته سوې هغو کسانو ته چي د ګوند پر ځینو اشخاصو او یا کړنو باندي ئې نیوکي کولې، د انتقادیونو په نوم یادیدل چي په لومړي سر کي ارین صاحب هم د زیاترو نیوکو سره موافق وو او کله کله ئې حتی تره کی صاحب ته هم د ترپ خطاب کوی خو بیا

وروسته ئې له انتقادیونو څخه ځان لیري او د خلق پر ګوند باندي ئې نیوکي نه پېرزو کېدې.

یوه ورځ په پښتونستان هوټل کي ناست وو یو چا ورته وویل چي آرین صاحب تا خو څه موده مخکی ویل چي تره کی ترپ (مولی) دئ. ده ځواب ورکړ: "زه اوس هم وایم چي ترپ دئ خو که ئې څوک وخوري بیا ګوزونه په اچوی."

دغه راز د پښتونستان په هوټل کي یوه ورځ د خلق د ګوند د ځنیو غړیو تر منځ د سیاسي بحثونو په ترځ کي له انتقادیونو څخه کوم چا د خلق جریدې مرام د سند په توګه له جیبه راوایستی او نورو ته ئې د خپلي ادعا د ثبوت په مقصد ورښکاره کړ، خو د مقابل لوري یو تن چي جسماً تر نورو قوي وو له هغوی څخه اخبار په زوره واخست او ولاړی. د اخبار څښتن ورپسي رېغ کړه چي ستا ارین خو به هم بیا عینکي را څخه پر سترګو نه کړي. یعني مور به ئې هم عینکي په زوره ځنی واخلو. هغه وو چي دوی هم د ارین کور ته ورغله آرین صاحب چي دروازه ورخلاصه کړه سم دستي ئې عینکي له سترګو څخه ایسته کړې او هغوی ته ئې ونیولې چي واخلئ په عینکو پسي راغلي یاست؟

دوی ته هم خندا ورغله او بیا ئې اصلي جریان ورته ووایه.

**له مرحوم ډاکترزرغون سره مجلس:**

ډاکتر زرغون چي د خوست په سیمه کي په لینن کوچک مشهوره وو، په تېره بیا د پوهنتون په مرکزي لیلیه کي به ئې په غونډو او میټنګونو کي بیانې ورکولې او د خلقیانو د ګوند له دریځ څخه ئې کلکه دفاع کوله. ما به کله کله د لیلیې په طعام خانه کي د ډوډۍ پر وخت پر ځینو ورځنیو مسایلو باندی بحث او مناقشه ورسره کوله.

ډاکتر زرغون که څه هم له ګوند څخه د انتقادیونو په مقابل کي کلکه دفاع کوله خو بیا هم د ګوند د رهبرۍ د پرېکړې پر اساس دی ازمایشي مقام ته په جزایي ډول راکښته او وروسته له ګوند څخه اخراج او په ټولو ګوندي غونډو کي ئې خبر خپور سو.

ما ته چي د ګوند سره د ده وفاداري رامعلومه وه نو دې خبر بیخي حیران کړی وم څو چي یوه ورځ چي له لیلیې څخه پل باغ عمومي ته په سرویس کي روان وم د ډاکتر زرغون سره په سرویس کي پر یوه چوکۍ کښېنستم نو مي سمدستي ورته وویل چي:

"ډاکټر صاحب اوس خو به هغه زموږ انتقادونه او نیوکي چي په ځینو برخو کي مو پر ګوند باندي درلودلې درستي بولې ځکه چي دا دئ تا ته ئې هم بې موجبه جزا درکړه...."

خو ده په ځواب کي راته وویل: "نه زه اوس هم هغه سړی یم د ګوند د یوه عسکر په توګه دنده سر ته رسوم." نو زه طبعاً متعجب سوم چي دا څنګه کېدای سي چي حزب ئې د ناوړتیا او بې کفایتی په جرم له ګوند څخه شړي خو دی بیا هم د اعتراض په توګه څه نه وايي!

په پای کي زه پوه سوم چي قصه داسي وه:

کله چي د (مسټر بیل) په نامه یوه رساله په ګوند کي خپره سوه د نورو مسایلو تر څنګ د شاهي رژیم او کورنی سپکاوی هم پکښي سوی وو چي د دې کورنی درد او خښم ئې را پارولی او ګوند ئې له ګواښ او خطر سره مخامخ کړی وو.

مرکزي کمېټې له دې ګواښ څخه د مخنیوي په مقصد یوه عاجله غونډه جوړه کړه چي په پای کي پرېکړه وسوه چي موږ د چارواکو د نیوکو او ګواښونو څخه د خلاصون یوه لاره لرو هغه دا چي د ګوند یو پېژندل سوی کدر ورمعرفي کړو چي دغه شخص زموږ له مشورې پرته نوموړی اثر خپور کړی دئ ځکه نو موږ هغه  شخص دا دئ اوس په جزايي توګه له ګوند څخه وشړی.

کله چي مرکزی کمېټې دا پرېکړه ومنله بیا نو د شخص پر سر مباحثې پیل سوې چي دا کتاب پر چا تاوان سي. تر یو او بل وړاندیز وروسته امین چي ډېر ځیرک سړی وو، و ئې غوښتل چي په یوه تېک دوه نښانه وولي نو ئې ډاکټر زرغون، چي د ګوند په داخلي مبارزه کي د ده سرسخت حریف وو، ورپیشنهاد کړ څو چي نورو هم دا وړاندیز ورسره قبول کړ او په دې ډول مرحوم زرغون له ګوند څخه په مصنوعي او فرمایشي ډول وشړل سو. زرغون چي په دې جریان خبر وو نو د شړلو په وخت کي ئې هم د ګوند دفاع کوله. خو بیا ئې تر پایه دا چانس پیدا نه کړ چي په ګوند کي بیرته خپل حیثیت اعاده او مقام تر لاسه کړي څو چي په پای کي د حفیظ الله امین د قدرت په وخت کي بندي او ووژل سو.

**ښاغلی سلیمان لایق:**

له لایق صاحب سره مي په تېره بیا هغه وخت اړیکي پیدا سوې چي د (۱۳۶۴ –

۱۳۶۶) کلونو په اوږدو کې مې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د نشراتو د ریاست دنده پر غاړه اخستې وه.

او لایق صاحب د علومو اکاډمۍ عمومي رئیس وو. وظیفوي اړیکو ایجابول چي په میاشت کي تقریباً دوه ځله په تیره بیا د رئیسه هیئت په غونډو کي د اکاډمۍ د نورو ځانګو د رئیسانو په ګډون د اړوندو چارو په هکله د پرېکړو په مقصد، پر یوه میز سره راټول سو.

که تر نورو څرګندونو تېر سم دا یوه خبره ئې زما په ذهن کي ثبت ده چي لایق صاحب د رئیسه هیئت په غونډه کي یوه ورځ موږ ته وویل:

"ګورئ تاسو خو ما ته هره ورځ یو شمېر کاغدونه د لاسلیک له پاره راوړی او زه ئې هم پرته له دې چي هر مکتوب په دقیقه توګه ولولم در امضا کومه. خو تاسو بې قانونه شیان په ما مه لاسلیکوئ. که څه هم زه په دې پوهېږم تر څو چي دا نظام وي څوک زما څخه پوښتنه نه کوي. خو که یو وخت دا رژیم نه وي بیا نو هغه وخت ښایي زه خپله هم نه یم ...."

باید ووایم چي پورتني اشخاص ټوله ما ته د قدر وړ دي دغه پورتنۍ څرګندوني د هغوی د شخصیت د کمزورتیا په مقصد نه دي سوي بلکي فقط او فقط ناویل سوي واقعیتونه او زما شخصي خاطرې دي او بس.

د پیاوړي، آزاد او پرمختللي افغانستان په هیله

# ماخذونه


1. المنشی، محمود الحسینی، تاریخ احمدشاهی.
2. جهاني، عبدالباري، تاريخي څېړني.
3. گنډاسنگهـ، درانی احمدشاه.
4. نومیالی، محمدانور، د پښتنو د ټولنيز تاريخ مبادي، ماسکو ۱۹۹۷، ۳۷ مخ.
5. عطايي، محمدابراهيم، د اکادميسن کانديد، د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه، دوهم مخ.
6. الفنستن، د کابل سلطنت بيان، د کاکړ ژباړه، کابل.
7. درويزه اخوند، تذکرة الابرار والاشرار.
8. روهي ويب پاڼه ۵-۱۱-۲۰۱۴.
9. هروی، خواجه نعمت الله، تاریخ خان جهانی و مخزن افغانی، ټوک ۱.
10. سادات سيد ذاکر شاه، د ۲۰۱۷ کال د مای د مياشتي يوولسمه نېټه، فيس بوک.
11. کاکاخېل، بهادرشاه، پښتانه د تاريخ په رڼا کښې.
12. Olaf. Cario The Pathns 550BC AD 1957 page 5 (انگلیسی متن)
13. سراورلف کارو، پښتانه، ژباړن کريمي شېرمحمد.
14. Bellew, Henry W, An inquiry in to the Ethnography of Afghanistha 1908 Lahor page ۱۹۷
15. تاريخ کامل ۲۷۲ مخ.
16. حبيبي، عبدالحی، پوهاند، د ملتان شاهي لودي کورنی، پښتو څېړني، د پښتو څېړنو بين المللی مرکز، دولتی مطبعه، کابل، ۲۷ مخ.
17. ونسيتارت، آسيايي څېړني، دوهم ټوک، ۶۷ مخ، ۱۷۸۴ کال.
18. رابنز، د ژبپوهني لنډ تاريخ، ۱۳۴مخ.

19. برنز، الکسندر، بخارا ته سفر، لومړی ټوک، ۱۶۲ – ۱۶۴ مخونه، لندن ۱۸۳۴م کال.
20. برنز، کابل، ۱۰۹ مخ، لاهور دوهم چاپ، ۱۹۶۱ م کال، لومړی چاپ، لندن.
21. مورکرافټ، ویلیم، سفرونه، دوهم ټوک، ۳۵۳ مخ.
22. میسن چارلز، د مختلفو سفرونو خاطرات، لومړی ټوک، سریزه ۴۱-۴۲ مخونه.
23. روزی، جورج، افغانان، لس قبیلې او د شرق سلطانان، ۲۴- ۷۹ مخونه.
24. BELLEW AN INQUIRY IN TO THE ETNOGRAPHY OF AFGHANISTAN
25. بیلیو، د افغانستان د قوم پیژندني مطالعه، ۱۹ مخ.
26. پوهاند ډاکتر تړی، حبیب الله، پښتانه، ۱۵ مخ.
27. راورټي، د افغانانو د اصل او ریښې په باره کې ځیني تبصرې، د بنګال د آسیایي ټولني مجله، ۱۸۵۴ کال، ۶ نمبر.
28. راورټي، پښتو ډکشنري، مقدمه، ۱۱- ۱۲ مخونه.
29. الفنستون، د کابل سلطنت بیان، ۱۵۴ مخ.
30. د فرالنګ ساینس آف ریلیجین، ص ۳۹.
31. د ویری هندی پوهنی ۱۷ جلد ۱۹۸ ص.
32. د یهودیانو تاریخ، ۲۲۴/۲۳۲ مخونه.
33. حدودالعالم من المشرق الی المغرب، ۳۷۲ مخ.
34. ابوالفضل، آئین اکبري، انګریزي ژباړه، دوهم ټوک، ۷ - ۴ مخونه.
35. فرشته، محمدقاسم، تاریخ فرشته، د برګز ژباړه، ۱- ۴ مخونه.
36. ډورن، د افغانانو د تاریخ یاداښتونه، ۶۶ مخ انګریزي.
37. تمدن هندی: ۱۸۴ مخ.
38. حبیبي، عبدالحی، پوهاند، د پښتو د ادبیاتو تاریخ ۲۴ مخ.
39. یانسون توري، د ژبو تاریخ، د داود هوتک پښتو ژباړه، ۴۶ مخ.
40. رشاد، پوهاند عبدالشکور، پښتانه . پټان، وړمه، کابل پوهنتون، ۱۳۵۴ هجري شمسي، ۳ کنه ۱۹-۲۱ مخونه.
41. کارو سراولف، پښتانه (پټان) ژباړه الحاج شېرمحمد کریمي.

42. غبار، میر غلام محمد، افغانستان در مسیر تاریخ، لومړی ټوک، ۳۶ مخ.

43. ډورن، د افغانانو تاریخ، یاداشتونه، ۵۱- ۵۴ مخونه.

44. راورټي، پښتو ډکشنري، سریزه، ۱۲مخ.

45. روزی جورج، افغانان، لس قبیلې او د شرق سلطانان، ۳۵ مخ.

46. یاد، ډاکټر لطیف، پښتانه وپېژنئ، نهم مخ.

47. نومیالی، محمد انور (د اکادمیسن کاندید)، د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي، ۷۰ مخ.

48. بخرکی، محمدعلم، آمو جریده، څلورم کال لومړۍ ګڼه، ۲۹/ ۳/ ۱۹۹۸ ډنمارک د هالبیک ښار.

49. تاریخ الطبری البدایة التاریخ الاسلامی ویکیپیډیا.

50. زما د شخصي یاداښتونو. (په تېره بیا کله چې مې ۱۳۶۵ کال کې د علومو اکاډمۍ د لرغون پېژندنې د څانګې له خوا د یوې علمي څېړنیزې پروژې «مندیګک او د هغه اړیکې له سیند او بین النهرین سره) د بشپړولو په مقصد هندوستان ته تللی وم، څه ناڅه یاداښتونه راټول کړي او د دې اثر په لیکلو کې ګټه ځنې اخستل سوې ده. د کتاب لیکوال)

**پای**